
د انار تروني لاندې د تورښتو اوښک
ليکوال: احمد ضياء سيامک
ژباړونکی: علم گل سحر

# دانار تر ونې لاندې دتورنتو اوښکې

لیکوال: احمد ضیا سیامک هروی

ژباړونکی : علم ګل سحر

**کتاب پیژندنه:**

\-----------

**دکتاب نوم : دانار تر ونې لاندې دتورنتو اوښکې**

**لیکوال: احمد ضیا سیامک هروی**

**ژباړونکی : علم ګل سحر**

**خپرونکی : د ستر فولکلوریست ارواښاد محمد ګل نوري کلتوري مرکز**

**دچاپ شمیر :۱۰۰۰ ټوکه**

**کمپوز : ع سحر**

**اشکهای تورنتو در پای درخت انار**

**یو په زړه پورې ناول**

(اشکهای تورنتو در پای درخت انار) دهیواد دتکړه لیکوال او ژورنالست سیامک هروي ناول دی چې په دې وروستیو کې په ښکلې قطع اوصحافت په کابل کې چاپ شوی دی .

((اشکهای تورنتو در پای درخت انار)) په وروستیو کلونو کې ددري ژبې دچاپ شویو ناولونو په ډله کې یو بې ساری ناول بللی شو.

دناول دکیسې لنډیز: ماري یوه کاناډایي ډاکټره ده چې دتورنتو ښار په یوه روغتون کې دسترګو دیوې بریالۍ ډاکټرې په توګه دنده سرته رسوي،دروغتون رهبري پریکړه کوي چې ماري کندهار ولایت ته چې پکې کاناډایي ځواکونه میشت دي دروغتیایي خدمتونو دسرته رسولو لپاره واستوي.دافغانستان او کندهار په اړه دماري معلومات یوازې دمطبوعاتو ترخبرونو پورې محدود دي دا دوه زړې ده ددې خاوند (دیوید)اوزوی یې(جان) هم ددې دنوې دندې مخالفت کوي. ماري د(حبیب) په نامه له یو ه افغان څخه چې ددې دکور خواته پیتزا خرڅوي او دا تل دپیتزا لپاره دهغه دکان ته ورځي هیله کوي چې دافغانستان او ددې هیواد دیوه لوی ولایت کندهار په اړه زیات معلومات ورکړي له هغه سره تر خبرو وروسته ماري دغې دندې ته زړه ښه کوي خپل خاوند اوزوی ته هم قناعت ورکوي چې څلور میاشتې دومره زیاته موده نه ده دسترګو په رپ کې به تیرې شي.

ماري کندهار ته راځي دلته له کاناډایي سرتیرو او خپل موظف ژباړونکي جاوید سره اشنا کیږي او په کار پیل کوي ،دادخپلو سرتیرو ترڅنګ محتاج افغانان هم تداوي کوي له داسې ناروغانو اوپیښو سره مخ کیږي چې تراوسه یې نه وې لیدلې او ددې دحیراني سبب کیږي. ددې دژباړونکي پلار (عبدالباري) چې له روسانو سره دجهاد په وخت کې یې دواړه سترګې ړندې شوې نه غواړي چې سترګې یې جوړې او دنیا پرې ویني.دجاوید کور دپنجوایي په ولسوالي کې دی چې له خپلې کورنۍ پټ له کاناډایي ځواکونو سره کارکوي دده یو ورور (تورپالی) دسرکونو اینجنیر دی او بل ورور یې(اسماعیل) نومیږي او په سیمه ایز ښوونځي کې زده کړې کوي له خپلې یوې کلیوالې(مریم) سره چې پلار یې(( داوود))دده دپلار ډیر نږدې ملګری دی مینه لري خوطالب قوماندان ددغې نجلۍ پلار مجبوروي چې دمریم دسمال ده ته ورکړي. داوود چې صمد اخوند یې له پخوا ښه نه ایسي دخپلې لور دژغورنې لپاره مجبوریږي دخپلې لور دسمال داسماعیل مشر وررورتورپالي په لاس کې ورکړي. تورپالی په کابل ښار کې له یوې بلې نجلۍ سره مینه لري ددغې پریکړې سخت مخالفت کوي خودپلار پریکړه نه شي ردولی او

دکلي د دود له مخې مجبوریږي دغه واده ته تن کیږدي.وررور یې اسماعیل چې له مریم سره ډیره مینه لري دواده په ورځ له کلي څخه تری تم کیږي پاکستان ته ځي هلته دملا صمد په مرسته په مدرسه کې شامليږي ،ماري ددې لپاره چې دخپل ژباړونکي پلار دسترګو دعملیاتو لپاره چمتو کړي په پنجوایي کې ددوی کورته ځي خو عبدالباري نه غواړي دبهرنیانو له خوا خپل هیواد پخپلوبینا سترګواشغال شوی ویني ،څه وخت وروسته دعبدالباري زامن،وررور او دده نږدې ملګری داوود ټول راځي او کوښښ کوي چې عبدالباري ته قناعت ورکړي چې خپلې سترګې عملیات کړي په همدې شپه یې ورک زوی اسماعیل هم له پاکستانه راځي په پای کې عبدالباري هم دسترګو عملیاتو لپاره خپل تیاری ښیي ماري یې په ډیره مهرباني سره دسترګو عملیات کوي ،دی لا په روغتون کې وي چې دکندهارــــ پنجوایي دسرک دپرانیستلو په مراسمو کې اسماعیل ځانمرګی برید کوي په دې پیښه کې تورپالی او جاوید وژل کیږي ،ماري سخته ټپي کیږي او دلاس ګوتې یې پرې کیږي)

ناول په داسې جملو پیل شوی دی چې لا په پیل کې دلوستونکي تلوسه راپاروي:

(طیاره‌ی نظامی اردوی کانادا به هوا برخاست و به نرمی از روی درختان سرو و چمن‌های سبز گذشت، به ساختمان‌های سر به‌فلک کشیده‌ی شهر رسید و با عبور از روی شهر، در غروب زیبای تورنتو گم شد.

ماری که در کنار پنجره نشسته بود با دور شدن از تورنتو، کتابی را ازکیفش بیرون کرد و شروع به ورق زدن کرد. این کتاب در باره‌ی افغانستان بود. ماری برای اولین بار فهمید که قندهار یکی از ولایت‌های بزرگ افغانستان است و در گذشته‌های دور برای سال‌های متوالی پایتخت بوده و راه ابریشم از آنجا می‌گذشته است ..)

لوستونکی چې دغه دپیل جملې لولي په ذهن کې یې ګڼې پوښتنې راولاړیږي پوهیږي چې دناول اتله افغانستان ته په سفر تلونکې ده داچې دې ته به څه وریپېښ شي او دڅه لپاره دې هیواد ته روانه ده هغه څه دي چې لوستونکی دکتاب نورو پاڼو لوستلو ته رابولي.

همدغه تلوسه دناول ترپایه ساتل شوې ده .دا کتاب له هغو کتابونو څخه دی چې کله یې څوک لوستل پیل کړي نه غواړي ترې جلا شي او ترپایه یې لولي .

ددغه ناول یوبل ښه والی دادی چې حرکت لري پیښې یو په بل پسې راځي ډیرې اظافي خبرې چې په ځینو ناولونو کې ترسترګو کیږي په دې ناول کې نه لیدل کیږي.دکرکترونو او صحنو دمعرفي او ښودلو په وخت کې لنډوالی په پام کې نیسي دبیلګې په ډول دناول داصلي کرکټرې ماري په اړه وايي:( ماری ویلسون در شهر پر جمعیت تورنتو زندگی می‌کرد. او دست‌های جادویی داشت و جراح چشم بود. مردم زیادی از سراسر کانادا وحتا امریکا به‌خاطر بازیابی بینایی خود به او مراجعه می‌کردند)

زما په باور دماري لپاره همدومره پېژندنه بس ده داچې هغه دسترګو یو تکړه ډاکټره ده ځکه دهغې وروستي کارونه هم په همدې برخه کې دي دلته لوستونکی دهغې له نورو اظافي ځانګړنو سره کار نه لري.

دناول یوبل مرکزي کرکتر اسماعیل داسې په لنډو جملو کې راپیژني(اسماعیل در بین برادران بیشتر به پدر شباهت داشت. از دیگر برادرها کمی چاق‌تر بود و نسبت به آن‌ها قد کوتاهی داشت. او همیشه پیراهن خامک دوزی قندهاری می‌پوشید، کلاه موره دوزی به سر می‌کرد و صنف دوازدهم مکتب بود. اگرچه در مکتب پنجوایی نه معلم لایقی بود و نه درس جدی، اما اسماعیل تلاش می‌کرد تا از دیگر برادران عقب نماند و خوب درس بخواند.)

دلته داسماعیل له کرکتر سره سم هغه راپیژندل شوی دی.

ښاغلی هیروي دصحنو په ښه او لنډه راښودنه کې هم یوبریالی لیکوال دی وګورئ( ماری برای اولین بار بود، در راه از نزدیک با طبعیت و محیط قندهار آشنا می‌شد. او با دیدن باغ‌ها و مزرعه هایی که در راه پنجوایی یکی پشت دیگری با عبور موتر از مقابلش می‌گذشت، به وجد آمده بود و افسوس می‌خورد که در این طبعیت زیبا ناآرامی است. خانه‌های گلی گنبددار، برای ماری مسحور کننده بود و هزار سوال در ذهن ماری خلق شده بود، اما به دلیل احتیاط، از گپ زدن پرهیز می کرد و با هر تکان موتر که سرش به سقف موتر می‌خورد، بیشتر عصبانی می شد و با خود می‌گفت: شاید از همین خاطر باشد که زن‌ها در راه ی پنجوایی به چشم نمی خورند.)

په پورتنۍ او دې لاندینۍ بیلګه کې لیکوال له یوې خوا دپیښې صحنه په ښه ډول بیانوي ترڅنګ یې پیغام هم په ښه ډول پکې ځای کړی دی:

(انفجار مهیبی به وقوع پیوست و جمعیت در یک لحظه از هم متلاشی شد. خون، آتش و خاک در هم آمیخت. دود سیاهی به هوا بلند شد و

آژیرهای موترها به صدا درآمد. ماری به اثر شدت انفجار ده متر دور تر برروی تپه  ی ریگ پرتاب شده بود. مدتی گیج بود و نمی‌توانست بفهمد چه اتفاق افتاده است. آهسته سرخود را بلند کرد. گوش‌هایش دپ شده بود و چشم‌هایش ابتدا جایی را نمی دیدند...

از دسته‌های گل دیگر خبری نبود و طفل  ها یکی به روی دیگری درهم غلتیده بودند. او در میان انبوهی از دست و پای قطع شده و آدم‌های تکه پاره شده، جاوید را دید که نیم خیز می‌شود و دوباره نقش زمین می‌گردد. به نظرش آمد که «جان» پسرش با پیراهن آبی و پتلون کاوبای رنگ و رو رفته‌اش درخون می‌تپد. ماری فریاد کشید و چند بار با تمام نیرو «جان» صدا کرد و سپس به سوی جاوید دوید....)

د(اشک‌های تورنتو در پای درخت انار) ناول یوه بله ځانګړنه داده چې پیښې یې په مختلیفو ځایونو کې کیږي یو کرکتر پرېښودل کیږي لیکوال دناول دیوه بل کرکتر له حاله مورِ خبروي په دې ځای کې له لوستونکي سره دهغه بل کرکتر له حاله دخبریدوتلوسه پیدا کیږي په دې ناول کې کله چې ماري کندهار ته راځي پخپله دنده پیل کوي له خپل ژباړونکي جاوید سره معرفي کیږي په نورو صحنو کې مو لیکوال دجاوید دسیمې او کورنۍ له حالاتو خبروي په څو نورو برخو کې دهغه اړوندې پیښې بیانیږي لوستونکی دماري په اړه فکر کوي چې هغې ته به څه ورپیښیږي دناول لیکنې دغه طرز که همداسې ښه ولیکل شي تل بریالی وي.

ښاغلی سیامک هیروي پخپل ناول کې دناول لیکنې معیارونو ته پام ساتلی دپیښو ترمنځ منطقي تړاو موجود دی دپیښو لپاره منطقي زمینه سازي شوې ده او په تصادفي ډول نه دي رامنځ ته شوې .

دناول ډیالوګونه هم سره له دې چې دسیمې دخلکو په ژبه او لهجه نه دي لیکل شوي خو زیاتره ډیالوګونه یې لنډ او دناول دکیسې په پرمختګ کې مرسته کوي او دناول دکرکتر دموقعیت بیانونکي دي.دناول اصلي کرکتره کله ناکله دحبیب نومي افغان دکان ته دپیتزا دخوړلو لپاره ورځي په وروستي ځل چې دهغه دکان ته ورځي دغه ډیالوګ ددوی ترمنځ ویل کیږي:

(این بار به پیتزا خوردن نیامدم، آمدم با تو صحبت کنم.

حبیب با تعجب پرسید:

- راجع به چه؟

- راجع به افغانستان و رفتن به آن‌جا.

- نه نه من دیگر افغانستان نمی‌روم!

- می‌دانم تو دیگر به افغانستان نمی‌روی، این دفعه از من خواسته‌اند که بروم...

- نگفتند به کجای افغانستان؟

- چرا، گفتند قندهار.

حبیب فریادی از وحشت کشید:

- چه! قندهار؟

تر دې مکالیمې دمخه دانه ویل کیږي چې حبیب یو داسې څوک دی چې دجګړو له ویرې خپل وطن ته نه شي تللای بلکې دهغه وارخطایي او حالت په ډیالوګ کې څرګندیږي.چې دا دکتاب دلیکوال بریالیتوب ګڼلای شو.دغه راز لاندې ډیالوګ هم همداسې یوه بریالۍ بیلګه بللای شو: (ماری با لبخندی گفت:

- تورنتو واقعاً دوست داشتنی است.

و پس از سکوتی پرسید:

– قندهار چطور ؟

– قندهار هم دوست داشتنی است، اما این جنگ لعنتی از خلاصی نیست. از زمان جوانی پدران ما شروع و تا حال که ما به جوانی رسیده‌ایم، ادامه دارد..

– امیدوارم به زودی درکشور شما صلح و امنیت بر قرار و قندهار دوست داشتنی شما آباد شود.

جاوید با لبخند تلخی گفت:

– خانم ماری! سی‌سال است در وطن ما جنگ است جنگ! و ما عقب می‌رویم. خدا می‌داند که این عقب رفتن ما تا به کی ادامه پیدا می کند.

ماری گفت:

– جاوید! اگر همه جوان‌ها مانند تو فکر کنند و از جنگ تنفر داشته باشند، همین موضوع خود یک پیشرفت است.

جاوید با لبخندی گفت:

– متاسفانه همه مانند من فکر نمی‌کنند، تعدادی هنوز هم به جای درس و تعلیم، تفنگ به شانه دارند.)

دغه مکالمې هم لنډې دي او هم ویونکی خپله خبره په ښه ډول رسولې ده ددې ترڅنګ موجود حالات هم دکیسې دکرکترونو له خولې بیان شوي دي او دپیښنو په اړه دلیکوال بې طرفي چې دکیسه لیکنې مهم اصل دی ساتل شوې ده.

لیکوال په ټوله کې خپله بې طرفي ساتلې ده حالات لکه څنګه چې دی هغسې بیان شوي دي دکلي په خلکو دطالبانو زور زیاتي او دسیمه ایزې حکومتي ادارې ظلم په ډیره بې طرفي بیان شوي دي لیکوال دهیڅچا پلوي نه ده کړې دغه ډول لیکنې هم ناول دټولو لپاره په زړه پورې کړی دی او هم یې د داستان دپیښنو له ربنتیا غوندې توب سره مرسته کړې ده.

((اشک‌های تورنتو در پای درخت انار)) ناول کې پیغامونه په هنري ډول راوړل شوي دي .

ددې ناول پیغامونه زیات او تر ډیره حده نوي دي چې ډیر مهم یې مینه، دانسانانو ترمنځ ګډ تفاهم، دافغان میرمنو بدمرغي ،ناوړه رواجونه،نشه یي توکي،ځان غوښتنه او بشري حقونه یادولی سو.

ناول په هنري انداز دا په ډاګه کوي چې مور باید له خپل همنوع سره پوهاوی ولرو یوه بل ته دټوپک له میل څخه ونه ګورو دنورې نړۍ انسانان هم زموږغوندې عواطف لري خو ستونزه داده چې انسانان ځینې وخت پر یوبل بدګومانه وي او دنورو کړو وړو ته تل دشک په سترګه ګوري ((اشک‌های تورنتو در پای درخت انار)) ناول کې ماري جاوید ته دخپل زوی جان په سترګه ګوري او پر هغه دخپل زوی مینه ماتوي.( در سیت موتر، ماری جاوید را به آغوش گرفته بود و به او می‌گفت:

– «جان» تو را هیچ چیز نمی‌شود، تو را نجات می‌دهم. قوت داشته باش.

خون از شکم وسینه‌ی جاوید جاری بود و درحالی‌که سرش برشانه‌ی ماری خمیده بود، می‌گفت:

– مادر! شکم مرا درد گرفته. برایم دوا بده. تریاک نمی‌خورم.)

ماري دجاوید دپلار دتداوي لپاره ځان خطر ته ورکوي او په ډیرو ستونزو دهغه کورته ورځي ځو ورته قناعت ورکړي چې دخپلو سترګو عملیات وکړي.عبدالباري چې په لومړیوکې دناټو دپوځیانو دړندو بمباریو او دبې ګناه او ملکي خلکو دوژلو پړه هم په ماري

اچوي او هغې ته ديو دښمن په سترګه ګوري بيا وروسته چې وينې دهغې ګوتې په چاودنه کې زخمي او پرې شوې دي دزړه له کومي پرې خوابدی کيږي .ماري له دې پيښې وروسته دعبدالباري دسترګو دخلاصولو لپاره ورځي(ماری با جملات شکستهی گفت:

– عبدالباری آمدهایم تا چشمهای تو را باز کنیم.

عبدالباری درد و مصیبت را از این جملهی کوتاه ماری حس کرد و با نگرانی پرسید:

– تو را چه شده است؟

– چیزی نه، فقط بالایم چای داغ چپه شد و دست هایم سوخت.

– چه بد. حیف از این دستهای شفا بخش که سوخته. سوختگی خو عمیق نیست؟)

ناول ديوې ناکامې مينې بيانوونکی دی چې يوه افغانه پيغله دبدورواجونو قرباني کيږي دځپلې خوښې برخلاف بل ته واده کيږي او مين وطن پريږدي او هغه لنډۍ چې وايي(هلک مين شي وطن پريږدي = نجلۍ مينه شي مخ پټ کړي وژاړينه) ددغې مينې په داستان تطبيق کيدای شي.

ناول دکندهار دخلکو ميړانه ،ميلمه پالنه،دبل انسان لپاره قرباني اوځان تيريدنه هم په ښه ډول تصوير کړې ده .دناول کيسه دطالبانو او سيمه ايزحکومت دظلمونو پر وړاندې دکندهار دخلکودصبر،بردباري او مقاومت ښه ځرګندونه کوي.

په ناول کې ددوو پيښو يادونه شوې چې دنجلۍ پلار دځپلې لور دسمال دبل کورته ور وړي داچې يوازې دغه دوه استثنايي پيښې بيان شوې لوستونکی فکر کوي چې دکندهار دخلکو رواج به همداسې وي په داسې حال کې چې دا ډول ډير کم او په ډيرو استثنايي مواردو کې پيښيدای شي البته ليکوال يوازې همدا استثنايي پيښې يادې کړې دي همدغه خبره په کلي کې دنشه يانو دشته والي په اړه هم دګوت نيونې وړ ده په داسې حال کې چې زموږ په کليو کې که نشه يان وي هم ،دمشرانو او نورو کليوالود درناوي لپاره هرځای او په هره لاره کې چرس نه څکوي او زياتره پټ ګرځي.البته دلته هم ليکوال يوازې استثنايي موارد ياد کړي دي چې په ټولو دتطبيق وړ نه ده. په هر صورت ناول ليکونکی کولای سي داسې پيښې پخپل داستان کې زياتې کړي ترڅو يې کتاب لا په زړه پورې شي خو ښاغلي سيامک په دغو دوو مواردو کې بيا هم هڅه کړې چې په داستان کې يې واقعيتګرايي ترپوښتنې لاندې رانه شي.

ليکوال دناول دپيښو په بيانولو کې ډير بريالی دی لوستونکي ته داسې بريښي لکه ليکوال چې ډير وخت دکندهار په زياترو سيمو کې ګرځيدلی وي او دا دليکوال بری دی.

د(اشکهای تورنتو در پای درخت انار) ناول زموږ پر ادبياتو يوه ښه زياتونه ده په وروستيوپه هغو ناولونو چې په دري ژبه خپاره شوي دي او مالوستي دي دا ناول ترټولو په زړه پورې ناول دی .ليکوال ته مبارکي وايم او ددوی دلازياتو بريو هيله کوم.

علم ګل سحر

---

يادونه: دمخه تر دې چې دغه ناول په پښتو وژباړم پر هغه مې يوه مقاله ليکلې وه چې هغه وخت خپره شوه اوس دلته د ژباړن د سريزې په توګه رااخلم.(ع– سحر)

# ۱

دکاناډا داردو پوځي الوتکه هوا ته والوتله او ورو دسروو د ونواو شنوچمنونوپر سر تیره سوه،دښارجګو ودانیو ته ورسیده او له ښاره تر تیریدو وروسته دتورنتو په ښکلې مابښامنۍ تیاره کې نهامه سوه.

ماري چې له کړکۍ سره ناسته وه له بکس څخه یې کتاب راوایست او دهغه دپاڼو په اړولوبوخته سوه دا کتاب دافغانستان په باره کې و .ماري په لومړي ځل وپوهیده چې کندهار دافغانستان یو ستر ولایت دی او پخوا ډیرکلونه دافغانستان پلازمینه وه او دوریښمو لاره هم له دې ځایه تیریدله او دپاکستان دبلوچستان له ایالت سره ګډه پوله لري.

ماري دکندهار انځورونه چې له ځانه سره لرل یوپه بل پسې یې په دقت وکتل. ټول په دغه ښار کې دژوند او ښکلاوو ځرګندونکي ول.

ماري په افغانستان کې دجګړې پر مفهوم نه پوهیدله دا په دې پوهیدله چې کاناډایي سرتیري دیوې سترې دندې لپاره افغانستان ته تللي دي.دې هم دخپل خاوند او نوروکاناډایانو غوندې له ټلویزیونونو څخه دخپل هیواد دپارلمان دغړو اونوروسیاستوالوبحثونه اوریدلي ول چې ځینې یې ددغې دندې مخالف او یوشمیر نور یې هم په دې باور ول چې که په افغانستان کې امنیت رانه ولي ،په کاناډا کې به ددوی خپل امنیت له خطر سره مخ سي.

ماري دسپتامبر دیولسمي پیښنه را په یاد کړه:له مساپرو ډکې الوتکې یوپه بل پسې دنړیوال سوداګریز مرکز له برجونو سره ولګیدې او څو زره  انسانان یې له منځه یووړل.ماري نه شوای کولای وپوهیږي چې تروریستان څرنګ له دومره لیرې ځایونوڅخه لکه افغانستان اوپاکستان امریکا ته راورسیدل او دالوتکو په تښتولو اودنړیوال سوداګریز مرکز له برجونو سره یې دهغو په جنګولو سره له لویدیځ سره

دجګړې اعلام وکړ .دا له ځانه پوښتي:آیا موږ دومره زیانمنیدونکي یوچې څو تروریستان وکولای سي زرګونه کیلو متره لیرې زموږ امنیت په خطر کې واچوي؟

بله پوښتنه چې ماري یې ځواب نه درلود هغه په افغانستان کې دامنیت دټینګښت په برخه کې تر ټلویښت دزیاتو هیوادونو دهڅو پاتې راتللو موضوع وه .له ځانه یې پوښتل:ایاربښتیا موږ په افغانستان کې وچ ولاړ یو؟نور نو کیسه ختمه ده او القاعده او طالبان بیا واک ته رسیږي؟دا ټولې هغه پوښتنې وې چې ماري فکر کاوو ښایي په افغانستان کې هغو ته ځواب پیدا کړي.

له جګړې او ترور څخه دماري ذهن بل ځای ته ولاړ.هغې له ((دیوید)) او ((جان)) سره دخدای پاماني په شیبه فکر کاوو.دخدای پاماني په وخت دیوید دنور کله غوندې ماري ته ډاډ ورکړی و ویلي یې و(( خدای دې مل شه،په ځان پام کوه))جان چې آسمان رنګی کمیس او رنګ بایللی خو ښکلی کوبای پتلون یې اغوستی،مور یې ښکل کړې وه او ژړغوني یې ورته ویلي و:( مورې! تاته سترګې په لاره یم،ژر راشه))

## ۲

ماری ویلسون دتورنتو په ګڼ میشتي ښار کې اوسیدله .هغې جادویي لاسونه لرل او دسترګودجراحي ډاکټره وه ،دکاناډا له بیلابیلو سیمو او آن امریکا څخه به ډیر خلک دخپلو سترګو دبینایي دبیا لاس ته راوړلو لپاره هغې ته راتلل .ددې خاوند دیوید ویلسون دودانیو اینجنیر و.ماري او دیوید نولس کاله مخکې سره واده کړی و ،یو اوولس کلن زوی یې و چې ((جان)) نومیده ،دوه میاشتې دمخه په پوهنتون کې شامل شوی و او دنړیوالو اړیکو په برخه کې یې زده کړه کوله.

دوی ساحل ته نږدې کور درلود او دمخکیني پروګرام له مخې به یې دلته ښه وخت تیراوو.

ماري چې کارته ولاړه پام یې سو چې کاري پروګرام یې یوساعت ځنډیدلی دی ،پوښتنه یې وکړه ورته ویې ویل چې ریس غواړي هغه ووینې.

ډیر لږ به داسې پیښیدل چې دروغتون ریس دې له چا سره یوازې په دفتر کې وګوري دده عادت و،خپلې خبرې به یې په غونډو کې خپلو کارکونکو ته کولې او لازمې لارښوونې به یې ورته کولې.

ماري مخامخ دریس دفتر ته ورغله .سپین ږیری یې په انتظار و ،له ځایه را ولاړ سو ، ماري ته یې سهار په خیر وویل او دکیناستو یې ورته وویل.ماري کیناسته او دده خبرو ته غوږ سوه .سپین ږیری موسکی سو په ټوکه یې وویل:

– میرمن ویلسون څه ښکلې جامې مو اغوستې دي ! مهرباني وکړئ ددې مغازې پته ماته هم راکړئ،زه هم غواړم ستاغوندې ښکلی سم .

ماري موسکۍ سوه بې له دې چې دهغه ځواب ورکړي،ویې پوښتل:

– فکر کوم مهمه خبره ده چې زما پروګرام مو خراب کړی دی؟

ریس وویل:

– غواړې افغانستان ته ولاړه سې؟

ماري چې ددامسې خبرې داوريدو انتظار نه درلود،په ويريدلي انداز يې وپوښتل:

– چيرې؟افغانستان!

هو افغانستان،ته خبره يې چې هلته زموږ يوشمير عسكر ميشت دي او په همدې دليل يوه روغتيايي ډله چې جراح،دداخله،هډوكواوغاښونو ډاكټران،روغتيا پاله او يوه دستركو متخصصه به هم پكې وي دڅلورو مياشتو لپاره هلته ځي.

ماري نابېره دخپل زوى((جان))او خاوند((ديويد)) په فكر كې ولويده .تراوسه هيڅكله له هغوى څلورمياشتې ليرې سوې نه وه.كه كله هم په سفر تللې وه دكاناډا ځينو سيمو ته تللې وه او يوه اوونۍ وروسته بيرته كور ته راګرځيدلې وه.

دې دمخه له رسنيو څخه دافغانستان او اسامه په باره كې اوريدلي ول،پوهيده چې كابو درى زره كاناډايي سرتيري په افغانستان كې دي خو هيڅكله يې دا تصور نه كاوو چې يوه ورځ به دې ته هم افغانستان ته دتلو وړانديز كيږي.

دريس غړماري له هغې څپڅپاندې دنياڅخه چې څو ثانيې دمخه يې په ذهن كې جوړه سوې وه راوايستله:

– ښه تنخوا لري،ته به دقوماندانۍ په مركز كې دنده ولرې او هيڅ وخت به له هغه ځايه نه راوزې.

ريس پسې زياته كړه:اوس نو ځه خپلو عملياتو ته ځان ورسوه،پوره وخت لرې چې په دې هكله سوچ وكړې.

ماري دريس له دفتره ووتله خپل دفتر ته ولاړه او پخپلو ورځنيو كارونو بوخته سوه،كله يې چې دخپل ناروغ ستركه عمليات كوله ټول فكر او حواس يې په افغانستان كې و.

له عملياتو وروسته،روغتياپالې ورته وويل:نن ډيره خواشينې وې ،وويريدم عمليات دې خراب نه سي.

ماري وويل:

–نه هرڅومره كه خواشينې يم بيا مې هم پخپل كار پوهيږم،انديښنه مه كوه.

دماري چې کار خلاص سو،دحبيب ليدو ته ولاړه.حبيب پنځه پنځوس کلن افغان و،چې له کابو شل کاله راهيسې په کاناډاکې اوسيده او دماري دکور خواته يې پيتزا خرڅوله.ماري هغه له څو کالو راهيسې پيژاند او ددغه سپين ږيري په خوی او ښه چلند ميينه وه.

ماري به چې هر وخت دپيتزا فرمايش ورکاوو،حبيب به ورته ويل:ډاکټر صاحب تاته به داسې پيتزا پخه کړم چې دسترګو ځير دې زيات کړي هسې نه چې کوم وخت دخپل کوم ناروغ دسترګې پر ځای دهغه پوزه عمليات کړې.ماري به خندل او ويل به يې:ښاغلی حبيب!که دې خپلې عينکې په هرو دريو مياشتو کې بدلې نه کړې ،حتماً دسمارق(خريړي)پر ځای زما په پيتزا کې کابلي مرچ اچوې.

ماري چې دپيتزا دپلورنځي دروازه پرانيستله، حبيب دتل غوندې په لوړ غږ سلام ورکړ وې ويل:

– ميرمنې ډاکټرې عجب! دې خواته،ډير وخت وسوچې دخپلې ګرانې پيتزا خوړلو ته نه يې راغلې؟

ماري وويل:

–دا ځل پيتزا خوړلو ته نه يم راغلې،راغلې يم له تا سره خبرې وکړم.

حبيب په حيراني وپوښتل:

– دڅه په هکله؟

– دافغانستان په هکله او هلته دتلو په هکله.

– يه يه زه نور افغانستان ته نه ځم!

پوهيږم چې ته نور افغانستان ته نه ځې،داوار يې له ماغوښتي چې ولاړه سم.

حبيب خپلې عينکې(سترګی)له سترګو ليرې کړې ، دهغو په پاکولو يې پيل وکړاو په حيراني يې پوښتنه وکړه:

– نوته عسکره يې چې هلته ځې؟

–داسمه ده چې زه سرتيرې نه يم،ډاکټره خو يم،په پام کې ده يوه روغتيايي ډله هلته ولاړه سي،ممکن ماته اړتيا وي.

– وبې نه ويل دافغانستان کوم ځای ته؟

– ویې ویل ،کندهار ته.

حبیب له ویرې چیغه کړه:

–څه!کندهارته؟

– هو کندهار،هیله ده ترڅو ورځو ماته کندهارراوپیژنې.

– یعني جدي غواړې دغه ماموریت ته ولاړه سې؟

– تراوسه مې پریکړه نه ده کړې،باید له کورنۍ سره مې خبرې وکړم.

ماري دا وویل او له ځایه ولاړه سوه،حبیب لاناست و،ویې پوښتل:

– پیتزا دې ونه خوړه،ځې؟

–نن دپیتزا خوړلواشتها نه لرم،وي دي،بله ورځ له دیوید او جان سره راځم.

## ۳

دیوید له کاره راغلی و،له سلامه وروسته یې دیوبل احوال وپوښت:ورځ څنګه تیره سوه؟ماري وویل:

- پوهیږې دیویده!نن ریس رانه وغوښتل چې دیوې څلورمیاشتنی دندې لپاره افغانستان ته ولاړه سم.

دیوید له ورځپاڼې څخه ماري ته سترګې وروا ړولې په تعجب یې وپوښتل:

- چیرې؟افغانستان؟

ماري دخپل خاوند دارامولو لپاره وویل:

-دا یو وړاندیز دی.

-عجب!عسکر لږ وو چې اوس ډاکټر هم لیږي؟

او وروسته یې وپوښتل:

-تا څه ورته وویل؟

- هیڅ ،ورته ومې ویل سوچ کولو ته ضرورت لرم.

دیوید په سوچونو کې ډوب سو وروسته یې سوکه وویل:ماري،افغانستان؟ یه یه!دغه دنده خطرناکه ده.

دشپې چې ماري دخپل خاوند ترڅنګ څملاسته،دهغه دسرپه ګڼو ویښتانو یې لاس واهه.خاوند یې خواشینی و او په افغانستان کې یې دخپلوځواکونو دماموریت په اړه فکرکاوو.

په افغانستان کې دکاناډایي سرتیرو د مرګ ژوبلې وروستی شمیره یوسلو دیرشو کسو ته رسیده.سره له دې چې دی د ودانیو اینجنیر و او تل یې دخپل کار په باره کې فکر کاوو،خو په افغانستان کې ددوی دعسکرو شته والی ددې لامل سوی و،چې کله کله دافغانستان پیښې په ورځپاڼو کې ولولي اوپه ټلویزیون یې ووینې.دی په دې باور و چې د افغانستان جګړه یوه پیچلې اوله معماوو ډکه جګړه ده او اخر یې معلوم نه دی.

دماري غږ هغه له خپلو خيالونو راويوست:

- ګرانه خواشینی یې؟
- نه خواشینی نه یم ،ځکه چې تراوسه دې پريکړه نه ده کړې چې افغانستان ته ولاړه سې .آيا دغه خطرناک هيوادته ستا تګ ضروري دی؟

ماري ددې پوښتنې په اوريدو احساس کړه چې خاونديې انديښنو اخيستی دی ،ويې غوښتل خبره واړوي،ويې خندل،ګوتو يې د ديويد دسر ويښتان نازول:

- راځه نن شپه به په سياسي او پوځي خبرو نه خرابوو.

ماري دوه ځلويښت کلنه وه ،لوړه ونه يې لرله اولږچاغه وه.دونې ددغه جګوالی له امله يې څوک چاغوالي ته نه متوجه کيدل.ځرځې سترګې،جګه پوزه او طلايي ويښتان يې لرل،دې به په مياشت کې يوځل خپل ويښتان رنګول،نه يې پريښودل سپين تارونه چې ورځ په ورځ يې دويښتانو په درمند کې زياتيدل ښکاره سي.ددې دوستانو به هغه رنګ ډير ستايه چې دې به تل دخپلو ويښتانو لپاره انتخاباوو.

ماري تورنتوته څيرمه په يوه کلي کې زيږيدلې وه دې دښوونځي په وخت کې ليوالتيا لرله چې دموډاو جامو طراحه سي.

مور ته يې دعمر دپای په کلونو کې دسترګو دليد دکمزوري ستونزه پيدا سوه .په هغو کلونوکې دژوند په هکله دماري نظر بدل سو،پريکړه يې وکړه هرڅنګه چې کيږي دسترګو ډاکټره سي.

ماري او ديويدپه يوه ميلمستيا کې سره مخامخ سول اوپه هغو لومړيو کې يې له يوبل سره مينه پيدا سوه،له پيژندو يوکال وروسته يې واده سره وکړ اوددوی يوازينی زوی((جان)) د۱۹۹۲ کال دجولای په اوومه نيټه دنيا ته راغی.

جان دژوند په لومړنيو کلونو کې سختې تنفسي ستونزې لرلې ماری او ديويد له خپل زوی سره سختې ورځي تيرې کړې خو دوخت په تيريدو سره دهغه دغه ستونزه سوکه سوکه کمه سوه سره له چې دغه تکليف يې په بشپړ ډول نه دی ښه سوی.خو دژوند دهغو طريقو له مخې چې جان او دهغه کورنۍ زده کړې وې،کيدای سوای دتورنتو له حده وتلې يخني کې ګوزاره وکړي او زيات په تکليف نه سي.

جان په دې وروستيو کې په پوهنتون کې يوه نجلۍ ملګرې هم پيدا کړې وه،کله کله به يې هغه مور اوپلار ته هم راوستله چې ښه سره وپيژني.

ماري چې بله ورځ روغتون ته ولاړه په لاره يې خپل ريس وليد ،ريس ماري ته وويل:

– دفکر کولولپاره لا وخت لرې ،له تشويشه پرته دې کارونه کوه.

ماري دورځينوکارونوله سرته رسولو وروسته حبيب ته ورغله .حبيب دتل غوندې په موسکا دماري هرکلى وکړ.

– ډاکترصاحب لا کندهار ته نه يې تللې؟

ماري په اسويلي وويل:

– حبيبه نه پوهيږم څه وکړم،ستا مشوره څه ده؟

– ما په دې باره کې ډير سوچ وکړ او دې نتيجې ته ورسيدم چې دا غوښتنه ديوې اړتيا له مخې له تا سوې ده ،ددې ترڅنګ دروغتيايي پرسونل کار او خدمت دجګړې په جبهو کې نه وي،په تيره ته چې دسترګو ډاکتره يې ،کيداى سي ستا کاردکاناډايي ځواکونو په مرکز کې وي.

حبيب پسې زياته کړه:

– سره له دې چې په کندهار کې امنيت ښه نه دى او هروخت طالبان بريدونه کوي ،خو دقواوو په مرکز کې به کار ستونزمن نه وي.

ماري دحبيب له خبرو وروسته يوڅه ډاډه سوه ،خپله دخوښې پيتزا يې راوغوښتله او حبيب ته يې وويل:

– پيتزا راته برابره کړه کورته يې وړم.

ماري پيتزا پر ميز کيښوده،ديويداوجان يې دماښام ډوډۍ خوړلو ته راوبلل.داښه وخت و،ترڅو افغانستان ته دتلو په اړه خبرې وکړي.

ماري په صميميت سره له خپل خاوند او زوى څخه وغوښتل چې ددې څلورمياشتنى ليرې والى وزغمي.

۴

الوتکه داسې غرونو ته ورسیده چې یو بل لکه ځنځیر سره غوټه سوي ول،ترهغه ځایه چې سترګو کار کاوو تور غرونه تنګې او پراخې درې ښکاریدې.

ماري له کړکۍ دباندې وکتل.ونې،واښه او اوبه بیخې نه ترسترګو کیدې((دسختو لاروغرنۍ خاوره)) عبارت یې په ذهن کې وګرځیده په دې وخت کې پیلوټ اعلان وکړ چې دکاناډایي سرتیرواو روغتیایي ډلې دغه لیږدونکې الوتکه دافغانستان خاورې ته رسیدلې ده.

کله چې الوتکه دکندهار هوایي ډګر ته راټیټیده ماري یوځل بیا له کړکۍ لاندې وکتل:لکه ښار چې نه وي،هیڅ اسمانڅکه ودانۍ یې ونه لیدله ،خټین کورونه یوپه بل پسې کتارسوي ول او لکه دمچیوځالې چې لږ فضا یې نیولې او سرکونه لکه تورې رسۍ یوپه بل پورې غوټه سوي ول او ترڅو غرونو راتاو سوي ول.

دغې منظرې ماري ته هغه تابلو ورپه یاد کړه چې دتورنتو په یوه ګالري کې یې لیدلې وه:یوخاورین واټ له څو خټینو کورونو سره او څو پټکي پر سرړیورولارویان.ترتابلو لاندې لیکل سوي ول: افغانستان.

ماري فکر وکړ ښایي کندهار دهماغې تابلودخلکو،کورونواو واټونویوه مجموعه وي.

ماري او همکاران یې چې له الوتکې پلې سول سترګې یې له څو بارکونو،پوځي مجتمع هیلیکوپټرواو جت الوتکو ها خوادترمینل په لټه وې ،خو هغوی بې له دي چې دکندهار دهوايي ډګر یو پوړیز او پخوانی ترمینل ووینې له خپل پوځي کاروان سره دکندهار په جنوب کې خپل مرکز ته ورسیدل.ماري په لاره په تورنتوکې له لیدلي تابلو سره ددغه چاپیریال په شباهت یقین پیدا کړ.

ماري او ورسره ملګرى كاروان له ښاره تروتلو او له څو واټونو څخه له تيريدو وروسته خپلې اډې ته ورسيدل.ماري داسې اډه يوازې په جنګي فلمونو كې ليدلې وه هرې خواته يې چې كتل وسلې وې،جنګي ماشينونه او ترغاښونو وسله وال سرتيري ليدل كيدل.

ماري له چاپيريال سره دبلدتيا لپاره دشپې ډوډۍ له سرتيرو سره يوځاى په طعام خانه كې وخوړله،داسې غذا چې دحبيب له پيتزا او دتورنتو له كبانو او ميګو سره يې هيڅ ورته والى نه درلود.دډوډۍ په خونه كې سرتيرو په ډيره اشتيها ډوډۍ خوړله ،كيسې يې كولې او خندل يې،لكه جګړه چې هيڅ نه وي.

يوشمير سرتيروچې له ډير وخت وروسته نوې راغلې ښكلې ښځه وليدله،دماري په شاوخوا راټول سول او له هغې يې پوښتنې پيل كړې،يوه سرتيري ورته وويل:

–كاردې ښه دى،جګړه نسته،كاشكې زه هم ډاكتر واى او محتاجو افغانانو ته مې خدمت كړى واى.

ماري ورته وويل:

–ښه نو ته سرتيرى يې او ددوى خدمت كوې.

سرتيري وخندل:

– تر يوه كال زيات وخت كيږي چې زه دلته يم او هيڅ منظمه جګړه مې نه ده ليدلې ددې ځاى جګړه په سركونو بم ايښودل اوځانمرګي بريدونه دي او موږ په توپونو او الوتكو غواړو له هغوى سره مقابله وكړو،طبعي ده چې په داسې جګړه كې ډير زيان خلكو ته اوړي.

يوه بل سرتيري چې تر اوسه ددوى خبرو ته غوږ نيولى و،وويل:

– په دې هيواد كې له وسلې سره خدمت كول سخت دي.دلته كه جګړې ته ولاړې بايد څوك ووژنې يا هغوى تا ووژني.

ددغه سرتيري نورو ملګرو دده خبره تاييد نه كړه:

– په ټوپک سره هم كولاى سو خدمت وكړو،دلته تل دټوپک جګړه نه وي،داسې پروپاګند لكه تيرى او آن له نورو كلتورونوكركه هم سته.

ماري دا سې احساسوله لكه بلې دنيا ته چې راغلې وي. خوراک هم ورته نوى و،خوند يې نه وركاوو،له سرتيرو يې اجازه وغوښته او د(شپه په خير) په ويلو سره خپلې كوټې ته ولاړه.

دنوي راغلې روغتيايي ډلې لپاره دخوب ځانګړې کوټې برابرې سوې وې .دغه کوټې دسرتيرو دکوټوغوندې نه وې بلکې هريوه ته له شور اوزوږه ليرې يوه کوټه ورکړل سوې وه.

دماري خونه وړوکې وه اته متره مربع به وه داډې شمال لوري ته يې يوه کړکۍ لرله له هغې څخه يې دکندهار آسمان ته وکتل.

دخونې په منځ کې دخوب يو لرګين تخت ايښودل سوی و،دوو خواوو ته يې دومره ځای و،چې يو کس ايله تيريدای سوای ،پرتخت يوه قهوه يي رنګه پوښ غوړول سوی و چې رنګ يې دماري دخوښې رنګ نه و.په کوټه کې دلرګي بوی ته.فکر يې وکړ بايد دهوا دبدلولو کړکۍ پرانيزي.

ولاړه کړکۍ يې خلاصه کړه کوټې ته ګرم تاو راننوت په بيړه يې کړکۍ وتړله او دکړکۍ له شاپې دبرښنا ستنې ته چې له ليرې يې اغزن سيم لرونکی لوی ديوال رڼا کړی و دديوال په پای کې کوچنۍ کوټه وه چې کيدای سوای له هغه هره خوا ووينې.

هغه دترصد په ځای کې سرتيري ته ځير سوه چې څوګامه مخ ته ته،بيرته راګرځيده او کله کله به د د يوال شاته پټ سو،څو شيبې يې سرتيري ته وکتل وروسته دځپل بکس په لوري ولاړه.

د ديويد او جان عکس يې چې تير ژمی يې په ځپل انګړ کې دواورې له سړې سره اخيستی و،له بکسه راوايست ،دميز پر سر يې کيښود ترشونډو لاندې يې وويل((راباندې ګران ياست)).

وروسته يې دخوب جامې واغوستې،دخاوند اوزوی عکس ته يې شپه په خير وويل سر يې کيښود چې ويده سي،خوب نه ورته،دا لومړی ځل و،چې احساس يې کاوو په يوه نابلده ځای کې ده.کار يې څنګه دی او له کومه ځايه پيليږي ؟داسې پوښتنې وې چې دهغو دځواب لپاره يې بايد تر سبا انتظار ايستلی وای.

سهار له لمرخرک سره دسرتيرو دپښوپه غږ چې تعليم يې کاوو راويښه سوه،له حمام کولو وروسته دډوډۍ خونې ته ولاړه ،هلته يې ورته وويل:کلنيک دکارکولولپاره چمتو دی.

کلنيک د پوځي اډې په منځ کې و،ټولې اړتياوې هلته په پام کې نيول سوې وې.ماري دکلينيک ټول شيان وليدل او دځپل کار له ځای او ماموريت سره له بلدتيا وروسته کمپيوټر ته کيناسته ديويد ته يې برښناليک واستاوو:

«ګرانه ديويده!په خير کندهار ته ورسيدم او نوې له خپل دفتر او دکار له ځای سره بلده سوم.دکار ځای مې د اډې په منځ کې ده اودلته به کار کوم راته ويې ويل:زياتره ناروغان به مې افغانان وي،سبا مې کار شروع کيږي،ډيره ليواله يم د افغانانو او دهغوی دکلتور په اړه معلومات ولرم او له نږدې ورسره بلده سم،په پای کې دې ښکلوم په جان پام کوه او ماته دعاکوه »

بله ورځ مخکې له دې چې ناروغان راورسيږي ماري له خپل ترجمان(ژباړونکي)جاويد سره معرفي سوه.جاويد اوولس کلن ځوان و،چې نوي يې ماټ راغلي و،او لږلږ رنګړي ويښته يې په زنه هم ښکاريدل.

هغه له صورته خوار اوپه ونه لوړ ځوان و،نرم او تور ويښته يې لرل چې په تندي،غوږونو او غاړه يې پراته ول.جاويد تر لسم ټولګي درس ويلی و،او بيا يې دانګليسي په څو کورسونو کې انګليسي زده کړې وه او په دې وروستيو مياشتو کې له کاناډايانو سره دترجمان په توګه په کار ګومارل سوی و.

جاويد په لومړيو کې دستمال پرمخ پيچه تورې عينکې يې په سترګو کولې او کانادايي عسکرو سره به ګزمې ته ته،څوځله طالبانو پرې يرغل وکړ،خو دی پکې روغ پاتې سوی و.دی اوس په دې چې له ماري سره دترجماني دنده ورکړل سوې وه خوشحاله و.

په لومړۍ ليدنه کې ماري پوه سوه چې جاويد يو لايق ځوان دی،سره له دې چې په انګليسي يې ښې خبرې نه سوای کولای ،خو ماري يې په خبرو پوهيدله.

جاويد دلته دخپل کار په موده کې څو نورې سرتيرې او افسرې ميرمنې هم ليدلې وې،خو ماري يوه بيله ښځه وه او پوځيانو ته ورته نه وه،ارامې خبرې يې کولې او په مينه به يې کتل.

جاويد له ماري وپوښتل:

- ته دکاناډا دکوم ځای يې؟
- دتورنتو.آيا دتورنتو په باره کې دې څه اوريدلي دي؟
- زيات نه،ستاسې له سرتيرو مې اوريدلي وايي چې ددنيا له ښکلو ښارونو څخه دی،ښه امن دی او کارو بار هم هلته ډير ښه دی ،ستاسې په سرتيرو تورنتو ډير ګران دی.

ماري په موسکا وويل:

- تورنتو رښتيا دګرانښت وړ دی.

او له لږ چوپتيا وروسته يې وويل:

–کندهار څنګه؟

– کندهار هم ډير دګرانښت وړ دی،خو دا لعنتي جنګ خلاصی نه لري.زموږ دپلرونو دځواني له وخته شروع سوی تراوسه چې موږ ځواني ته رسيدلي يو روان دی.

ماري چوپ سوه نه پوهيده ددغه رنځيدلي ځوان په ځواب کې څه ووايي،هغه جاويد ته ښه ځير سوه ،متوجه سوه چې مخامخ داسې ځوان ورته ناست دی چې دجګړې او کړاو نښې يې په څيره کې له ورايه ښکاري ،هغه دتورنتو دځوانانو غوندې خوشحاله او بشاش نه دی ،ماري له جاويد څخه مخ واړاوو او دهغه په دوړو سپيرو بوټونو ته يې کتل ، وې ويل:

– هيله لرم ډير ژر ستاسې هيواد ته سوله او امن راسي او ستاسې ګران کندهار اباد او سمسور سي.

جاويد ترخه خندا وکړه ويې ويل:

– ميرمن ماري ديرش کاله کيږي چې زموږ په وطن کې جګړه ده جګړه!او موږشاته روان يو،خدای پوهيږي چې زموږ دغه شاته تګ به ترکومه دوام ولري.

ماري وويل:

– جاويده!که ټول ځوانان ستا غوندې فکر وکړي او له جګړې کرکه ولري ،همدغه موضوع پخپله يو پرمختګ دی.

جاويد په موسکا وويل:

– له بده مرغه ټول زما غوندې فکر نه کوي ،پوشمير اوس هم د درس او زده کړو پر ځای ټوپک په اوږو ګرځوي.

– جاويده!تا ولې درس پرينښود؟

داځل يې له زړه وخندل ويې ويل:

– ښه نو پر ځای يې ترجمان سوم او ټوپک مې وانه خيست.

د جاويد داځواب دماري خوښ سو:

– افرين پر تا!

په داسې حال کې چې د جاوید خندا ور

کیدله ویې ویل:

– پوهیږې! غواړم دیوڅه پیسو له ګټلو وروسته ددرس لپاره خارج ته ولاړ سم،غواړم ستا غوندې ډاکټر سم.

ماري په حیراني وپوښتل:

– رښتیا؟

– هو تراوسه مې یوڅه پیسې هم ټولې کړې دي.

– څومره ښه!هیله منده یم دا ارمان دې پوره سي.

او وروسته یې وپوښتل:

– جاویده!ستا نوم ډیر ښکلی دی .دنوم معنا دې څه ده؟

– تلپاتي،ابدي.

– وه وه!څومره معنالرونکی نوم.

دلومړي ناروغ راتلو چې یو کاناډایي سرتیری و،ددوی خبرې پرې کړې.سرتیری نږدې راغی ،ماري ته مخامخ کیناست .سترګې یې سرې سوې وې،ماري دهغه سترګې وکتلې ورته ویې ویل:ستونزه دې جدي نه ده ،ګردونو او دوړو ستا سترګې لږ زیانمنې کړې دي.هغه ته یې درمل ورکړل ،دهغه له تلو وروسته یې جاوید ته وویل:

– خپلې خبرې به وروسته کوو.

بله ناروغه یوه لس کلنه نجلۍ وه چې زړلښته نومیده او پلارېې راوستې وه.

تیره ورځ چې کاناډایی سرتیري شاولي کوټ ته دګزمې لپاره تللي ول،زړلښته یې لیدلې وه چې بې حرکته په سرک ولاړه وه دموټرو له شور او زوره ډیره ویریدلې وه یوې خواته هم تلای نه سوای.

کاناډایي سرتیرو خپل ژباړونکی وراستولی و،چې نجلې له لارې یوې خواته کړي ترجمان ورغلی و،هغه یې په غیږ کې اخیستې وه او له لارې یې لیرې کړې وه او خپلو ملګرو ته یې په خندا ویلي و،چې نجلۍ ړنده ده.

قوماندان چې دسترګو د ډاکترې له راتلو خبر و،ورغلی و او زرلښته یې له نږدې لیدلې وه او دهغې دپلارپه سلا یې هغه د درملنې لپاره پوځي اډې ته راوستې وه.

کله چې زرلښته او پلار یې دمعاینې خونې ته رانوتل،دا لومړی ځل و،چې ماري دافغانستان کوچیان له نږدې لیدل.

زرلښتې په مریو جوړې سوې شنې جامې اغوستې پرمټ یې لوی تعویذ ګنډل سوی و.پلار یې توره لونګۍ پرسر وه او خیرن کالي یې اغوستي ول چې دفولادي او تور رنګ معلومول یې هر لیدونکي ته سخت و.

ماري دزرلښتې دسترګو دکتلو په وخت کې جاوید ته وویل چې له پلاره یې وپوښتي چې ناروغي څنګه پیل سوه؟

دزرلښتې پلار وویل:

– اول یې سترګې سرې سرې سوې بیایې خارش کاوو،دهرې ورځې په تیریدو سره یې دسترګو سوروالی زیاتیدله وروسته سوی دې حد ته ورسیده چې جنکۍ به تل ژړل او سترګې به یې سختې موښلې،وروسته یې سترګې چخنې سوې او سوکه سوکه ړنده سوه.

ده وویل چې زرلښته یې څو ملایانو ته هم بوتله تراوسه یې څو تاویزونه ورته کړي خو تر اوسه یې فایده نه ده کړې.

ماري پوښتنه وکړه:

– ولې مو دا ماشومه ډاکتر ته نه ده بیولې؟

دزرلښتې پلار وویل:

– زموږ په سیمه کې نه ډاکټرسته نه دوا.

ماري په حیرانی له جاویده پوښتنه وکړه:

– آیا په هغه ځای کې چې ډاکټر او درمل نه وي ژوند کیدای سي؟

جاوید وویل:

– په تورنتو کې ښایي نه ، خو دلته کیږي.

ماري دزرلښتې په څېره کې له پاکي او معصوميت سره دېيوزلي ژورتيا وليدله، زړه يې په زرلښته وسوځېده له خپله ځايه را ولاړه سوه ،دځنګ خونې ته ولاړه څو شيبې وروسته له يوې نانځکې سره راغله ،هغه يې زرلښتې ته ورکړه ورته ويې ويل:

– واخله دغه ښايستوکې نانځکه(باربي)ستا دې وي.

زرلښتې چې نانځکه په لاس کې واخيسته په بيړه يې لاس پرې تير کړ،پوښتنه يې وکړه:

– ښکلې ده؟

ماري وويل:

– ډيره ښکلې ده.

– کالي يې څنګه دي؟

– ګلابي.

– سترګې يې څه رنګ دي؟

– شنې.

ماري يوځل بيا زرلښتې ته ځير سوه،زرلښتې چې پخپلوکوچنيومنګولودنانځکې ويښته اندازه کول،هغه يې خپلو سترګو ته نږدې کړه ترڅو که لږهم وی هغه ووينې .ماري پخپل عمر کې داسې صحنه نه وه ليدلې،نابېره يې ستونی را ډک سواو په سترګو کې يې اوښکې راغلې.دجاويد دماري حالت ته پام سو په کنايه يې ورته وويل:

– چورت مه وهه!تراوسه لادفلم سر دی په افغانستان کې به داسې څه ووينې چې دا به دې هيرسي.

دزرلښتې پلارپوښتنه وکړه:

دلور سترګې مې ښې کيږي.

ماري وويل:

– هو ښې کيږي.

– دزرلښتې پلار څه ونه ويل،خو زرلښتې له خپل پلاره وپوښتل:

– ابا!زه بيا ليدلای سم؟

– هو لورې.ډاکټر صاحب وايي،ښې کيږي.

زرلښتې وخندل او ماري فکر وکړ چې دنيا وخندل.

ماري درې ځله دزرلښتې سترګې ومينځلې ،دوا يې پکې واچوله او وېې تړلې او وروسته يې جاويد ته وويل:

– سبا ماښام دزرلښتې سترګې خلاصوم او درمل به هم ورکړم.

زرلښته چې تله نانځکه يې ټينګه په زړه پورې نيولې وه.

هغه ورځ ماري څلور کاناډايي سرتيري او دولس افغانان معاينه کړل دری افغان ماشومان او يوسپين ږيری بايد عمليات سوی وای،ماري دا موضوع هغوی ته وويله او ترڅنګ يې ددوی دعملياتو پروګرام بلې اوونۍ ته وځنډاوو.

## ۵

ماري له څوورځوکار او دسترګو له عملياتو وروسته نابېره دخپلې کورنۍ په فکر کې سوه،هغې له غرمې وروسته چې خپل وروستي ناروغ وليد ،ولاړه کمپيوټر ته کيناسته اودخپلو برښناليکونو پاڼه يې خلاصه کړه ،هم ديويد او هم جان ليکونه ورته را استولي ول.

دهغوی برښناليکونه يې ولوستلوهغوی دخپلې روغتيا ډاډ ورکړی و او غوښتي يې و،چې ماري دخپل احوال ورته وليکي ماري دهغوی په ځواب کې وليکل:

«ښه يم هره ورځ خپل ناروغان تداوي کوم،هره ورځ له خپل ترجمان جاويد سره ددغه ځای دحالت په اړه خبرې کوم،هغه هوښيار او لايق ځوان دی،کله کله يې کيسې ما ډېره غمجنه کړي،په اړه کې حالت ښه دی،يوازې دلته ټول پوځيان دي.هرپلو چې ګورې زمونږ سرتيري دي چې يوې بلې خواته ښوري،سره له دې چې زه له اړې نه يم وتلې،خودجاويد او ځينو سرتيرو له کيسو پوهيږم چې دلته نه دماشومانولپاره پارک سته نه دتفريح لپاره دبحر او درياب غاړه او نه درنا لپاره برښنا.

نه هم دککاو،کبانو،شوکو او پنير رانيولو لپاره سوپر مارکيټ او...دلته دژوند لپاره هيڅ ډول بيمه نسته.دلته طالبان دي او القاعده...ناټو ده،امريکااوبريتانيا او خلک دي چې په دې منځ کې ځوريږي.

دلته دتاوتريخوالو،بدمرغي او عذاب خاوره ده.انسانان دسترګو ديوه ځاځکې دوا دنستوالي له امله ړنديږي.او په يوه ماين يا اشتباهي بمبارد کې ټپي،معيوب يا وژل کيږي اوپه يوه ځانمرګي بريد کې لکه چې قصابي سوي وي غوښې او وينې يې په سرکونوپرتې وي.دلته انسان کوم ارزښت نه لري،زيږي،مري بې له دې چې ژوند وکړي.

زه هره ورځ له جګړې ځخه زيانمن کسان وينم او زما زيات ناروغان هغه کسان دي چې ماين،بمبارد يا ځانمرګي بريد معيوب يا ړانده کړي دي.ددغو زياتروناروغانو بينايي بيرته نه راګرځيدونکې ده،زړه مې ددوی په حال سوځي.

ځینې وختونه چې جګړه پیښیږي یاځانمرګی برید کیږي یوشمیرټپیان راوړي او زه او همکاران مې په ساعتونو ساعتونوپه عملیاتو بوخت یو، ترڅو هغوی وژغورو،یوشمیرښه شي او ځینې مري.دا دلته زموږ ورځني کارونه دي.

زه چې نازک زړه لرم،باید دغه دنده مې نه وای منلې.پوهیږئ دهرې صحنې په لیدو مې حال بدسي،اوښکې مې رواني سي او په دې خاوره کې دڅوند دبیاراتلو لپاره دعا کوم»

ماري په څو ورځو کې په ډیر کوښښ او زړه سوي سره خپل ناروغان چې دکندهار له بیلابیلو سیمو یې ورته راوستل کیدل تداوي کړل،او دسترګو څوپیچلي جراحي عملیات یې هم ترسره کړل.

او جاوید دخپلې ترجماني په څو ورځو کې متوجه سو چې دماري په تداوي زیات ناروغان بیرته روغ سول.

جاوید یوه ورځ چې له ماري سره دشخصي خبرو موقع برابره سوه،په خپګان وویل:

– ماري پوهیږې زما پلار هم ړوند دی.

ماري په داسې حال کې چې پیاله یې را اخیستې وه او غوښتل یې چای وڅښي،لاس یې په هوا کې پاتې سو:

– څه؟پلار دې ړوند دی او تا له ما پټه کړې وه!

– نه مې غوښتل پټه یې کړم،خبره داده چې پلار مې نه غواړي بیرته بینا سي.

ماري هکه پکه سوه،په حیراني یې وپوښتل:

– ولې؟

– پلارمې له شورویانو سره دجهاد په وخت کې په یوه چاودنه کې ړوند سو او اوس نه غواړي سترګې یې بیرته بینا سي.

– ماري په ډیره حیرانی یوځل بیا وپوښتل:

– ولې؟

جاوید وویل:

– کاشکې په دې پوهیدلای.

## ۶

جاوید داډې په دروازه کې دستمال له جیبه را وایست،پخپل مخ یې وپیچه او خپلې تورې عینکې یې په سترګو کړې.ده کابو دوه کیلو متره لار ووهله،چې له اډې ښه لیرې سو،عینکې یې له سترګو او دستمال یې له مخه لیرې کړاوپه جیب کې یې واچول،له دوړو او ګرځونو څخه له ډک واټ څخه تیر سواو له ړنګ او زاړه دیواله په اوښتو سره دبانجانو پټي ته ورسید.

درومیانو دپټي په پوله لمرګلي کرل سوي ول.لمرګلي چې پخیدو ته یې لږ وخت پاتې و،زرګونوځلیدونکو لمرونوته ورته ول.کله چې له هغه ځایه تیریده یو رومي یې وشکاوو،ګرځونه یې په لاس ترې وڅنډل،خولې ته یې یووړ،دبانجان ترشي خوند ورکړ،دویالې غاړې ته په رسیدو سره تر یوې ونې لاندې په وښواوړد وغځید.

په اډه کې له اته ساعته کار وروسته ستړی سوی و.هغه خنډونه او سمنټي دیوالونه چې داډې او دفترونو دساتلو لپاره ایښودل سوي ول اوددې اډې مقررات،دجاوید لپاره ستړې کوونکي ول،هغه به کله چې په وسلو سمبال سرتیري لیدل،دکندهار ناکرارحالت به یې سترګو ته دریده او داچې ژوند ورځ په ورځ سختیده دی یې ځوراوو.

دويالې دغاړې دوښواوزيم بوی يې سپړمو ته ورسيده،اودورځي ستړيا يې دده له تن ايستله،لاس يې اوږد کړ د ويالې له غاړې يې شنشوبی را وشکاوو،دصحرايي شنشوبي خوش بويي خوشحاله کړ،دشنشوبي شاخه يې کيښوده،ورسره ترڅنګ بوټي څخه يې قاصدک ګل (چې په ځينو سيموېې کې دکارغه چمچه بولي)وشکاوو،ددغه لمر ته ورته ژيړرنګي ګل تيز بوی ته.کله يې چې هغه سترګو ته ونيواو په لاس کې يې وڅرخاوو،ممی يې وليده چې دګل ترپاڼه لاندې نښتې وه راووته،خواشينې اوناکراره معلوميده ناارامه سوې وه.

جاويد ګوته ور وړاندې کړه څو هغه دګل پرسرکيږدي خو ممی(کفشدوزک) ونه غوښتل له هغه چا سره پخلاسي چې ددې ارام يې ترې اخيستی و،والوتله.

دممی له تلوسره جاويد دخپل نوي کار په هکله سوچونوواخيست له ځان سره يې وويل:اوس ښه سوه نوربه ګزمې او جبهې ته نه ځم،خطر به لږ سي،خدای دې وکړي دماري دکار موده له څلورو مياشتو وروسته نوره هم اوږده سي،لږترلږه دې يو کال سي،که داسې سي کار مې جوړيږي او ارمان مې پوره کيږي.په دې وخت کې دڅو هليکوپټرونوقهرجن آوازدهغه ځای ارامي ګډه وډه کړه،جاويد پورته وکتل،دری((شينوک)) هليکوپټرونه له شماله جنوب خواته تلل او دماسپښنين لمر ځلاهغوی واړه ښکارول.

دګياووبوی دی کلي او کور ته بوت،پريکړه يې وکړه کلي ته ولاړسي،خوله هغه مخکې بايد ښار ته تللی وای له وښو را پورته سو وانښه ړنګ سوي او دجاويد دتن چاپونه پرې پاتې ول.جاويد يوبل رومي هم وشکاوو،سرک ته ووت او په ليني موټرکې دښار په لوري وخوځيد.

ښارپه حرکت کې و،پلي لارې له خلکو ډکې وې چې کله به يې ديو دبل لارې بندې کړې او دتيريدو لپاره به سرک ته واوښتل ،موټرونه،ريکشاوې،بايسکلونه،موټرسايکلونه او کله به هم هغه درنې کراچې چې څو کسو به کشولې دلارې دبنديدو سبب سوې.موټر چلونکو به په پرله پسې هارنونوهڅه کوله دتيريدولپاره لاره پيدا کړي.

جاويد چې کله دتوپخانې بازار ته ورسيده لومړي سرای ته ننوت مخامخ دخپل تره مستري کريم دکان ته ورغی:

– اکا سلام!

– وعلیکم جاویدګله!ښه یې،په خیر راغلې؟

– شکر کاکا ښه یم.

جاوید د دکان پای ته ولاړ احتیاط یې کاوو کالي یې ددکان وسایل تور نه کړي خپل دوسمال یې په چوکۍ هوار کړ او پرې کیناست.یوه لس – دولس کلن هلک چې مخ یې تور کړی و،اوخیرن او غوړکالي یې اغوستي ول،جاوید ته یې یوه پیاله شین چای راوړ،قندانې ته چې جاوید ته نږدې دموټر دمات څراغ ترڅنګ ایښې وه اشاره وکړه:

– لږ حلوا ماته وساته،لاسونه مې مینځم راځم.

جاوید دچایو پیاله په دواړو لاسونو ونیوله،پیاله یې دلاسونو په منځ کې ورکه سوه او له هغه تاوه چې ترې خوت سړی پوهیده چې دده دلاسونو په منځ کې دګرم چای پیاله ده.جاوید څو سوره چای وڅښنه کاکا ته یې چې دیوې فلزي کړۍ په ریګمالولو بوخت و،وویل:

– دټولې ورځې ستړیا یوه خوااوله چوکه تر توپخانې بازاره راتلل بله خوا.لکه دکندهار ټول خلک چې دتوپخانې بازار ته راغلي وي،دپښوایښودلوځای نه وي.

مستري کریم چې دکړۍ کار خلاصاوو،وویل:

– ترڅو به دې پلار ته دروا غ وایې.راځه دسړي دزوی غوندې له ماسره کار وکړه،په دې وختونو کې کارونه زیات سوي دي او دغه شاګردان مې دکار نه دي.

جاوید په موسکا لس – دولس کلن هلک ته وویل:

– حلوا خوره!راشه چای واچوه.

او وروسته یې خپل کاکا ته وویل:

–اکا پریږده چې څو غیرانه وګټم او خارج ته ولاړ سم.زه د دکانداري او مستري توب سړی نه یم.

– که دکار سړی یې دموټر جوړولو دورکشاپ ګټه هم بده نه ده.ډیرخلک له دغه کاره دښه ژوند خاوندان سول.

جاوید په ټوکو وویل:

–ترڅو چې خوسکی غويی کيږي دښمنتن زړه به يې اوبه سي.

کاکا يې ټوکې مسخره کړې:

– رښتيا هم چې زموږزړه ستا له لاسه اوبه سو.

ده او شاګردانو يې يوځای وخندل.تور لس – دولس کلن هلک په داسې حال کې چې دچايو پياله يې جاويد ته ورکوله وويل:

–ښه سوې!

جاويد پياله ترې واخيستله،خپل کاکا ته يې وويل:

– غوښتل مې نن ماښام له تاسره لږ کار وکړم،خو په پلار پسې مې دق يم که اجازه وي زه به کلي ته ولاړ سم.

کاکا يې چې جوړه سوې کړی‌ په موټر کې ځای پر ځای کوله وويل:

– که ځې نو بيا وختي ولاړ سه،که تياره سي دلارې امنيت خرابيږي.

جاويد تر چوکۍ لاندې کارتن راوايست له هغه څخه يې تور خيرن کالي راوايستل او وايې غوستل،يوځل بيا دخپلې بيالې خواته ورغی څوسوره يې وکړل.

لس – دولس کلن شاګرد وويل:

–ښه و،چې چای مې دم کړی و،که نه له تندي به مړ وې.

جاويد پاتې چای سور کړ،ويې ويل:

–ځه پيريه په تا يې څه،ځه خپله پوزه دې پاکه کړه.

بيا يې مستري کريم ته وويل:

– اکا خدای پامان،ولاړم.

– صبر وکړه دپلار لپاره دې يو امانت هم لرم.

مستري کريم ددکان اخير ته ولاړ او يوه کڅوړه يې له ميخه را ښکته کړه:

–واخله،پلارته دې يې يوسه،دهغه يوه پخواني انډيوال را استولې ده.

جاويد لاس ور اوږدکړ،خو ناڅاپه کڅوړه وښوريده،جاويد وډار سو خپل لاس يې په بيړه شاته کړ.

دکاکا شاګردانو یې وخندل،مستري کریم وویل:

– مه ډارېږه کوتره ده،پلارته دې ووایه چې دده پخواني ملګري عبدالرزاق را استولې ده.

جاوید کځوړه ونیوله،کاکا یې وویل:

– زما سلام ټولو ته ووایه.

ماښام نږدې و،دورځې دوروستیو شیبو لمر خپل ژیړرنګ په خورو ورو وریځوپاشلی و، آسمان دیوې تابلوغوندې ښکاریده لکه یوه تکړه انځورګر چې په ډیر دقت نقاشي کړی وي.مرغان په دې تابلو کې او دورځې په وروستیو شیبو کې یوې بلې خواته الوتل او په بیړه یې ځانونه خپلو ځالو ته رسول.دخدای مرغانو جامې هم نه بدلولې او خدای(ج)ټول پخپلو ځانګړو جامو خلق کړي ول.دهوا مرغان،یویوکور،کروندې،دسرک ترځنګ دسپیدارو ونې او ددې تابلو ژیړ آسمان دموټرچتکتیا یوپربل پسې تیرول.

جاوید ته دکروندو په لیدو سره چې په زیاترو کې یې کوکنارکرل سوي ول خپله مور ورياد سوه،دی پنځه کلن و، چې مور یې وفات سوه.یوه ورځ یې دمور په زړه درد سوی و،چا ویل،چې ویریدلې ده،چاویل قلنج لري،پلار یې څوملایان او آخوندان د دعا ویلو لپاره راوستي ول،خو ګټه یې نه وه کړې دمور درد  یې لا زیات سوی و،هغه ورځ یې دده مور ته ټریاک ورکړل او یو ساعت وروسته مړه سوه.

جاوید نابېره دکوکنارودکروندې په منځ کې خپله مور ولیدله چې لور یې په لاس دی او کوکنار ریبي.دمور ږغ یې واورید((جاویده! جاویده!راسه ستړې سوم،زړه مې درد کوي،اوبه راکه))

دموټرچلونکي قهرجن ږغ جاوید دمور له یاده اودخدای دمرغانو له ننداړې څخه محروم کړ:

– وروره ښکته سه،چې پنجوايي ته ورسیدو.

جاوید له موټره کوز سواو دکور خواته رهي سو.له ولسوالي څخه ددوی ترکوره کابو لس دقیقې پلې لاره وه،ددې لپاره چې دغه لس دقیقې لنډې کړي دولسوالي له شادغنمو او کوکنارودکروندو په منځ کې کورته روان سو.

دجوزالومړۍ ورځې وې.غنمو وږي او کوکنارو غوټۍ لرله .دولاړو اوبو او دکوکنارو نیښ وهل سویوغوټیو

بوی سره ګډسوی و،ويالې له چنګښوډکې وې،چنګښوپرله پسې نغمې غږولې جاويد دوښواوپولوله منځه تیر سو،ډېوکر کڅوړه يې په لاس کې وه زړه يې دکوترې ليدو ته تنګ سوی و.

غوښتل يې کڅوړه پرانيزي او هغه ووينې چې څه رنګ ده خو ويريده چې وانه لوزي او دپلار ددوست له سوغات څخه يوازې کڅوړه پاته سي.هغه له يوې پولې بلې پولې ته ټوپونه وهل چې نابېره يې دړنګ ديوال څنګ ته دخپل کلي دري چرسي ځوانان وليدل چې چرس څکوي،هغوی جاويد ته وويل:

- راسه دځوانانو پرې ته،دودکړه.

جاويد وخندل ويې ويل:نوش جان ،عملي نه يم.

کله چې کورته ورسيده،دانګړپر چوتره دده پلار عبدالباري او دهغه نږدې او پخوانی ملګری داوود دتل په څير ناست ول،چای يې څښه او مجلس يې ګرم کړی و.جاويد سلام واچاوو،پلار يې پوښتنه وکړه:

- زويه په خير راغلې؟

- هو پلاره،کريم اکا سلام وايه او يوه کوتره يې هم تاته رااستولې ده.

داود له جاويد څخه کڅوړه واخيسته او کوتره يې ترې راوايسته اول يې دهغې سترګو ته په ځير وکتل،بيا يې دهغې وزر خلاص کړل،او هره بڼکه يې په ځيروکتله،وروسته يې دهغې پښو ته په کتلو سره په ډير رضايت او خوشحالي وويل:

- عبدالباري!کاشکې سترګې دې لرلای او دغه(ژيړه ملاقي)دې ليدای سوای،ډيره ښکلې ده.

عبدالباري له جاويده وپوښتل:

- نه يې ويل چا را استولې ده؟

- ويې ويل،ستا پخواني ملګري عبدالرزاق را استولې ده.

عبدالباري دجهاد دوخت پخوانی ملګری ورپه ياد کړ،په ستاينه يې وويل:

- ميړنی دی.هيڅ وخت خپل دوستان نه هيروي،زه هم له خيره سره نيت لرم چې له نويو اکنو(دکوترې بچيانو) څخه يو دوه ورواستوم.

ده له جاويدڅخه پوښتنه وکړه:

–له اسماعيل ورور څخه دې کوم احوال نه لرې؟

– یه پلاره تر اوسه يې کوم احوال نه دی راغلی.

– د اکا کارونه دې څنګه وو؟

جاوید په داسې حال کې چې له داوود څخه يې کوتره نیوله په ټوکو او کنایه وویل:

– ښه و،کریم اکا نن ددوو موټرو سترګې عملیات کړې.

نابېره داوود په یټکي وخندل ویې ویل:

– خپل بابا به دې هم ور وستی و،چې دهغه(ډیم)څراغونه يې(فول) کړي وای.

عبدالباري دمخه پوه و،چې مسخره داوود به اوس یوه ټوکه پرې کوي،خپله امسا يې راپورته کړه او هغسې چې هغه يې پورته کوله چې داوود پرې ووهي،وغوریده:

– ناځوانه صبروکړه،که مې ستاماغزه اوس ډیم وفول نه کړل زما نوم به عبدالباري نه وي.

داوود چې تل د عبدالباري دلاسونو دلرګیو خوند لیدلی و،په بیړه يې ټوپ کړل څو دهغه له بریده ځان وساتي. عبدالباري غوږ ونیو او د داوود دتیښتې دلوري په معلومولو سره يې خپله امسا دهغه په خوا وویشتله.

داوود چې لا پنځه ګامه نه و تښتیدلی،دلرګي امسايې په څرخیدو سره په ملاولګیده،دی يې دپټوني ګلانو له باغچې سره راخملاوو،دداوود په بدن کې دپټوني ګلونو عطراودلرګي دامسا درد ګډ سول.

مریم چې غوښتل دجاوید په پیاله کې چای واچوي،ددغې منظرې په لیدو سره له خندا شنه سوه او دچای چاینکه يې په لاسونو کې هماغسې پاتې سوه.

جاوید د داوود خواته ورغی ترې ویې پوښتل:

– خوږ خونه سوې؟

– نه بچیه،ددوست لرګی درد نه لري.

جاوید هغه تر لاس ونیو او دګلانو له باغچې څخه يې را جګ کړ.داوود چې په پښو ودریده ، ویې ویل:

– هلکانو په خدای ددغه ړانده نښه تر موږ بیناوو ښه ده.

عبدالباري وخندل ویې ویل:

– زویه ته دجهاد په وخت کې هم چندان ښه نښه ویشتونکی نه وې دشورویانو دټانکونو پر ځای به دې اوښانو ویشتل.

عبدالباري بیا وخندل ویې ویل:

– راځه که ملا دې ملهم نه غواړي،چې چای سړېږي.

« عبدالباري او داوود پخواني یاران ول، عبدالباري پنځوس کلن سوی و،او داوود څوکاله تر هغه مشر و.هغوی دشورویانو پر ضد دجهاد په وخت په یوه جبهه کې جنګیدل، عبدالباري هغه وخت هم ښه تکړه نښه ویشتونکی واو هم تکړه قوماندان و،خو داوود ټوکي او کاکه طبیعته و.د عبدالباري دړندیدو پیښه هم د داوود دیوې غلطۍ له امله وه،هغوی دژمي په یوه سړه ورځ دشورویانو په کتار یرغل وکړ،سره له دې چې د عبدالباري زیاته وه خو هغه وخت یې پرمختللې وسلې نه درلودې ،جګړه سخته وه،دواړو یودبل ترڅنګ دیوې ډبرې شاته مورچل نیولی و او له بیرې پرته یې د دښمن په خوا چې ګیر سوی و،ډزې کولې،داوود به هرڅومره نښه نیوله نه سوای ویشتلی،اخیر یې زړه تنګ سو د ډبرې سرته یې ورټوپ کړل ډزې یې پیل کړې.

عبدالباري چې د داوود دغې غلطۍ ته پام سو،خپل ټوپک یې ایسته غورځار کړ او په یوه ټوپ یې داوود د ډبرې له سره په غیږ کې را واخیست ،خونور ناوخته سوي و،د دښمن توغندی یې خواته ولګیده او دواړه یې د ډبرې شاته غورځار کړل،د عبدالباري په سترګو تیاره راخوره سوه او مخ یې څو ځایه زخم سو.

خو داوود ته پرمځکه دلګیدو له امله له درد پرته کوم زیان نه و، رسیدلی. عبدالباري یې په خپلو اوږو دجګړې له ډګره راوایست لاپې دغره څو کږلیچونه نه و،وهلي چې پام یې سو چې د دولتي او شوروي سرتیرو په کلابندۍ کې دي ،هغه عبدالباري په ځمکه کیښود او دچارې په لټه کې سو ،نه پوهیده چې په دې سخت حالت کې څه وکړي ،د عبدالباري سترګو سوی کاوو،څلور خواوې یې په سره تت رنګ لیدلې.

عبدالباري له داوده وپوښتل چې څه خبره ده؟داوود ورته وویل:کلابند یو. عبدالباري ورته وویل:یوه لاره لا خلاصه ده.هغه پوښتنه وکړه: کومه لاره؟بیرته وګرځه هغه اول ځای ته.

داوود له ځنډه پرته عبدالباري په اوږو کړ او په سترې ساه دخپلو ملګرو خواته ورغی.هلته جګړه لا روانه وه او خال خال ډزې اوریدل کیدې.

داوود د ډېرې شاته عبدالباري پر ځمکه کيښنود،دوستان يې را ټول کړل،ټول د عبدالباري په ټپي کېدو خواشيني سول. عبدالباري ورته وويل: زما غم مه خورئ زه جوړ تيار يم،يوازې د دښمن له محاصرې څخه دتښتې فکر وکړئ.له هغه يې وپوښتل:څه وکړو؟ ده وويل:فکرکوم يوازينۍ لاره چې خلاصه ده دهمدغه کتار چې دلته ګير پاته دی مخامخ لاره ده.دهغه ملګرو وويل چې دغه لاره خطرناکه او اوږده ده،بايد له دښمن څخه مخامخ تير سو. عبدالباري وويل : بله لاره نه لرو.

داوود خواشينی و،پرځان يې لعنت وايه.ده ويل چې دا ټول دده له لاسه سوي دي. عبدالباري به چې داخبرې اوريدې په غوصه به يې ويل:که ما دا کار نه وای کړی ته وژل کيدې.

په هغه ورځ داوود خپله ملا ټينګه وتړله او عبدالباري يې يوه پلا بيا په شا کړاو دغره له کږليچونو څخه په تيريدو سره يې ځان او دمورچل ملګري د عبدالباري په لارښوونه دکلابندۍ له کړۍ څخه را وايستل او دهلمند په لوري ولاړل.

د عبدالباري سترګې ورو ورو تياره کيدې او دهلمند په دښتو کې يې دتداوي لپاره هيڅ ډاکټر نه و

داوود هلمند ته نږدې په يوه کلي کې له يوې اوونۍ تيرولو وروسته پريکړه وکړه چې عبدالباري دتداوي لپاره پاکستان بوزي.خو په پوله کې دولتي سرتيرو ونيول او بنديان سول.دوی دواړو،شپږکاله دزندان په يوه کوټه کې تير کړل او هغه وخت خوشي سول چې نور شورويان له وطنه وتلي ول.»

عبدالباري له جاويد څخه پوښتنه وکړه:

- دتوريالي ورور احوال دې لرې؟
- هو پلاره،هغه په خپل کار کې دی.

توريالی د عبدالباري مشر زوی د لارو جوړولو اينجنيرو،په وروستيوکې يې په هغه شرکت کې کار کاوو، چې دکندهار__ پنجوايي دسرک دقرار داد داخيستلو په هڅه کې و.

داوود چې لا تراوسه د عبدالباري دامسا له درده ځوريده،هغه ته يې مخ وروااړاوو،په ګيله يې ورته وويل:

- ناځوانه!لږبه دې سوکه وهلی وم.

عبدالباري په زوټه وخندل :دقروتو سزاتودې اوبه.

مريم چې لا تراوسه په يوه کونج کې ولاړه وه او دوی ته يې کتل،پلار ته يې وويل:

- بابا ټکور دې کړم؟

پلار یې ورېل: یه لورې دومره هم نه ده چې ټکور یې کړې،دپلار هډوکي دې کلک دي.

مریم شپاړلس کلنه وه،دې خپله مور نه وه ،لیدلې.مور یې د زیږون پرمهال مړه سوې وه.مریم له هغو نادرو افغان نجونو څخه وه چې غټې شنې سترګې او سپین جلد یې درلود،هغې خپلې اوږدې تورې زلفې چوټې کولې او تل یې تورې او سرې وطني جامې اغوستې.

دمریم پلار داوود صاف سړی و،پاک زړه یې درلود او فکر یې کاوو چې دنیا په غم نه ارزي،له هرچا سره یې ټوکې کولې او کنایې به یې ویلې.هغه دمریم دمور له مړینې وروسته بل واده ونه کړاو پخپله یې مریم رالویه کړه.کله کله به که مریم دخپلې مور په هکله پوښتنه کوله .داوود به له ساړه اسویلي سره ویل: « لورې مور دې فرشته وه ،لږ عمرېې درلود.»

مریم به پوښتنه کوله څنګه مو واده سره وکړ؟داوود به خندل ویل به یې: هیڅ پلار یې دخپلې لور شیریني راوړه او زما مخې ته یې کېښوده او مور دې زما ماینه سوه.

مریم باور نه کاوو،بیا به یې پوښتنه کوله: په دې آساني،داسې نو کیدای سي؟

داوود به ویل:هو لورې دلته داسې رسم و رواج دی که څوک ښه او زړه ور ځوان وي او شریفه او نامي کورنۍ هم ولري،داعیب نه دی چې څوک دخپلې لور شیریني دهغه کره ور وړي.

مریم به خندل او ویل به یې:ښه پلاره نو ته پخوا زړه ور اونامي ځوان وې.

پلار به یې خپل ږغ ډډ کړ:پلار دې دا اوس هم کاکه او زړه ور ځوان دی.

مریم به بیا پوښتل:پلاره کیسه راته وکه  زما دمور شیریني یې څنګه راوړه؟

داوود ویل:یوماښام چې زه له باغه بیرته راغلم،ومې لیدل چې زموږ کورته میلمانه راغلي دي،دپلار یاران او دوستان مې راغلي ول،په میلمستون کې ناست ول،خبرې یې کولې او خندل یې.مور مې هره شیبه د دروازې شاته تله او احوال به یې اخیست چې چای او ګوړه کم نه سي.ږغ یې راته چې زما پلارته یې ویل((لالی خانه!بختور یې ،ښه اولاد دې روزلی خدای دې یې نیک و مبارک کړي،دواړه دې خدای سره زاړه کړي)) مور مې د دروازې شاته په ټیټ پورې لاس نیولي،لړزیدله او دهغوی دخبرو په اوریدو سره اندیښمنه سوې وه.

دمور خواته ورغلم غوښتل مې وپوښتم چې څه خبره ده خو پلار مې دشیریني او دسمال پتنوس په لاس راووت زما مور ته یې پتنوس ورکړ ویې ویل:خدای دې مبارکه کړي،داوود له خیره سره زوم سو.))

جاوید بام ته وخوت څو نوې کوتره دنورو کوترو په منځ کې ایله کړي.پلار یې کابو دیرش رنګارنګ کوترې لرلې:سپینې کاغذي،سیاه چپ.کاسه دم،شیرازي،سیاه پتین او سوزپتین ددوی په منځ کې دکندهار له ښکلو کوترو څخه وې.ده سره له دې چې ددغو کوترو ښکلي رنګونه نه سوای لیدای خو دهغو له غومبر څخه به یې خوند اخیست.کله کله به ماښام له داوود او څو نورو ملګرو سره پر بام کیناست او دکوترو په الوزولو سره به یې غمونه هیرول.

تیره شپه چې کله عبدالباري کوتر خانه کلپ کړه هیر یې سول چې پورته سوری وتړي ،جاوید چې بام ته پورته سواو د کوتر خانې دروازه یې پرانیستله حیران سو،څه یې چې لیدل باور یې نه کیده په تاخچه کې هیڅ کوتره نه وه او دکوتر خانې غولی سور و،ده توره پشو ولیده چې دکوترخانې په کونج کې په سرو سترګو او په وینو ککړو منګولو دسپینې کاغذي کوترې په څیرولو لګیا وه .دجاوید وینې په جوش راغلې او په پشو یې حمله وکړه .پشو کوتره پریښوده دسترګو په رپ کې دجاوید له لاسونو راووتله .جاوید سپینه کاغذي له ځمکې را پورته کړه،په سینه کې یې څو ژورټپونه لرل او په وینو کې تپیدله.

## ۷

دعبدالباري منځوي زوی اسماعیل له مریم سره مینه لرله ،هغه به ځوروله او ټوکې به یې ورسره کولې،مریم کله چې پوه سوه اسماعیل یې دازارولو نیت لري ،دپلار څنګ ته به ورتله،پخپلو کتو به یې هغه پوهاوو،چې اوس دپلار ترڅنګ ده اوپه بشپړ امن کې ده.

اسماعیل دخپلو وروڼو په منځ کې زیات پلارته ورته و.له نورو وروڼو یوڅه چاغ و،تر هغو یې ونه لږ ټیټه وه،ده به تل کندهاری خامکدوزي کمیس اغوست،دمریو خولۍ به یې پر سر وه،دلیسې په دولسم ټولګي کې یې درس وایه،سره له دې چې دپنجوایي په ښوونځي کې نه لایقه ښوونکی و او نه هم ښه درس،خو اسماعیل کوښښ کاوو چې له نورو وروڼو څخه وروسته پاتې نه سي او ښه درس ولولي.

اسماعیل یوه شپه خوب ولید چې دکلي دویالي په غاړه ناست دی،دالجبر کتاب یې په لاس کې دی دازموینو لپاره تیاری نیسي،کله چې مریم له خپلوپسونو سره پر لاره تیریږي نابره دی اوبو ته اچوي،دی ویریږي او له خوبه را پاڅي.دخپل خوب په اړه له سوچ وروسته دې پایلې ته رسیږي چې یوه ورځ به مریم له ده څخه غچ اخلي،داچې څه ډول غچ به اخلي دی نه پرې پوهیده.

بله ورځ اسماعیل د ارې په پلمه د داوود کورته ورغی،مریم دروازه پرانیسته او د اسماعیل په لیدو سره شاته ولاړه، اسماعیل وویل:

—مه بیریږه له تاسره کار نه لرم،په اره پسې راغلی یم.

مریم ولاړه چې اره راوړي، اسماعیل په مینه او لیوالتیا دهغې بدن ته کتل زړه او لاسونه یې ولړزیدل دهغې له لیدو څخه یې خوند اخیست او مریم د اسماعیل له دې لیدو څخه ناخبره دکوریه کړلیچ کې پټه سوه.

چې بیرته راوګرځیده اسماعیل لا په یوه ناپېژندل سوي احساس کې لاهو و،دا لومړی ځل و،چې ده داډول احساس درلود،دمریم ژغ هغه را په هوښ کړ:

– واخله!

اسماعیل دارې داخیستلو لپاره لاس ور اوږد کړ،ویې پوښتل:

– پلار دې چیرته دی؟

– ستاسې درمند ته تللی دی.

مریم دا وویل ،په بیړه وتښتیده، اسماعیل بې ارادې ور ږغ کړ:

–مریمې!مریمې!ما برایي په خوب ولیدې.

مریم وشرمیده خپل ګامونه یې لا چټک کړل، اسماعیل زیاته کړه:

– پوهیږې!تا برایي په ویاله کې واچولم،او زه په چټلو اوبو کې غرق سوم.

مریم په زوټه وخندل:

– نوره مې هم وځوروه!

او په منډه دخپل کور د دالان په کړلیچ کې تاوسوه.

داسماعیل اره په کار نه وه ،هغه یې د دروازې شاته واچوله،له ځانه سره په خبرو له هغه ځایه لیرې سو:تاکله ځورول لیدلي دي؟داسې حال درباندې راولم چې ته هم ووایې شاباش! وروسته یې له ځانه وپوښتل:له څه شي غچ اخلې؟له خپله خوبه؟ویې خندل او درمند ته ولاړ.

اسماعیل چې درمند ته ورسید طالبان یې ولیدل،په دوې کې یې څو کسان پیژندل دکوز کلي ول،دری څلورو نورو یې خپل مخونه په لونګیو پټ کړي او پیژندل کیدل نه.

اسماعیل نږدې ورغی دهغوی یوه تن چې دکلمو غوندې تاوتاو تورپټکی پر سر و او خیرن او اوږده ویښتان یې لرل د اسماعیل پلار ته وویل:

–عبدالباري خانه مور، تاته احترام لرو،ته له شوروي سره دجهاد د دوران نامي قوماندان وې،خو دا غنم چې ته يې مور، ته راکوې لر، دي.

داسې ښکاريدل چې د اسماعيل پلار دهغه له را رسيدو دمخه له دې سړي سره ډير جنجال کړی،ځکه خو يې دهغه په ځواب کې څه ونه ويل،خو پرځای يې داوود وويل:

– ملا صاحب دا زور ګيري ده،تاسې ته عشر درکړواو حکومت ته ماليه.بزګر ته چې ټول کال يې زحمت ايستلی څه پاته کيږي؟

دطالبانو قوماندان نابېره په غوصه سو:

– ته داووده خبرې مه کوه!په تاپې څه.زه و ته به ځانته خبرې کوو،هروخت چې ستا انار ورسيدل بيا به حساب سره کووااوربښتيا هير مې نه سي :څوک چې حکومت ته ماليه ورکوي ...خوري که مور، خبر سو چې چا حکومت ته ماليه ورکړې کور او درمند يې دواړه سوځوو.

عبدالباري چې تر اوسه پټه خوله و،نابېره يې خپله امساپورته کړه:

– اوو دعبدالرحمان زو!ته ورسه دخپل پلار قبر ته او روح ته يې دعا وکړه،له هغه پوښتنه وکړه چې دجهاد په وخت کې يې دغسې زور ګيري کړې.ربښتيا چې له اوره ايرې پاته کيږي،پلار دې پخپل ژوند کې څوک نه و،ازار کړي او ته په زور عشر غواړې،وشرميږه بې غيرته!

دطالبانو قوماندان خپلو کسانو ته دحرکت امر ورکړ:

–ځئ چې ځو،وروسته به له دوی سره خبرې کوو.

چې دوی له هغه ځايه ليرې کيدل، عبدالباري پرې ږغ کړ:

–که دې په کلي کې يو درمند ته اور واچاوو،نوښه ورځ به ونه وينې،که مې سترګې ړندې دي،پر ځای يې زرګونه ملګري او دوستان لرم چې په يوه ږغ او په تش لاس به مو له سيمې وباسي.

طالبان ولاړل داسماعيل پلار لا په غوصه و،تر شونډو لاندې يې کنځلې کولې.

داوود او څو کسه ګاونډيان چې دمرستې لپاره راغلي ول،په کار اخته سول دغنمو بوجۍ يې په خرو بار کړې او کورته يې يوړې. اسماعيل هم پلار تر لاس ونيوکورته ولاړل.

دشپې چې اسماعیل پخپل بالښت سر کېښود دمریم په سوچونوکې لاهو سو.مریم ډېره پرې ګرانه سوې وه دهغې په باره کې فکر کول ورته خوندور و،اسماعیل پریکړه وکړه نور مریمه ونه ځوروي په همدې فکر ویده سو.بیا یې مریم په خوب ولیدله چې په هغه ځای کې او په هغه ویاله کې دی اوبو ته اچوي.

خوداپلا ویاله ختې او چکړې نه لري ویاله دیوه دریاب غوندې لویه ده او دآسمان غوندې پاکې ساپې اوبه لري،داسماعیل لامبو نه وه ،زده او اوبو یووړ.

اسماعیل سهار وختي دخپل پلار په چیغو را ویښ سو،دپلار یې له چا سره لانجه وه اسماعیل په تلوار له بالاخانې را کوز سو او د انګړ دروازې ته ورغی،داوود هم هلته و.داپلا دولسوالي پولیس راغلي ول او مالیه یې غوښته.یوه پولیس وویل:

– ده ـــ یک،دحکومت حق دی ته یې باید ورکړې!

داسماعیل پلار وویل:

– په سترګو، ده–یک حکومت ته ورکوم. خوته د ولسوال او دهغه دساتونکو حق هم غواړې،هغوی نور پر ما څه حق لري ؟

– عبدالباری خانه! زما ماغزه مه راخرابوه. ما دسلو منو خط درباندې راوړی دی ،راکړه چې ځو.

داوود چې دپولیس وسلې او جامو ته ځیر و،نابېره ددوی په خبرو کې ور ولوید:

– ته پرون ماښام له طالبانو سره هم راغلی وې،مخ او پزه دې پټ کړي خو زه دې پیژنم،له جامو او ټوپکه مې وپیژندې،والله عجب وخت راغلی،دورځې پولیس دشپې طالب.

هغه چې د داسې رسوایي انتظار نه درلود،په وارخطایي وویل:

– غلطه کړې دې ده، زه هغه سړی نه یم.

– څه زویه موږ کوچنیان نه یو.

عبدالباري بې حوصلې سو، ویې ویل:

–که پولیس یې که طالب زموږ یې پرې څه،موږ ددوو ډبرو په منځ کې اوړه کیږو.یوازې زه نه دپنجوایي ټول خلک په دې لانجه اخته دي،که تریاک کري،که انار،یا انګوراو غنم لري بایدطالبانو او حکومت دزورواکو ترمنځ یې وویشي.

هغه دا وویل او آسمان ته یې خوله ونیوله:

–خدایه!موږ ددغو له شره خلاص کړه.

داوود دولسوالي کاغذ واخیست ویې ویل:

– څه موږ پخپله دولسوالي حق درلیږو او داهم ولسوال ته ووایه چې تر دې زیات یوه دانه غنم هم چاته نه سو ورکولی.

د ولسوالي پولیس ولاړل.داوود او عبدالباري کورته ولاړل،داسماعیل ترور(عمه)چای پوخ کړی و.

داسماعیل ترورزرمینه نومیده،څلویښت کلنه وه،خوداسې معلومیده لکه چې اویا کلنه وي. هغې یو کال دمخه دناټو په یوه اشتباهي بمباري کې خپل څلور زامن،لور او خاوند له لاسه ورکړي ول .زرمینه له هغې ورځې وروسته دخپل وروروعبدالباري کره اوسیده،ډیرې لږخبرې به یې کولې،تل به په ډوډۍ پخولو،کالو مینځلو او جارو بوخته وه.دې په ورځ کې اووه اته پلا چلم څکاوواو له ځانه سره به یې پټ پټ ژړل،دشپې به یې هم ددې لپاره چې خوب ورسي د اورلګیت دسر په اندازه تریاک خوړل.

ټول راټول سوي ول او دسهار چای یې سوراوو،چې نابېره دانګړ دروازه سخته وټکیده،اسماعیل ورغی دروازه یې خلاصه کړه،پولیس ول،یوه یې اسماعیل ته وویل:

– داوود ته وروږغ کړه.

داوود دچایو پیاله پر ځمکه کیښوده او دروازې ته ورغی،پولیس ورته وویل:

– څه چې ولسوال غوښتی یې.

داوود بې له ځنډه وویل:

–څوک بیروې،مخته سه چې ځو.

عبدالباري چې ددوی شور زوږاوریدلی و، په بیړه را پاڅیده ،خور ته یې وویل:

– امسا مې راکړه.

زرمينې په تلوار امسا په لاس کې ورکړه، عبدالباري په بيړه دروازې ته ورغی،پوليسو ته يې وويل:

- زه هم درسره ځم.
- يه،ته يې نه يې غوښتی.

هغوی داوود ورسره بوت، عبدالباري خواشينی او ناکرار و،ترغرمې ورته سترګې په لار و او دهغه راتلو ته يې شيبې شميرلې،خو دهغه پته ونه لګيده.

عبدالباري له غرمې وروسته له اسماعيل سره يوځای ولسوالي ته ولاړ،خو دولسوال دليدو اجازه ور نکړل سوه.له څه انتظاره وروسته له ولسوالي څخه د عبدالباري يو پخوانی ملګری راووت دوی ته يې وويل چې داوود يې ډير وهلی ټکولی دی،سل منه غنم را واستوئ کيدای سي هغه را خوشی کړي.

د عبدالباري پښې سستې سوې هماغلته پر ځمکه کيناست،لاسونه يې لړزيدل او داچې دده وفادار دوست يې وهلی و،حال يې ډير بد و.

اسماعيل چې وليدل دپلار حالت يې ښه نه دی په بيړه يې له دکانه اوبه راوړې، عبدالباري يوسور وڅښلې اسماعيل ته يې وويل:ځه چې کورته ځو.

عبدالباري چې کورته راورسيد،کليوال يې را وغوښتل سل منه غنم يې ور وسپارل چې ولسوالي ته يې يوسي.

هغه ورځ ماښام داوود راغی، عبدالباري چې دهغه دپښو ږغ واوريده په خوشحالۍ يې وويل:

–راغلې؟

داوود په خندا وويل:

–که دې غنم نه وای ور استولي،ښايي نه وای راغلی.

–زورواکوبدعملو،ډير ووهلې؟

– يه چا ويل؟له سهاره تر اوسه مې له پوليسو سره کيسې کولې او چای مو څښنه.

–نوموږ ته يې درواغ ويلي؟

– هو بيخي.

د عبدالباري زړه په کرار سو،داوود ته يې وويل راځه چې ډوډۍ وخورو.

داوود وویل په ولسوالي کې مې په مړه ګیډه ډوډۍ خوړلې زړه ته مې نه کیږي،ځم چې مریمه خواشیني نه سي.

داوود کورته ولاړ،لور ته یې په زګیروي ور ږغ کړ:

– مریمې ټکور راوړه.

داوود دا وویل او خپل کمیس یې ویوست،دکیلونو ځایونه سره سوي ول،د داوود پر ځای که هر څوک وای د زګیروي توان به یې هم نه درلود.

مریمه له ټکور سره راغله،دپلارداوړو او ملا په لیدو یې چیغه کړه:

– ای وای خدای مې دې مړه کړي!دا عبدالباري اکا څومره ظالم سوی دی.

– لورې!دا د عبدالباري دامسا ځایونه نه دي،دکیبل ټپونه دي،کاشکې عبدالباري وهلی وای،یوه ډارن نامرده ووهلم چې دورځې پولیس دی دشپې طالب.

## ۸

پر پنجواي شپې وزرونه غوړولي و، اسماعیل خپل چپرکټ بام ته خیږولی و،هغسې چې ستوني ستاخ پروت و،دخپلو وروڼو توریالي او جاوید په باره کې یې سوچ کاوو،شکر یې کاوو چې هغوی په دې سختو ورځو کې نسته او دا ورځې نه دي پرې راغلې.

توریالی له خپل ریس سره دپنجوایي دسرک دقرارداددلاسلیک کولو لپاره کابل ته تللی و او جاوید له څه وخته راهیسې په کندهار ښار کې دخپل اکامستري کریم کره ژوند کاوو.

اسماعیل د داوود له ځیرې پوه سوی و،چې په ولسوالي کې وهل ټکول سوی دی داچې پلار یې دړندوالي له وجې نه و،پرې پوه سوی ده دارامي احساس کاوو.

اسماعیل دمریم په باره کې فکر وکړ،دهغې کوچني او سپین لاسونه یې ولیدل چې خپل پلار ټکور کوي،وروسته یې دهغې زرغونې سترګې ولیدې،چې څاڅکی څاڅکی اوښکې ترې بهیږي،پرهغې یې خوا بده سوه.

اسماعیل دپنجوایي آسمان ته وکتل،آسمان له ستورو ډک و،ستوري ځلیدل او کله کله به یې ده ته سترګکونه کول،ده دګڼو ستوروپه منځ کې یوروڼ او ځلیدونکی ستوری په نظر کې ونیو،له ځانه سره یې وویل: ښایي دغه ستوری زما دبخت ستوری وي،خوله لږ ځنډ وروسته ستوری روان سو،دسترګو په رپ کې ورک سو،یوه خړه کرښه پاتې سوه. اسماعیل وخندل تللی ستوري ته یې وویل:تیښته دې دمریمې غوندې وه.

نیمه شپه وه چې اسماعیل احساس کړه دروازه ټکیږي وروسته پوه سو چې پلار یې هم ورته ږغ کوي.په سختي له ځایه پورته سو له ځانه سره یې وویل:داځه مصیبت دی،سړی یوه شیبه ارام ته نه پریږدي،خوبولي یې د دروازې له شا وپوښتل:

– څوک یې؟

– دروازه خلاصه که.

– څه خبره ده؟

–دروازه خلاصه که!پلار ته دې هم ووایه چې ملاصمد راغلی دی.

عبدالباري چې له خپلې امسا سره د دروازې شاته رسیدلی و،پوښتنه وکړه چې څه خبره ده؟

– په عشر پسې راغلي یو.

– اسماعیل دروازه خلاصه کړه،کابو لس مخ پټي طالبان کورته ننوتل،عبدالباري وویل:

– – غنم مو لا کندوانو ته نه دي اچولي،دانګړ په منځ کې پراته دي،ټول درسره یوسئ،خدای دې ستاسې په کار کې برکت واچوي.

عبدالباري داوویل اسماعیل ته یې مخ ورواړاوو چې دغنمو په بارولو له هغوی سره مرسته وکړي.

طالبانو پاتې غنم یوووړل،سپیده داغ اسماعیل چې سخت ستړی سوی و،بام ته وخوت له چپرکټ څخه یې خپل څادر راواخیست دپلار خونې ته ورغی،پلار یې لمونځ ادا کړی و،تسبیح یې تیرولې،ده پلار ته وویل:

– کاشکې اول موغنم ورکړي وای،دومره زحمت به مو ولې لید.

عبدالباري خپلې تسبیح په جیب کې واچولې،دعاېې وکړه،په ارام ږغ یې وویل:

– ته لاکوچنی یې.

۹

دماسپښنین خواته اسماعیل د انګړ له دروازې سره ناست و،چې داوود دکوڅې له پایه را ښکاره سو، اسماعیل له ځایه را ولاړ سو سلام یې وکړ،پوښتنه یې وکړه:

–داوود کاکا په خیر!

–ځم دولسوالي بازار ته،دڅراغ تیل خلاص سوي،چې دشپې په تیاره کې پاته نه سو.

– داوود کاکا زه به پسې ولاړ سم.

– یه خیر یوسې،زه پسې ځم،نور شیان مې هم په کار دي.

داوود ولاړ او اسماعیل دمریمې په فکر کې سو.نابېره یې نیت وکړ دهغې احوال واخلي.چې دروازې ته یې ور ورسید،په زړه یې سو چې په دې وخت کې مریم د پسونو دپوولو لپاره باغ ته ځي،د داوود دباغ په لوري روان سو،سوکه دباغ دیواله ته ورپورته سو ځان یې باغ ته ور واچاوو او د انار د ونو ترشا پټ سو.

د داوود باغ کابو څلور جریبه و او د انارو،انګورو او زردالو ونې پکې کینول سوې وې. اسماعیل د انار دونې ښاخ ورو یوې خواته کړ،انار له یوبل سره ولګیدل او دانار ونه وښوریده،دونې له شا د اسماعیل سترګو مریمه لټوله.مریم لږ لیرې رشقه او واښه ریبلي ول چې ستړې سوې وه نو د ریبل سویو وښو په پنډه خوب وړې وه.

دمریمې پسونه دهغې شاوخوا څریدل، اسماعیل سوکه سوکه دانار دونو له شا دمریمې په لورې روان سو،چې ورنږدې سو،دهغې دننداري لپاره کیناست.

مریم دآسماني فرشتو غوندې ویده وه،زلفې یې ددوو مارانو په شان سره تاو سوې او په رشقه پرتې وې.دمریم ځیره ځلیده او هغه ځلیدونکي ستوري ته ورته وه چې اسماعیل تیره شپه دپنجوایي په آسمان کې لیدلی و.

باد دمریمې کمیس پورته کړی و او دمریم دنس یوه برخه ښکاریده. اسماعیل ددې صحنې په لیدو سره په غیرت راغی،ورو ورو دهغې خواته ورغی چې نس یې پټ کړي،چې مریم ته ور ورسیده دهغې دکمیس څنډه یې ورو ونیوله چې هوار یې کړي،خو نابېره یې ټول بدن په لړزا سو،بې اختیاره یې دهغې له نس څخه مچه واخیسته.مریمه له خوبه پاځیده او د اسماعیل په لیدو یې رنګ والوت،تلولی سوه،ژبه یې بنده بنده کیده.

اسماعیل دتښتي په حال کې ورته وویل:

– اخیر به زما سې!زه و ته به واده سره کوو.

## ۱۰

مازدیګر به یې رمي او پادې کورته راوستي،غوبه د داوود دوه غواوې په لاره کې ور وسپارلې او ولاړ.غواوو ته خپل ځای معلوم و،له یوې ورځې څریدو څخه وروسته یې غوښتل ارام وکړي،داخور خواته ولاړې،داوود وروسته چې ډاډه سو غواوې خپلو ځایونو ته ولاړې دقروتو کڅوړه او دقروتو زوولو خاوری(سنک) را واخیستل مریم ته ورغی،مریمې دالکین ښیښنه پاکوله.

- نن شپه قروت سره وخورو.
- پلاره صبر وکړه،دالکین ښیښنه ځای پر ځای کړم،زه پخپله قروت زدویم.
- یه لورې دقروتو زودل زما کار دی،پخول یې ستا.
- مریم موسکې سوه ویې ویل:
- سمه ده.

قروت د داوود تر لاسونولاندې یو په بل پسې واړه او موښل کیدل او شیبه په شیبه دقروتو اوبه په خووري کې زیاتیدلې.

مریمې دالکین ښیښه ځای پر ځای کړه هغه یې یوې خواته کیښود چې وروسته یې ولګوي چې په دې وخت کې دروازه وټکیده،داوود خپل لاسونو ددسمال په پیڅکه پاک کړل او خووری یې مریمې ته ورکړ:

– واخله بابا نوربس دي.

داوود ورغی د دروازې ټمبه یې چې څو شیبې دمخه یې اچولې وه پورته کړه،دروازه یې پرانیستله سترګې یې دکوزکلي په ملک او څونورو سپین ږیرو ولګیدې،له هغو سره یې روغبړ وکړ،پوښتنه یې وکړه چې څه امر وخدمت دی؟هغوی ورته وویل غواړي له ده سره خبرې وکړي،داوود دمیلمه پالنې په دود هغوی کورته بوتلل.ملک له ټولو پورته په توشکه کیناست داود دچای له راوړلو وروسته خبرې پیل کړې:

– څه عجب،څنګه مو موږیادکړو؟

ملک وویل:

–ښه نو اخیر سره کلیوال یو،باید دیوبل احوال واخلو.

– دانارو او انګورو حاصلات څنګه دي؟

– ښه دي الحمدالله سږ کال بد نه دي.

داوود چې ددوی مخې ته چای او شیریني ایښودل ددوی دراتلو په اړه یې فکر کاوو،خو نه یې سوای کولای وپوهیږي چې د څه لپاره راغلي دي.

ملک له لږ ځنډ وروسته په داسې حال کې چې پخپله سپینه ږیره لاس را تیراوو،وویل:

– په اصل کې موږ دیوه خیر دکار لپاره راغلي یو.

داوود ونه پوهیده:

– پوه نه سوم ،دڅه لپاره راغلې یاست؟

– په مرکه راغلي یو.

ملک صاف ساده وویل چې ملاصمد دوی دمریمې دغوښتلو لپاره رااستولي دي.

د داوود سر پرې وګرځيد،هغه دخپلې ميرمنې له مرګه وروسته دمريم لپاره هم پلار و،هم مور.هيڅ فکر يې نه کاوو دګرانې نازولې لور د ودولو وخت دې را رسيدلی وي،زړه يې ولړزيد،ملک ته ځيرسو.

ملک خپل آواز صاف کړ:

– ګوره داووده!صمد قوماندان دی پنځوس ــ شپيته کسه ټوپکوال لري،اوس يې موږپه مرکه را استولي يو،خپل سوچ دې وکړه،ان شآالله لور به دې نيکمرغه سي.

دملک آواز د داوود په غوږونو کې ازانګې کولې((صمد قوماندان دی پنځوس ــ شپيته کسه ټوپکوال لري ،اوس يې موږپه مرکه را استولي يو،خپل سوچ دې وکړه،ان شآالله لور به دې نيکمرغه سي)) دغه غږ تکرار او تکرار سو،ملک نورې خبرې هم وکړې ،خو داوود وانه وريدې او وروسته يې سترګو ته يو ټوپکوال سړی مخې ته ودريد چې غوښتل يې مريم يې دريمه ښځه سي،دکيبل دځو وروځو مخکې ټپونه يې تازه سوو او درد يې پيل کړ.

ديوه ميلمه ږغ دهغه دملا دردونه نور هم زيات کړل:

– ځواب ځوورځې وروسته غواړو،ته په دې باره کې سوچ وکړه.

داوود په په لوړآواز وويل:

– ځواب دا اوس درکوم!که مړ هم سم دملا صمد لاس به مريمې ته ونه رسيږي او اوس تاسې زما له کوره ولاړ سئ.

دصمد له خوا را استول سوي کسان دچای له څښلو پرته د داوود له کوره ووتل.

## ۱۱

دمرکې له تلو سره داوود غرونه غمونه په زړه مریم ته مخامخ کیناست،مریمې داورلګیت قوطی په لاس کې نیولی او دهغه انځور ته یې کتل:

– پلار جانه!څوک و،څه یې ویل؟

– دومره خبره نه وه،دانارو درانیولو لپاره راغلي ول،خوما ورته وویل چې انار نه دربانديې خرڅوم.

مریم الکین ولګاوو او دخونې په منځ کې یې پرتغر کیښود،پلار یې ورته ځیر وکتل،دمورغوندې سوې وه،هماغسې جګه پوزه،زرغونې سترګې او ګڼې وروځې یې لرلې.مریم وپوهیده چې پلار یې خواشینی او له خپل ځان سره په جنګ دی.

– پلاره خیرت دی،څه سوي دي؟

– لورې څه خبره نه ده،ستا مور مې رایاده سوه.

مریم چې پوهیدله پلار یې کلونه کلونه له خپلو خاطرو سره اوسیدلی،په ټینګار یې وویل:

– نو پلاره ووایه زما دمور کیسې وکړه.

داوود کړکۍ ته وکتل او بیایې وریځ آسمان ته وکتل،په آسمان کې هیڅ ستوری نه تر سترګو کیده.

– پلاره کیسه وکړه!غواړم دمور په باره کې راته ووایې!

داوود څه ونه ویل،سوکه له ځایه پورته سو دکړکۍ خواته ولاړ،دښیښې دوړې یې پخپل لاس پاکې کړې،هره خوا تیاره وه،لکه هغه شپه چې دمریم مور مړه سوې وه،سوړاسویلی یې له خولې ویوست وروسته په خپلو خاطرو کې لاهو سو.

«داوود دملالۍ څیره دواده په شپه لیدلې وه،له هغې ورځې څخه چې دهغې پلار ددوی کورته دهغې دشیریني دسمال راوړی و دیارلس میاشتې تیرې سوې وې چې ملالۍ یې ولیدله،په دې موده کې به چې داوود سر پر بالښت ایښووده دملالۍ څیره به یې پخپل فکر کې انځوروله ،سره له دې چې پوهیده هغوی کوچیان دي او داوسیدو لپاره ځانګړی ځای نه لري خو کله کله به یې هغه په خیال کې یوه ښاري نجلۍ سوه ،کله هم کلیواله او کله کله ښاپیرۍ.لکه دقاف دغرونو دهغې خوا ښاپیرۍ چې ده دقوم له سپین ږیرو څخه یې دهغو په اړه اوریدلي ول.

کله یې چې هغه ولیدله،دواده شپه وه،شین لوی شال یې پر سراچولی و،لاس یې دده په لاس کې و،ونه یې لږ تر داوود ټیټه وه،کلیوال او خپلوان یې ګډیدل او سندرې یې ویلې،خوداوود نه څه لیدل نه اوریدل،ټول سوچ فکر یې ملالۍ ته و.داهغه شیبه وه چې تر یوه کال زیات یې په تمه و او اوس را رسیدلې وه،له ځانه یې پوښتل،ښه که هغه مې خوښه نه سوه څه؟ ځواب به یې ورکاوو((دبیرته شاته تګ لاره نه لرې،هرڅه وي ماینه دې ده،پلار قبوله کړې،له تا یې هیڅ پوښتنه نه ده کړې))دعا یې کوله چې میرمن یې بدرنګه نه وي او ښه خوی ولري،ټول حواس یې ملالۍ ته و،او دهغې دلیدو لپاره یې شیبې شمیرلې خو ملالۍ کومه بیړه نه لرله،ځکه چې هغه یې دټیکري له کونجه لیدلی او خوښ کړی و.

له څو ساعته اتڼ اونڅا وروسته چې ټول ستړي سوي او خولې پرې را ماتې وې،دوی یې بوتلل په چپر کټ یې کینول هنداره یې په لاسونو کې ورکړه او د آیینه مصاف دمراسمو لپاره یې لوی شال پرې وغوړاوو،هغه یې په هنداره کې ولیدله،سپوږمۍ وه،ګل وه،دقاف دغره ښاپیرۍ وه.سره آننګي یې انار او سترګې یې د زلال اوبوچینې وې.موسکا یې پر شونډو خوره وه دښو په اشاره یې له هغه وپوښتل:خوښه دې سوم؟

باور یې نه کیده چې داسې ښکلې ښځه دې یې په نصیب سوی وي،له هنداري یې سترګې دملالۍ په خوا واړولې هنداري دروغ نه و،ویلي،ترسپوږمۍ ښکلې او تر ګل نازکه وه،تورې زلفې یې داوبو دآبشار غوندې په غوږونو اوسپینې غاړې را خورې وې او ددې پر اوږو یې دخوشبويي وږمې خورولې.

څو شیبې وروسته یې ددوی له سره شال ایسته کړ او داوود یې له لاهو کیدو وژغوره.

ده او ملالۍ خوشحاله ژوند پیل کړملالۍ هم عالي صورت درلود هم سیرت.دغرونو په لمنو او دښتو کې به یې رمې پوولې،پسونه پرې ګران ول په دې توګه یې خپل کوچیتوب ثابتاوو،داوود یې هم مخه نه نیوله هر چیرې به چې تله دسیوري غوندې به پسې و،ملالۍ به چې لیدل هرځای پسې دی او ساتنه یې کوي خوشحالیدله به.

داوود به دپټیو پر پولو کیناست په ساعتونو به یې ددې ننداره کوله ملالۍ به چې لیدل دی یې ننداره کوي لرګی به یې پر ملات پورې له داوړو خواوو ونیو او په ناز به خرامانه دده څنګ ته راتله ،داوود به ددې په راتلو او نازونو خوشحاله سو او ددنیا غمونه به یې هیر کړل،چې څنګ ته بې راورسیده څلور خواوې به یې ښې وڅارلې چې ډاډه به سوه څوک نسته خپل لاسونه به یې پر داوود را چاپیر کړل دهغه په غوږونو به یې له نازه خوله ولګوله او سوکه سوکه به یې غاښونه پرې ټینګول څو به چې داوود چیغه وکړه،له هغه وروسته به ملالۍ تښتیدله او داوود به له شا منډې پسې وهلې، ملالۍ به دانارونو شاته پټه سوه په دې ډول به یې غوښتل داوود ددې د رانیولو لپاره زحمت وګالي او مچکې یې وړیا نه وي.

ملالۍ دشیدوپه لوښلو هم ښه پوهیدله ،داوود به چې ورغی ددې دشیدو لوښلو ننداره وکړي،دې به دمیږې تی دده پر خوا راکوږ کړ او په فشار سره به یې شیدې د داوود پر مخ او سر وپاشلې،داوود به خپل مخ پټ کړ،لیرې به ورته کیناست،دې په خندا ویل:(( ولې وتښتیدې راشه دمیږې لوشل زده کړه)) داوود به ویل (( یه دلته ښه ده،دلوشلو ننداره له دې ځایه ښه کیږي.»

داوود چې یوه ورځ سهار له خوبه پاڅید،ویې لیدل چې ملالۍ دتل په څیر وختي پاڅیدلې او تللې ده،ده هم څه ډوډۍ،چای او پوڅه ورسره واخیسته باغ ته ولاړ څو دواړه یوځای دسهار ناشتا وکړي،خو چې له زینو را ښکته سو ویې لیدل چې پسونه پر خپل ځای کې دي او ملالۍ نه دي بیولي،ټول ځایونه یې ولیدل ترڅو یې هغه دڅاه په غاړه پیداکړه،سراو بدن یې لامده ول رنګ یې الوتی و،پوښتنه یې وکړه:ملالۍ پر تا څه سوي؟

ملالۍ له څو هیټکیو وروسته وویل:

– نه پوهيږم، کله مې چې غوښتل رمه باغ ته بوزم،زړه مې بدبدسو.

دهغې مخ يې پرخپل رومال پک کړه او کورته يې بوتله.مور يې چې پوه سوه ملالې ته زړه بدوالی پيداسوی،ويې ويل:مبارک دې وي،اميندواره سوې يې. او حلوا يې خيرات کړه.

ملالۍ په بد حالت وه،دورځې دری ـــ څلور پلا زړه بدوالی ورته پيدا کيده،دډيرو شيانو بوی بد پرې لګيده ورو ورو يې باغ ته تلل لږ کړل،او چې نس يې لوی سو بيخې په کور کې کيناسته.نوريې نو هغه پخوانۍ ټوکې اوشوخ کاته نه کول،لاس يې ملا ته نيو او داوود ته يې ويل:مورږ نو کله داسې ژر اولاد غوښت،داځه وسوو؟

دژمي په يوه سړه شپه دملالۍ دزيږون دردونه زيات سول،داوود له نږدې کلي څخه قابله راوسته ،روغتيا پاله دری ورځې دملالۍ سرته ناسته وه،ملالۍ ځوريده او چيغې يې وهلې،دهغې سوې نارې تراوسه د داوود په غوږونوکې انګازې کوي،دی دشپاړلسو کلونو له تيريدو وروسته هم هغه دردناکې ورځې نه هيروي.

هغه شپه دپنجوايي په آسمان کې ستوري او سپوږمۍ نه ليدل کيدل،دهغه په ژوند کې دا لومړی ځل و چې داسې تياره شپې يې ليدلې،لکه آسمان چې پر پنجوايي تور رنګ پاشلی وي،هرځای تياره تياره و،بنيادم خپل ځان نه سوای ليدلای.

نيمه شپه وه چې روغتيا پاله الکين په لاس له کوټې راووته ،الکين کمزورې رڼا کوله او د زړنو پلته يې هغه څراغ ته ورته و،چې تياره او تروږمۍ پرې بره سوې وي،روغتيا پالې رږغ وکړ: داووده چيرې يې راسه چې ملالۍ مړه سوه.

داوود څو پلا تر شونډو لاندې وويل: ملالۍ مړه سوه. ملالۍ مړه سوه.او وروسته چوپ سو.مريم چې نه و،غوښتې دپلار چوپتياماته کړي،دهغه د ټيټ غږ په اوريدو سره يې ورو وويل:

پلاره!مور مې ولې مړه سوه؟

داوود دآسمان له تيارې څخه دالکين بې ساه رڼا ته سترګې واړولې،څراغ ديوه پتنګ وزرونه سوځولي و ، پتنګ دڅراغ ترڅنګ تپيده او دالوتلوهڅه يې کوله.

داوود ولاړ سو په ټغر ناست پتنګ یې دګوتو په سرونوراپورته کړ،دهغه سویو وزرونو ته یې وکتل،سوکه یې وویل:ملالۍ هم پتنګ وه،لږ عمر یې درلود.

ده دا وویل بیا دکړکۍ خواته ولاړ،پتنګ یې دشپې په تیاره کې خوشی کړ،راغی مریمې ته مخامخ کیناست بیا یې په ټیټ آواز وویل:

- غواړي دملالۍ یادګار راڅخه واخلي،زه به نو ژوندی نه یم.
- پلاره څه دې وویل؟غواړي څوک له تا واخلي؟

داوود ځواب ورنه کړ مریمې ته چې ځواب ته په تمه وه ځیر سو:دملالۍ یادګار ځوانه سوې وه.

## ۱۲

هغه شپه داوود تر سهاره سترګې پټې نه کړې،له ځانه سره په جنګ و،پريکړه يې وکړه چې دجهاد دوخت ټوپک له خاورو را وباسي، صمد ووژني او ځان ترې بې غمه کړي.خو سهار يې پريکړه بدله کړه او مريمې ته يې وويل چې هغه به ډير ژر دخپل بخت کور ته واستوي،مريمه دپلار ددې خبرې په اوريدو سره وتبنتيده او دپخلنځي په کونج کې پټه سوه،داسماعيل په سوچ کې سوه چې ويلي يې و((اخير به زما سې،زه او ته به واده سره وکړو))

داوود هغه ورځ خپل څو تنه ملګري او کليوال راټول کړل،دولسوالي له دکانه يې چاکليټ او دسمال راونيول او دعبدالباري کورته ولاړل.

عبدالباري ددوی دېښو دڅرپهار په اوريدو سره چې يوپه بل پسې دهغه ميلمستون ته ننوتل،په انديښنه يې وپوښتل:څه خبره ده؟

داوود وويل:

–راځه چې کورته ځو،انشآالله دخير کار دی.

عبدالباري خپله امسا را واخيسته په بيړه په داوود پسې ميلمستون ته ولاړ،دديوال څنګ ته له کيناستو سره يې وپوښتل:

– داووده!څه خبره ده؟وايه چې نابينا سړی ژر په انديښنه کې لويږي.

داوود له ځنډاومقدمې پرته وويل:

– دمریم شیریني مې ستا دمشر زوی توریالي لپاره راوړې ده.

عبدالباري په خوشحالي وویل:

–رښتیا وایې؟

داوود خپلو کلیوالو او مشرانو ته مخ ور واړاوو په اشاره یې ترې وغوښتل چې دده خبره تایید کړي،کلیوالو په یوه آواز وویل:

– سمه ده.که ستا قبوله وي خدای دې یې نیک او مبارکه کړي.

عبدالباري په خوشحالي وویل:

– داووده زه دغه دوستي او وصلت دزړه له کومي منم.

داوود وویل:

– نو چې داسې ده،توریالی له کابله راوغواړه چې دجمعې په ورځ واده دی.

جمعې ته دری ورځې پاتې وې عبدالباري په وارخطایي وویل:

– دغه راتلونکې جمعه؟

داوود بې له دې چې دتیرې شپې دجریان په اړه څه ووایي،وویل:

– هو.

عبدالباري په سوچونو کې لاهو سو،ده داوود پیژاند،پوه سو چې څه پیښه سوې چې داوود داسې بیړه لري،نو ویې ویل:

– مبارک دې وي،ځه نو تیاری ونیسه.

عبدالباري دا وویل وروسته له امسآ پرته دخونې یوه کونج ته وښوییده،تاخچې ته یې لاس ننویست یو دسمال یې راویوست، په دسمال کې څه پیسې غوټه سوې وې، عبدالباري پیسې د داوود خواته کیښودې ویې ویل:

– هه دا واخله که نورې په کار سوې توریالي ته وایم،چې له ځانه سره یې راوړي.

داوود پیسې واخیستې ویې ویل چې ښایي نورو ته اړتیا پیدا نه سي،ځکه چې خپله هم څه پیسې لري.

داوود له کلیوالو سره یو ځای ولاړ او دواده دتیاري په لټه کې سو.

اسماعیل چې له ښوونځي راغی،پلار یې هغه ور وغوښت ورته وېې ویل:دجمعې په ورځ دتوریالي واده دی.

اسماعیل په حیراني وپوښتل:

- پلاره ته څه وایې،هغه څه وخت کوزده وکړه چې بیا یې واده وي؟

پلار یې وویل:

- نن یې کوزده وسوه او دجمعې په ورځ یې واده دی.

له پلاره یې پوښتنه وکړه له چا سره؟ پلار یې وویل: د داوود له لور مریمې سره.

اسماعیل دیخي دټوټې غوندې ویلي سو،پښې او لاسونه یې سست سول،لاس یې په دیوال تکیه کړ،چې پر ځمکه ونه لویږي.که پلار یې بینا وای او دده څیره یې لیدلې وای،ممکن هرڅه بدل سوي وای،خو هغه داسماعیل غوصه ناکه او خواشینې څیره ونه لیدله.

## ۱۳

پلار مې ړوند دی،مانه ويني؟ اسماعيل په خواشينیسره آسمان ته ګوري بې له دې چې وغواړي چيغې وهي:

((کاشکې نور هم ړانده وای او دهغه غوندې يې زما ويلي کيدل نه ليدلی،کاشکي زه هم ړوند وای او مريم مې نه وای ليدلې،ښايي پرې مين سوی نه وای،که ړوند وای هيڅکله به دانار دهغې ونې شاته نه ورتلم چې ننداره يې وکړم،هغه وخت به مې هيڅ وخت دهغې دټيکري پيڅه نه وای پيداکړې چې دونې په ښاخ پورې يې وتړم او پر ځمکه دهغې پر لويدو وخاندم.

که ړوند وای هيڅکله به د ارې په پلمه دهغې کره نه وم ورغلی تر څو دهغې له نازه ډک تګ په پټه ووينم،که ړوند وای ښايي،هيڅ وخت مې سترګې دهغې پر لوڅ نس نه وای لګيدلې،ترڅوبې خوده سوی نه وای او ښکل کړی مې نه وای))

نيت کوي هرڅه خپل پلار ته ووايي،له بامه را کوزيږي،چوترې ته ورځي،پلار يې هلته نسته،دپټوني ګلانو باغچې ته ځي،هلته هم نسته،دانګړ دروازه خلاصوي،کوڅې ته ګوري،په کوڅه کې هم نسته.راځي دګلانوله باغچې سره کيني،دنن ورځې پر پيښنو نظر اچوي:کله چې له ښوونځي راغلی و، پلار يې ويلي چې توريالی له مريمې سره نامزاد سوی او دجمعې په ورځ يې واده دی،ولې يې دومره تلوار درلود او ولې داسې په بيړه مريم توريالي ته په نکاح کوي؟

هرڅومره يې چې فکر کاوو،ځواب يې نه سوای پيدا کولای،دباور وړ نه وه،چې مريمه دې دده دورور ميرمن سي،هغه يې ښکل کړې وه او ورته ويلي يې ول چې له هغې سره واده کوي.دا به دځوانمردي دود

نه وي چې همدغسې کرار کيني او پريږدي چې مريم ته د واده سپين کميس ور واغوندي او شين شال ور په سر کړي او په ساز او اتڼونو هغه خپل کورته را ولي،دتوريالي ترڅنګ يې ودروي او وروسته يې ملا نکاح وتړي او دی دسترګې لرونکې لوټې غوندې ورته وګوري.

داوود او دده پلار ولې دومره بيړه کوي؟څه پيښه سوې،په دريو ورځو کې غواړي د واده کار خلاص سي، په دې دريو ورځو کې څه کيږي؟

پرون چې دکلي په سرکې داوبو دويش له ځايه تيريده،څلويښت ـــ پنځوس کلنه ښځه يې ليدلې وه،چې ديوال ته يې تکيه کړې وه او پر لرګي يې پر ځمکه کرښې کاږلې.دهغې له تور ټيکري،بنګړيواو دټنډې له خاله ويريدلی ،کله يې چې له څنګه تيريده،سريې له کږو وږو کرښو را پورته کړ،ده ته ځير سوه ناببره يې وويل((ای عاشقه راسه چې دلاس نښې دې وګورم))

هغه له څه پوه سوې وه چې اسماعيل مين دی،په ټنډه(تندي) يې مين نه و،ليکل سوی،نوله څه پوه سوه؟ له هغې تير سوی او ويريدلی و،نه يې غوښتل څوک پرې خبر سي،اصلآ يې هيڅ وخت په فال ليدلو عقيده نه لرله،فکر يې کاوو ټول درواغ دي او دا نه کيږي چې څوک دې دچا ورغوي څخه دهغه برخليک ولولي.خو دا ښځه پوهيدله چې دی مين دی .بيا يې دښځې اواز واوريد،چې ويل يې((عاشقه چيرې بيړه لرې،دميني کوتره دې بام نه بدلوي،جوړه بدلوي))

هغه ورځ دهغې دخبرو په معنا نه و،پوهيدلی،خو اوس پوهيده،هغې سم ويلي ول.بې ارادې يې دهغې مخې ته په خاورو کې پلتۍ وهلې وه او په تلوار يې خو افغانۍ دهغې په ورغوي کې ايښې وې او هغې ته يې ويلي ول،چې ژر کوه هر څه زما دراتلونکي په باره کې پوهيږې راته ووايه،ووايه چې مريم زما ميرمن کيږي که يه؟

فالبينې خندلي او وروسته يې ويلي ول(( ټول بيړه لري،مينه دبيړې کار نه دی))

فال ليدونکې يې وروسته لاس پخپلو تورو لاسونو کې نيولی واو نابره يې خندا ورکه سوې وه،له ساړه اسويلي سره يې ويلي ول((ځه ځوانه ستالاس دلوستلو لپاره کرښه نه لري،ته داوبو پرسريخی يې او مينه دې دسرطان دمياشتې لمر دی،اوبه به سې حباب به سې)

را پورته سوی و او په چتکۍ له فالبينې څخه په مات زړه تللی و،کله چې په کوڅه کې را ګرځیدلی و،احساس کړي يې و،چې فال ليدونکې ښځه په حسرت ورته ګوري او خندا يې ورکه سوې ده.

لاس يې داسې څه لرل چې دې ښځې دی داوبو پر سریخ بللی و،لاسونه يې پورته کړل،سترګو ته يې یووړل،ښه ورته ځیر سو،څولنډ او يو پر بل اوښتي کاږه واږه خطونه يې ولیدل،هغسې يې چې ورته کتل خطونه واړه کیدل او لاسونه له کرښو پاکیدل.

باید له پلار سره يې خبرې کړې وای،دپتوني دباغچې له څنګه را پورته سواو کورته ولاړ،پلار يې هلته هم نه و،بیا بام ته وخوت،هلته و،له ځانه يې وپوښتل:مګر څو شیبې دمخه مې بام ونه لټاوو؟خیالاتي سوی و،ښایي پیښو يې حواس ګډوډ کړي و،نه يې سوای کولای خپله شاوخوا سمه ووینې او درک يې کړي،بیا يې دخپل لاس ورغوي ته وکتل لاس يې یومخ صاف و.

دپلار خواته يې وکتل،پلار يې ژړل او اوښکو يې رخسار مینځلی و،هغه له غنمو خپل موټی ډک کړی و او(زردچپ) کوترې ته يې دانه ورکوله هغه کوتره چې په راتلو يې نورې کوترې وژل سوې وې.

ورغی دپلار ترڅنګ کیناست،پلار يې خپلې اوښکې پاکې کړې ويې ويل:

– اسماعیله زویه ښه سوو چې راغلې،زړه مې تنګ دی،داوود موږ غافلګیر کړو،هغه باید دخپلې لور شیریني نه وای راوړې،موږ باید لا پخواپه مرکه ورغلي وای او مریم مو ترې غوښتې وای،دابه ډیره ښه وه.

نن چې داوود دکلي له مشرانو سره راغی او دا خبره يې وکړه،زه پوه سوم چې هغه مجبورسوی دی،دهغه مجبوري څه وه نه پوهیږم،زه او داوود یو ځای سره رالوی سوي یو،ما هیڅ وخت هغه داسې وارخطا او خواشینی نه و،لیدلی. اسماعیله!پوهیږې کله چې دکورنۍ مشر دخپلې لور شیریني دهلک کره ور وړي دوه علته لري یازوره ور خواستګار په تنګ کړی دی او یا د ددوستي دټینګولو لپاره دا کار کوي،ښایي یوه ورځ ووایي او له ما يې پټه نه کړي.

اسماعیله!پوهیږې که داوود ددغوسیالانو او کلیوالو په مخ کې له ما څخه دتوریالي سر هم غوښتی وای او ويلي يې وای چې هغه دمریم لپاره حلال کړه،ماکول.

ده بیادخپلو لاسونو ورغوي وکتل هیڅ کرښه يې نه لرله ،له لاسونو څخه يې دپلار په لوري وکتل ،هغه اندیښمن معلومیده،توریالي ته يې اندیښنه لرله،جمعې ته درې ورځې پاتې وې او زیات کارونه په مخه کې پراته ول.

– پلاره که توریالي دغه واده ونه مانه،څه به کیږي؟

پلار يې بې له ځنډه وویل:

– هغه وخت نو هغه وژنم،نه غواړم داوود سرټیټی او بې عزته سي،دهغه عزت زما عزت دی،په دې خاوره له سل پښته تر اوسه پلار پریکړه کړې او زوی منلې ده،زموږ دود او رسم همدا دی.

که پلار ته ووایي چې په مریمه مین دی څه؟آیا دی او داوود به خپله پریکړه بدله کړي؟لکه پلار چې دده فکر لوستی وي،د دیوال ترځنګ دکاسې له ایښودلووروسته يې وویل:

– او ته اسماعیله لا تر واده ډیر وخت لرې،توریالی ستا مشر ورور دی ،دادی دکار او ژوند څښتن دی او مریم دهغه او زموږ دکورنۍ لپاره ترټولو ښه ناوې ده،زه له ډیره پخوا د توریالی په فکر کې وم او له داسې ورځې بیریدم چې دکومې عصري نجلۍ لاس ونیسي او پنجوایي ته يې راولي او ووايي:دادی ستاسې ناوې.

اسماعیل خپل توان له لاسه ورکړی و،پلار يې لا خبرې کولې چې له بامه راکوز سو او کوڅې ته ولاړ.

دوه مزي سخوندران يې له پادې راجلا کړي ول او د داوود کره يې بیول.غوبه سخوندران په منډه کړي ول او ګرزونه او دوړې چې دهغوی ترپښو لاندې بادیدې ازاروونکې وې،ځان يې په بیړه دکوڅې له دوړو یوې خواته کړ او په واړه ټوپ سره دکور مخې ته له ویالې څخه دغنمو دکښتونو خواته ولاړ او له څو پولو په تیریدو سره د معتادو هلکانو خواته ورسید.

ددوی شمیر به کله څلور کله به اووه کسه و،او کله به يې له ګاونډیو کلیو څخه میلمانه هم لرل او شمیر به يې زیاتیده،دوی چرس او تریاک څکول،هیرویني پکې نه و، داسې کسان ول،چې (مرغان هغه سره کینې چې ښکې يې سره یو وي) متل ښه ورسره لګیده.سره له دې چې هغوی يې ښه نه ایسیدل خو نن دا ډله ورته یو پناه ځای غوندې ښکاریده ،ورغی خواته يې کیناست ،هغوی خپل چرس او تریاک څکولي ول.(تور) ورته وویل:

-لالا ښه راغلې!لکه چې ته هم کاکه سوې؟

اسماعیل ځواب ورنه کړ،تور پوښتنه وکړه:

– چرس وهې که تریاک؟

–چرس.

هغه ورو لاس جیب ته کړ،سګرټی یې را ویوست،ویې ویل:

– ستا قسمت نیولی و ،دا یوه شیبه مخکې مې ډک کړ،ما ویل دتلو په وخت کې به یودود نور هم ووهو،هه سر یې کړه.

سګرټی یې ترې واخیست،هغه داورلګیت دوه خلې ورته ولګول ، اسماعیل کش کړ،لوګی یې په ستوني کې تاو سو،ټوخې واخیست.تور وویل:

– پروا نه کوي،کش که.ژر دې نیسي،اوله درجه روغني چرس دي.

بیا یې کش کړ،تیر سوی لوګی یې له ټوخې سره بیرته را وایست او بیا یې کش کړ،له سګرټ څخه پرله پسې لوګي ختل.تور نه پرېښودل چې سګرټ مړسي،یوپه بل پسې یې اورلګیت لګاوو،ویل یې:

–کش که،مه پرېږده چې مړ سي.

اسماعیل له هره کشه سره سپکیده او اوبه کیده،قالبینې ښځې ورته ویلي ول چې داوبو پرسر یخ یې او مریم دسرطان میاشتې لمر...

چې سګرټ تمام سو،ټول پرې راټول سول،باور یې نه کیده چې په یوازې ځان یې یو سګرټی سراو ځکولی وي،دهغوی له څنګه را پورته سو،لکه دبوسو(پروړې)ډکی سپک سوی و،ولاړ دویالې په غاړه کیناست،داوبو آواز یې اوریده،اوبه چې له پاسه راتلې دراتلو نغمه یې لرله چې له څنګه یې تیریدې په نڅا تلې او دتلوساز یې غږاوو،پښې یې په اوبو کې واچولې ،اوبو یې پښې یوورې،لاس یې ور اوږد کړ چې خپلې پښې را ونیسي،اوبه تودې وې او سوړ لاس یې په اوبو کې حل سو،پورته یې داوبو سربند ته وکتل،مریم یې ولیدله چې اوبه راوړي او دی دعکس غوندې داوبو پر څپو سپور دی ښکته پورته ځي،مریم نږدې راغله او نږدې راغله او مخامخ ورته ودریده،نه ولاړه،خوشحاله سو،بل لاس یې اوږد کړ ترڅو هغه پانه چې دمریمې پر مخ تاویده ایسته کړي،بل لاس یې هم په اوبو کې حل سو،ورروسته یې

دمریمې لمنې ته وکتل،اوبو پورته کړې وه او نس یې ښکاریده،ورغی چې نس یې پټ کړي خو نور یې دپټولو لپاره لاس نه درلود،مریم وخندل او ږغ یې کړ:

–اسماعیله راسه ښکل مې کړه،خپل سر یې دهغه دښکلولو لپاره ښکته کړ،شونډې یې له اوبو سره ولګیدې او اوبه سوې او پرسر داوبو په ژورو کې ډوبه سوه او اوبه سوه...

**۱۴**

اسماعیل یې دویالې په غاړه پیداکړی و،نشه یې الوتې وه،ناپیژندل سوې ویرې یې بدن لړزاوو،په لړزیدونکواو بې ټیکه ګامونو دپلار په لوري چې پر چوتره ناست و،ورغی په سستي یې وپوښتل:

– پلاره زه دې په کار وم؟

– ورسه توریالي ته ټیلفون وکه،چې ژر کلي ته راسي او ورته ووایه چې ځان ته نوې جامې هم وکړي او له ځانه سره یې راوړي.

هلته ګرځنده ټیلفون کار نه کاوو،کلیوال به له کلي څخه لیرې دیوې غونډۍ سر ته ختل، اسماعیل خپل موبایل را واخیست او په مات زړه او بې ساه پښو روان سو چې توریالي ته ټیلفون وکړي.پر لاره یې داوود ولید چې څو کسه دوستان یې را ټول کړي او د واده کارونه یې تر منځ ویشي.دایې لومړی ځل و،چې داسې یې احساسوله چې داوود یې بد ایسي.

هغه خواشینی او غمجن غونډۍ ته وخوت،چې موبایل کار پیل کړ توریالي ته یې زنګ ووهه او جریان یې ورته ووایه،توریالي د اسماعیل لړزیدلی آواز دټیلفون دلین خرابي وبلله،له هغه یې وپوښتل:

– پوه نه سوم،څه دې وویل؟په مریم څه سوي دي؟

اسماعیل چې بې حوصلې سوی و، لاحول ولاقوه الاباللّٰه یې وویله:

– درته ومې ویل مریم یې تاته درکړې ده،دجمعې په ورځ دې واده دی.

توریالي چې د داسې خبرې داوریدو انتظار نه درلود،په اندیښنه یې پوښتنه وکړه:

– ته څه وایې؟

– خبره خلاصه ده.

توریالي په وارخطایي وویل:

– ورځه ورته ووايه چې دا واده نه منم،ورته ووايه چې کلي ته هم درتلای نه سم.

اسماعيل ټيلفون بند کړ،سره له دې چې پوهيده دپلار پريکړه يې نه راګرځي،راغی او پلار ته يې خبر ورکړ چې توريالی دا واده نه مني.

عبدالباري لکه مارسره غونج سواو وروسته لکه ونه ولړزيده،څو شيبې په انګړ کې يوې بلې خواته وګرځيده،دوه ځله په انګړ کې دچنار له هغې ونې سره ولګيده چې اسماعيل په روښانه خط پر هغه د(M) توری کښلی و،نابره يې پښه دزينې له ژۍ سره بنده سوه او ولويده.

اسماعيل او زرمينې د عبدالباري په خوا ورمنډه کړه،هغه يې چې له ځمکې را پورته کاوو لاپې کنځلې کولې او امسآ يې پر ځمکه وهله:

– دا رذيل پدر نالت!اوس دومره سوچې زما په خبره کې خبرې کوي،هډوکي به يې مات کم،نالتي به په درخته پورې را وځړوم،چې په لاس مې راسي ويني به يې وڅښم.

عبدالباري نه کراريده،خولې يې ځګونه کول او غاښونه يې چيچل.زرمينې او اسماعيل هغه له دروازې څاره،عبدالباري نابره ږغ کړ:

– اسماعيله موبايل دې راواخله چې دغونډۍ سرته ولاړسو.

اسماعيل وويل موبايل يې په جيب کې دی او عبدالباري رهي سو،پر لاره هم عبدالباري بد رد ويل:دا هلک زما عزت پر ځمکه ولي.

عبدالباري په ساه ساه دغونډۍ سرته وخوت،هلته څو شيبې کيناست چې ساه جوړه کړي.

کله چې دغونډۍ له سره پنجوايي ته ګورې،پنجوايي لکه شين فرش داسې درته ښکاري،تر کومه ځايه چې سترګې کار کوي شنه سيمه ده او ترهغه ځايه شنه ده چې اوبو ته رسې.

ددغې ښکلې غونډۍ ترڅنګ څو کلي له خپلو ډيرو ښونو سره ساه باسي.دپنجواي باغونه چې زياتره يې دانګورو دي او څو ډوله انګور لري پخپلو ختينو ديوالونودغه کلي يوله بله جلا کوي.په دې منځ کې دانارو،سپيدارو،څنارونواو مجنون ولو ونې دکوڅو سينګاروونکې دي،چې پرسرونو يې مرغان الوزي را الوزي.ته به وايي دغه ونې د اسماعيل دزړه له غمه خبرې دي ،کله چې اسماعيل ورته ګوري ورو سر وښوروي او خپل ښاخونه وخو ځوي.

دغونډۍ پر سر دونې پر ښاخ يو بوم په مرګوني چوپتيا سره دوی دواړو ته ګوري،غواړي عبدالباري ته چې ناکرار دی ووايي((سترګې خلاصې کړه او ددې غونډۍ له سره پنجوايي ته وګوره او بيا دې خپل اسماعيل ته وګوره او وګوره چې په دغه شنه فصل څومره سخت خزان راغلی دی ،سترګې خلاصې کړه او وګوره چې تقدير څنګه ستا زوی دغونډۍ سر ته راوستی ترڅو خپله دخپلې مينې دمرګ پيغام راوړونکی واوسي.سترګې خلاصې کړه او وګوره چې داغوټې څنګه له غوړيدو دمخه رژيږي))

عبدالباري له ساه جوړولووروسته اسماعيل ته وايي:دتوريالي نمبر رخ که! اسماعيل توريالي ته زنګ وهي څو شيبې وروسته توريالی (سلامونه) يا بلی وايي.

– له پلار سره خبرې وکه.

عبدالباري ټيلفون ترې اخلي ،بې له څنډه وايي:

– افرين زويه!دپلارولۍ او زوی ولۍ حق دې ښه ادا کړ،دپلار دزحمتو ځواب دې همدا و؟

– پلاره ته پخپله ښه پوهيږې چې زه دلارو جوړولو يو اينجنير يم او تل په ټول افغانستان کې ګرځم او بله داچې د واده لپاره کومه بيړه هم نه لرم او...

عبدالباري دهغه خبرې پرې کړې:

– چوپ پدرنالته،ناشکره!ته ددوستۍ په ارزښت پوهيږې؟ته دمريمې او داوود په قدر پوهيږې؟داوود نن دمريمې شيرينې دتا لپاره راوړه او ما دسيالانو او مشرانو په مخ کې دغه پيوند ومانه.

توريالي دمخه اوريدلي ول،چې ځينې دپخواني دود له مخې دخپلې لور شيريني دهلک کره ور وړي،چې ردول يې سخت او کله هم بې غيرتي بلل کيږي.ده هيڅ داسې تمه نه لرله چې داسې پيښه دې ده ته هم ور وسي.توريالې په کابل کې دخپلې ملګرې نجلې له څنګه له خپل پلار سره خبرې کولې او ملګرې يې هم دده دپلار خبرې اوريدلې،متوجه سوه چې له يوه سوي عمل سره مخامخ ده هر ډول غبرګون به بدې پايلې ولري.پلار يې زياته کړه:

– موټران له کابله نيمه شپه را روانيږي،نن شپه حرکت راوکړه!خبره ختمه ده.

ټيلفون بند سو،دتوريالي رنګ الوتی و،خپلې ملګرې ته يې وکتل،هغه هم ددې خبرې په اوريدو لړزيدلې او لکه بې هوښه داسې وه،حرکت يې نه کاوو،رنګ يې تور سوی و.

## ۱۵

دتوريالي ملګرې مژګان نوميده،هغوی شپږکاله دمخه په کابل پوهنتون کې يوبل سره پيژندلي ول،مژګان دژبو او ادبياتو په برخه کې زده کړې کولې او توريالي اينجنيري لوسته،دواړه له ځو ليدنو وروسته پر يوبل مين سوي ول او ژمنه يې سره کړې وه چې له تحصيله وروسته واده سره وکړي، خو توريالی له زده کړو وروسته په کار بوخت سوی و،ښه تنخوا يې لرله او داسې پروګرام يې جوړ کړی و،چې د ډيرو پيسو له ګټلو او په کابل کې ديوه کور له رانيولو وروسته له مژګان سره واده وکړي.

توريالي دمژګان له کورنۍ سره پيژندګلوي لرله ،کله به چې کابل کې و،دهغې کورته به ورته او دهغوی له مجلسه به يې خوند اخيست.دمژګان پلار په يوه خصوصي بانک کې کار کاوو او مور يې دنسايي ــــ ولادي ډاکټره وه.

په هغه شپه توريالي دهغوی له کوره له خپل پلار سره خبرې کولې،کله چې دمژګان پلار له کاره راغی،ويې ليدل چې د دواړو حالت ډير خراب دی،توريالي کيسه ورته وکړه.

دمژګان پلار په ناراحتي وويل:

– ماته ستاسې رواجونه معلوم دي،فکر نه کوم له واده پرته بله لاره ولرې.بيا هم که کيدای شي زما دلور مژګان لپاره هم که کيږي يو ځل ولاړ شه او له پلار سره دې له نږدې خبرې وکړه.کوښښ وکړه

هغه ته قناعت ورکړه چې په دغو تباه کوونکو رواجونو پسې ونه ګرځي او پرې نه ږدي چې ژوند دې ددغو خرافاتو قرباني شي.

تورياڵی باور نه کاوو چې دهيلو مانۍ دې يې دپلار په ناڅاپي پريکړه په يوه پلا ړنګه سوې وي.دی بايد پنجوايي ته ولاړ سي،له پلار سره خبرې وکړي او که وکولای سي هغه له خپلې پريکړې راوګرځوي.کله چې له کوره راووت دمڅګان اوښکلنو سترګوته يې وکتل،تر اوسه يې هيڅکله هغه داسې خواروزاره نه وه ليدلې.

تورياڵی دشپې په دوه بجې د(کمپنۍ) په سيمه کې دکندهار دموټرونو اډې ته ورسيد،څو شيبې وروسته يې دشپې په تياره کې دکندهار په لوري حرکت وکړ،هغه چې څه وخت دکابل – کندهار دسړک پر جوړولو هم کار کړی و،په لاره دپلونوالوزول او ورانول يې لوی جنايت باله،خو ددغه مصيبت په باره کې يې د زيات فکر کولو وخت نه درلود.

هغه له پنځه ساعته مزله وروسته کندهار ته ورسيد او له هغه ځايه په ټکسي کې پنجوايي ته ولاړ،څو دقيقې دسهار له اتو بجو تيرې وې چې کورته ورسيد،پلار يې دشپې نه و، ويده سوي په بې صبري يې دده لاره څارله،دتورياڵي په راتګ سره يې زړه يوڅه په کرار سو،هماغسې چې له ځايه را لټيده ويې ويل:

– که راغلی نه وای،وژلې مې.

تورياڵي سلام ورکړ ويې ويل:

پلاره امر دې پر ځای سو،ودې ويل راسه،راغلم.

عبدالباري څه ونه ويل،امسآ يې لګوله دهليز ته ننوت،زرمينې ته يې وويل:

– چای راوړه.

دچايو پر وخت تورياڵي اسماعيل ته وکتل،ترې ويې پوښتل:

– ته څنګه يې؟

– اسماعيل څه ونه ويل،خو عبدالباري وويل:

– ښه دی،هغه هم زما غوندې خواشينی و،که ته نه وای راغلی هغه مې ستا دوژلو لپاره کابل ته در استاوو.

تورياڵي وخندل،ويې ويل:

– پلاره راغلم چې له تاسره زياتې خبرې وکړم.

دعبدالباري وينې يو ځل بيا په جوش راغلې،رنګ يې واوښت،کوتان پکې پيدا سول،نابېره يې پياله دتوريالي په لور خطاکړه:

– بې عقله ناشکره!

دا اول ځل و، چې ددغه ړانده سپين ږيري ښښه خطا کيده،پياله دتوريالي تر غوږ تيره سوه،پرتغر ولګيده او تاوده چاى داسماعيل پښه وسوځوله.

– راغلی چې له ماسره خبرې وکړي ما تاته وويل چې خبره خلاصه ده، سر ورکوم د داوود دلور شيريني بيرته نه ورکوم.موږ خپل رسم ورواج لرو،غيرت او عزت لرو،داوود زما د ديرشو کالو دوست او ملګرى دى،ما خپلې سترګې دهغه په خاطر له لاسه ورکړې او اوس هم حاضر يم دهغه په خاطر له ځانه او اولاده تير سم.هغه دخپل زړه ټوټې مريمګۍ شيرينې ستا غوندې بې عقل خره ته راوړې نه دکوڅې دکومې نجلۍ.

اسماعيل دځاه غاړې ته ولاړ،پښې يې په اوبو کې ډوبې کړې،دهغه دزړه او پښودرد او سوز سره ګډ سوي ول.مريمه يې په باغ کې وليدله چې انار شکوي او ده ته يې ورکوي،اسماعيل انار يو په بل پسې ماتوي خو ټول پوچ راوزي مريم نور انار را شکوي هغه هم ټول خالي او پوچ وي ، دبڼ انار ټول را شکوي او باغ بي انارو سي.مريم دانګورو په لوري ځي انګور هم په تاکونو کې نه وي،مريم په نهيلي وايي:اسماعيله څه زما باغ ستا لپاره ميوه نه لري!

توريالی دباندې راووت او داسماعيل پښې ته يې چې دانار غوندې تکه سره سوې وه وکتل:

– ډير وسوځيدې؟

– نه دومره نه ده.

– پر لاره تلاى سې؟

– ولې، خيرت دى؟

– څه دواده لپاره خپلوان او دوستان راوبوله.

۱۶

د واده لپاره ټولې تیاریانې په چټکۍ سره نیول کیدې، داوود دملاصمد دهرډول ناعاقلانه عمل دمخنیوي لپاره خپل پخواني انډیوالان چې پخواني مجاهدین او دپنجوایي مشهور مشران و، رابللي وو.

یو له هغوی څخه دصمد اکا و، چې دخپل وراره له عملونو څخه سخت ناراضي و، داوود تیر جریان پټ ورته ویلی و او هغه په غوصې سره صمد ته احوال استولی و، چې که یې له دې وروسته مریم ته دخور په سترګه ونه کتل بیا دې ګیله له ځانه کوي.

د داوود څو ګاونډۍ نجونې او میرمنې یې راوغوښتې چې مریم د واده لپاره تیاره کړي کله چې هغوی د داوود کره ولاړې مریمه په کور کې نه وه هغه په پسونو پسې باغ ته تللې وه.

هغوی چې پوه سوې مریم باغ ته تللې ویې خندل وې ویل چې عجیبه نجلې ده د زوم په باره کې دفکر کولو پر ځای د خپلو پسونو په فکر کې ده .

مریم په باغ کې لور په لاس د رشقې ریبلو ته ناسته وه، عجیبې ویرې یې ټول بدن لړزاوو.هغې هیڅ وخت فکر نه کاوو چې پلار دې یې داسې نابېره واده کړي، هغه د اسماعیل له ټوکو سره عادت سوې وه او فکر یې کاوو چې یوه ورځ به دعبدالباري کورنۍ دهغې غوښتلو ته په مرکه راسي او ددې له پلار څخه به له اسماعیل سره دهغې وصلت وغواړي.هغې هیڅ وخت دبل چا په اړه فکر نه و، کړی او یوازې څو ځله چې هغه د بلوغ او ځوانۍ فکرونو لړزولې وه د اسماعیل په اړه یې فکر کړی و او یوازینی څوک چې دخوب او خیال پر وخت دهغې بدن ته نږدې سوی و، هغه اسماعیل و، هغې هیڅ فکر نه کاوو چې پلار دې یې داسې ناڅاپه شیرني دتوریالي لپاره ورکړي.

دورځې پای و، دآسمان ژیړوالي دمریم دځیرې خواشیني لا زیاته کړې وه مریم لور په لاس درشقې ریبلو په انتظار وه او رشقه هم دبېرې کولو په انتظار، خو مریم له توریالي سره دخپلې کوژدې موضوع حیرانه کړې وه هغې هیڅکله دداسې برخلیک تمه نه لرله.

اسماعیل دانارو دونو شاته پټ سوی و، ترڅو دوروستي ځل لپاره مریمه ووینې نهیلې یې زړه تنګ کړی و، غوښتل یې چیغه وکړي: مریمې دغه واده مه منه، ځه چې سره وتښتو، راځه له پنجوایي ولاړ سو داسې ځای ته ولاړ سو چې نور دپلرونو لاسونه تر موږ را ونه رسیږي. هغه غوښتل چیغه کړي او په ټول قوت سره ووایي چې مریم له هغه څخه مه اخلئ، غوښتل یې فریاد وکړي او ټولو ته ووایي چې مریم پرې ګرانه ده پرې هغې مین دی او هغه هیچا ته نه ورکوي خو دغه فریادونه دننه ورک کیدل او ږغ یې نه درلود.هغه پوهیده چې ددغې مینې رسوا کیدل ددوی کورنیو ته سرټیټي او بدنامي راوړي هغه پوهیده چې نور هره چیغه او هر کوښښ بې ګټې دی .هغه پوهیده چې مریم یې له لاسه وتلې ده.

اسماعیل مریمې ته کتل او مریم دبوټو تر څنګ مایوسه ناسته وه او دلو لیوالتیا یې نه لرله. اسماعیل مخ بلې خواته واړاوو او د انار ونې څانګې یې پریښودې دانار ونې دهغوی ترمنځ سره او شنه پرده سوه، هغه پښه پر دیوال کیښوده غوښتل یې ولاړ سي او مریم نور ونه ویني خو پښه یې په دقت پر دیوال نه وه ایښې د دیوال له سره وښوییده او دانار پر ونو راولویده او له انارو څخه له ډکو څانګو سره پر ځمکه ولګیده.

دونې په ماتیدو سره مریمه دخپلو خیالونو له نړۍ راووته، په بیړه په پښو ودریده اسماعیل یې ولید چې پر ځمکه لویدلی دی.

څو انار مات سوي وو او د اسماعیل کمیس یې رنګ کړی و اسماعیل مات انار له خپلې سینې لیرې کړل دهغه خونړی زړه دماتو انارو غوندې و.

اسماعیل دانارو له ښاخونو راپورته سو، سوکه سوکه د مریم خواته ورغی مریمې لور مخې ته ونیو شاته ولاړه هر قدم چې اسماعیل دهغې په خوا ورته دا به هومره شاته تله . اسماعیل پرې ږغ کړ:

– مریمې مه ډاریږه! زه دخدای پاماني لپاره راغلی یم.

مریم غلې وه او لور یې دتهدید په ډول نیولی و.

– ته يې توريالي ته ورکړې ، زه بې مريمې سوم غواړم له دې ځايه ولاړ سم. هغه مريم ته ورنږدې کيده او مريمې هماغسې لور په لاس په خاموشو شونډو ورته ويل چې مخ ته را نه سي.

اسماعيل د مريمې دوه قدمي ته ور رسيدلی و چې نابېره د هغو ښځو ږغونه چې دمريمې دبيلو لپاره راغلې وې پورته سول ، اسماعيل دهغوی دږغونو په اوريدو سره وويل:

– مريمې ستا دبيولو لپاره راغلې دي، نور وخت نسته، خدای پامان.

اسماعيل دا وويل او په چټکۍ سره دانارو دونو په لوري ولاړ او دسترګو په رپ کې دانار دونو کتار دده او مريمې ترمنځ ديوال سو او وروسته څو ختينو ديوالونو هغوی يو له بله ليرې کړل اسماعيل په کوڅو کې ولاړ چې ولاړ...

ښځې او نجونې دمريمې دزړه له غمونو ناخبرې په خوښۍ سره باغ ته ننوتې، مريم يې چې درشقې په پتې کې پيدا کړه دهغې په خوا يې ور منډې کړې په شور ماشور او خندا يې هغه دکور په لوري کش کړه تر څو يې حمام ته بوزې او وروسته يې لاسونه او پښې په نکريزو ورسره کړي.

دجالۍ او ساتن سپين کميس يې مريمې ته ورواغوند او اوږد شال يې ورپه سر کړ دمريمې شونډې يې دلومړي ځل لپاره دشونډو په رنګ ور سرې کړې دهغې اننکي يې سره کړل شال يې شين و او څيره يې د ګنو شنو پاڼو په منځ کې دسنبلې دانارو غوندې وه.

ښځو او نجونو دماشومانو له يوې ډلې سره هغه دعبدالباري دکور په لوري بيوله، دوو ښځو دايره وهله او سندرې يې ويلې:

((په بسم الله قدم راواخله ښايستې ناوکۍ – ای پښتنې ناوکۍ، الله دې مل شه))

دمريمې مينان چې شمير يې په کلي کې شپږو اتو تنو ته رسيده له دواړو خواوو دخپلې ماتې بيړۍ ننداره کوله چې ساحل ته رسيده او دهغې په رسيدو سره يې افسوس کاوو.

دعبدالباري کور يې دښځو دمحفل لپاره او دهغه ترڅنګ کور يې دنارينه وو لپاره خالي کړی و، د ډول او ساز آواز چې له دواړو کورونو څخه راته له يوبل سره يو ځای کيده له ليرې دخوښۍ شوماشور ته ورته و.

داوود او عبدالباري دخپلو دوستانو له مرستې څخه خوشحاله و هغوی دستر ګو په رپ کې دوه غوايي حلال کړي او سل منه وريجې يې په ديګونو کې اچولې وې، دعبدالباري دلاربښوونې له مخې اسماعيل بايد دنکاح تړلو او نورو مراسمو په وخت کې دخپل ورور ترڅنګ دريدلی وای ټول دهغه په لټه کې و خو هغه تری تم و.

ماښام دميلمنو له تلو وروسته چې يوازې غوړ لوښي او کاسې او د عبدالباري د ړنګې باغچې پټوني او نسترن ګلان پاتې و دکورنۍ ټول غړي ستړي ستومانه په چوتره ناست وو او داسماعيل په نابېره تري تم کيدو يې سوچ کاوو.

توريالی مريمې ته ورغی هغه پرنوې جوړې سوې نيالۍ(توشکې) ناسته وه او اوښکې يې تويولې او دهغې دستر ګو رانجه يې له ځانه سره دهغې آننګيو ته راوړي وو، تورو لارو يې سره آننګي بدرنګه کړي وو، توريالی دهغې داوښلنو ستر ګو په ليدو سره حيران سو، ويې پوښتل:

– مريمې خيرت دی، ولې ژاړې، په دې واده خوشحاله نه وې؟

مريم څه ونه ويل، خو توريالی د مريمې په ژړا او داسماعيل په ناڅاپه ورک کيدو په هرڅه پوهيدلی و، ځکه يې وپوښتل: څه فکر کوې اسماعيل به چيرې تللی وي؟ په دې پوښتنې سره مريمه سلګو واخيسته ويې ژړل، توريالی په هرڅه پوه سو داسماعيل لړزيدلی ږغ يې ورياد سو چې په مل فون کې ورته ويلي و: مريم يې تاته درکړه، نوي کالي واخله راځه، دجمعې په ورځ ستا واده دی. هغه د((M)) دتوري په معنا چې دانګړ په منځ کې په ونه ليکل سوی و، هم پوه سواو خپل سر يې په دواړو لاسونو ونيو او په بده ورځ په لعنت ويلو سره يې مريم يوازې پرېښوده او دويده کيدو لپاره بام ته وخوت.

اسماعيل بې له دې چې چاته څه ووايي دپاکستان په لور رهي سوی و.

## ۱۷

اسماعیل دکوټې په ښار کې نه پیسې لرلې نه یې هلته څوک پیژندل شپې یې په جوماتونو کې تیرولې او ورځې به یې په چوکونو او څلور لارو کې دمزدوري پیداکولو لپاره تیرولې چې کله به ورته پیدا کیده او کله به بې مقصده دکوټې ښار په کوڅو کې ګرځیده.

دهغه دې ته پام سو چې په دغو جوماتونو کې پرلمونځ کولو سربیره دطالبانو لپاره تبلیغ هم کیږي او دجګړې لپاره هم خلک هڅول کیږي،ده هغه ځوانان لیدل چې د دوو دریو ورځو لپاره دپاکستان له نورو سیمو څخه راوستل کیدل او بیا دطالبانو قوماندانانو ته سپارل کیدل او بیا وروسته افغانستان ته لیږل کیدل.

اسماعیل چې په پنجوایي کې لږ لمونځ کاوو،په دغو جوماتونو کې یې په منظم ډول لمونځ کاوو او پنځه وخته لمونځ یې نه قضآ کاوو.

یوه ورځ یې په جومات کې داوداسه په وخت په ملا صمد سترګې ولګیدې،ویې غوښتل ځان ترې پټ کړي،خو ونه سول،ملا صمد دی ولید او په بیړه یې خواته راغی:

– اسماعیله !سترګې مو روښانه،ته او دا خوا؟

اسماعیل څه ونه ویل په ځیر یې ملا صمد ته کتل .صمد فکر وکړچې حتمآ د اسماعیل او دده دکورنۍ ترمنځ څه لانجه منځ ته راغلې ده،چې هغه ښوونځی او کور پرې ایښی او کوټې ته راغلی دی،دصمد لا ډیره سودا سوه اسماعیل ته یې وویل:

– دلته ټول زما دوستان او انډیوالان دي که کومه ستونزه دې لرله له ماېې مه پټوه.

اسماعیل له صمد سره له مخامخ کیدو څخه خوشحاله نه و،خو له بلې خوا یې دیوه پیژندوی تصادفي لیدنه په نیک فال ونیوله.صمد وویل:

–له لمانځه وروسته نورې خبرې هم سره کوو.

له لمانځه وروسته صمد راغی ،له اسماعیله یې وپوښتل:

– څو ورځې کیږي چې دلته یې؟

– کابو څلویښت ورځې به کیږي.

– یوازې یې؟

– هو.

– نو ولې دې خپل ړوند پلار پرې ښود او دلته راغلې؟

اسماعیل دهغه ځواب ورنه کړ او صمد ونه غوښتل هغه مجبورکړي،چې نور معلومات ورکړي،ځکه یې وویل:

– پیسې څه شی لرې؟

– یه.

– غواړې چې تا دلته په یوه مدرسه کې شامل کړم چې ددین عالم سې؟

اسماعیل بې له ځنډه وویل:

– هو غواړم درس ولولم.

صمد موسکی سو:

– دا آسانه کار دی،ډیر ژر به دې هم دمدرسې او ستا دجیب خرڅ کار جوړ سي.

ملا صمد ته دوه ورځې وروسته څو کسه وسپارل سول،هغوی یې خپل مرستیال ته ور وسپارل او ددعا ترځنګ یې ورته وویل:تاسې په خیر ولاړ سئ،زه څو نورې ورځې هم په پاکستان کې پاته کیږم.

صمد بله ورځ دسهار له لمانځه وروسته له اسماعیل سره یوځای دوزیرستان په لوري حرکت وکړ.په لاره کې یې اسماعیل ته وویل چې په کوټه کې تعلیم او درس ښه نه دی یوازینی ځای چې له مصر وروسته په دیني زده کړو کې سترو درجو ته رسیدلی،وزیرستان دی.داسماعیل لومړۍ هیله داوه چې وروستۍ پیښې هیرې کړي.

صمد په شمالي وزیرستان کې ډیر دوستان او اشنایان لرل،ده او اسماعیل یوه شپه د وزیرستاني ملا په کور کې تیره کړه.په هغه شپه دغه ملا مشوره ورکړه چې اسماعیل دې په ((حقاني)) مدرسه کې چې ده مشهوره او عالي مدرسه وبلله په زده کړو بوخت سي.په سبا یې اسماعیل حقاني مدرسې ته وسپارل سو.

دغه مدرسه نه دکندهار مدرسو ته ورته وه او نه هم دکوټې ښار مدرسو او او جوماتونو ته.په دې مدرسه کې دبیلابیلو هیوادونو ځوانان لیدل کیدل. ازبک،تاجک،چیچنایان، چینایان،مصریان،عراقیان، لیبیایان ،پاکستانیان، افغانان او یوشمیر انګلسي ژبي چې اسماعیل نه پیژندل او نه پوهیده چې دکوم هیواد دي هم ددوی په منځ کې ول.

په دې مدرسه کې تکړه استادانو تدریس کاوو دغې مدرسې کمپیوټر او انترنیټ هم لرل او شاګردان یې له دې خبر و،چې اوس نړۍ یو کلی دی.سپورټ او ښه ډوډۍ ددغې لویې مدرسې له نورو شیګڼو څخه و. اسماعیل سره له دې چې دقرآنکریم تلاوت په پنجوایي کې ښه زده کړی واو دشرعیاتو له ښستونو سره یې هم لږوډیره اشنایي لرله،خو هرڅه یې له سره پیل کړل.

صمد څو ورځي وروسته بیا د اسماعیل داحوال اخیستلو لپاره‌راغی داحوال دپوښتلو ترڅنګ یې وویل:

– پوهیږې چې تاته راتګ څومره سخت شوی دی،هیڅ باور مې نه کیده چې زما دراتلو مخه به هم ونیسي.

اسماعیل وپوښتل:

– غواړې کندهار ته ولاړ سې؟

– هو،زما کارونه دلته خلاص سول،دجبهې لپاره یې کابو دیرش کسه داوطلبان وسلې او تجهیزات راسپارلي نن شپه په خیر حرکت کوم.

اسماعیل په داسې حال کې چې ځمکې ته یې کتل صمد ته وویل:

– یوه هیله لرم.

صمد په بیړه وویل:

– امر وکړه!په خدمت کې یم.

– وزیرستان ته زما دراتګ خبره دې زموږ ترمنځ وي،څوک باید په کلي کې خبر نه سي.

صمد وویل:

–په سترګو.ددې خبرې په باره کې هیڅ فکر مه کوه،دلته ستا راتګ به زما وستا ترمنځ یو راز وي،هیڅوک به هم پرې خبر نه سي.

صمد وروسته له اسماعیله وپوښتل:

–دلته څنګه ؟ستا په زړه ځای دی.ډوډۍ یې ښه ده؟

اسماعیل چوپ و، څه یې نه ویل.صمد دخدای پاماني په وخت وویل:

– خپل درسونه دې ښه ولوله،په پنجوایي کې داسې مدرسې نه سې پیداکولای.

## ۱۸

جاوید له بامه راکوز سو او ((سپینه کاغذي))یې پلار او داوود ته چې دخبرو په حال کې ول،راوړه.په وینو لړلې کوترې په لیدو سره د داوود ژبه ګنګوړه سوه، عبدالباري د داوود پردې نابېره ګنګوړه کیدو او وارخطایي اندیښمن سو په بیړه یې وپوښتل چې څه خبره ده؟داوود دهغه خبره وانه وریده او له جاویده یې وپوښتل:

–خیرت دی؟

جاوید په لړزیدلي آواز وویل:

– داوود اکا له خیرته خبره تیره ده،له ټولو کوترو څخه یوازې همدغه سپینه کاغذي ژوندۍ ده او هغه هم سخته ټپي.تورې پشو ټولې څیرې کړې دي.

– څه دې وویل؟

–پلاره!تورې پشو ټولې کوترې وژلې دي کله چې زه هلته ورسیدم کار له کاره تیر و ،یوازې ((سپینې کاغذي)) ورروستۍ سلګۍ وهلې.

عبدالباري هغه څه چې اوریدل باور یې نه پرې کیده ،پرهغه خپلې کوترې ډیرې ګرانې وې او له هغو سره عادت سوی و.

عبدالباري زخمي کوتره له جاويده واخيسته دهغې سينې ته يې لاس ور ووړ او دهغې په وينو لړلې سينې په لمس کولو يې زړه واچاوو.

داوود له ځايه را ولاړسو چې بام ته ولاړ سي او هغه څه پخپلو سترګو ويني چې دمخه پيښ سوي و. عبدالباري چې پوه سو داوود بام ته دختلو نيت لري،کوتره يې سوکه پر ځمکه کيښوده،خپله امسآ يې راواخيسته په هغه پسې بام ته پورته سو.

داوود او عبدالباري کوتر خانې ته ورننوتل،ترخه منظره وه:دکوترخانې غولی له وينو او مړو کوترو څخه ډک و،هرې برخې يې دمرګ بوی ورکاوو.

داوود ځای پر ځای ولاړ و او عبدالباري پخپلو لاسونو مړې کوترې لمس کولې او اوښکې يې تويولې دخپل يوازيتوب او تفريح ياران يې له لاسه ورکړي ول.

داوود عبدالباري تر لاس ونيو او له کوترخانې يې راويوست:

- څه چې ځو عبدالباري زموږ له لاسه څه نه کيږي.

عبدالباري په مايوسي وويل:مړې سوې، زما ټولې کوترې ولاړې. وروسته يې له جاويده وپوښتل:

- پشي څه رنګ وه؟

- توره وه پلاره!سترګې يې هم سرې وې.

کله چې چوترې ته ورسيدل،مريم ((سپينې کاغذي)) ته چې مړه سوې وه،کتل.

## ۱۹

کوچنۍ کوټې اودلړکي بوی ماري په تکلیف کړې وه.ماښام ته نږدې چې تودوخه یوڅه کمه سوه ولاړه دانار تر ونه لاندې کیناسته او انارو ته ځیر سوه.

داډې په منځ کې روغتون ته نږدې دانار یوه ونه چې کابو دری نیم متره وه او ښاخونو یې سلګونه انار لرل،انار به چې کله باد ښورول داسې فکر کیده چې سلګونه سره قندیلونه بې له دې چې زیان ورته ورسیږي له یوبل سره لګیږي،کله یې چې آډه جوړوله کاناډایانو ویلي ول چې دغه ښکلې ونه مه وهی.

انار دهغې دسترګو په وړاندې لوییدل او دپوست سوروالی یې شیبه په شیبه زیاتیده ،دې اوریدلي ول چې کندهار دځمکې پر سر تر ټولو ښه انار لري او انار دکندهار سمبول دی.

له ځانه سره یې ویل((عجیبه ښکلې میوه او دښکلا عجب سمبول))

دچای پیاله یې په لاس کې وه عادت یې اخیستی و، چې هره ورځ دانار تر ونې لاندې چای وڅښي،دیو سور چای په کولو سره به یې له ځانه وپوښتل((ولې کندهار ته راغلې ده؟))او وروسته یې ځواب ورکاوو((ښایي تقدیر هغه دلته ر اوستې وي،څو نابینا افغانانو چې مرستې ته اړتیا لرله یا هم ښایي ښې تنخوا هڅولې وي چې کندهار ته راشي او په پوځي اډه کې چې یوه زندان ته ورته ده کار وکړي.

دیوید ویلي ول چې دا باید دې دندې ته ولاړه نه سي خو دهغه خبره یې نه وه منلې او په سلو دلیلونوېی چې اوس ورته احمقانه معلومیدل هغه ته قناعت ورکړی و چې دکندهار له سفر سره مخالفت ونه کړي او اوس یې په دې توده هوا کې دانار تر ونه لاندې د دیوید یاد پر زړه را اوریده او دسبا او نورو ورځو په تمه وه تر څو، څو کسه ناروغان تداوي کړي او څو ساعته هم له جاوید او نورو همکارانو سره مجلس وکړي او په دې توګه دخپل سفر پای ته ورنږدې سي.

دانار له ونې لاندې یې اډې ته ور وکتل :څلور__ پنځه متره پاېی دسترو خښتو په څیر یوه په بله پسې ایښودل سوې وې او دکار دخونو،سالونونو او کاغوشونو دلیدلو په مخه کې خنډ وې.ټولې ودانۍ یې ددغو پایو شاته پټې کړې وې څو له احتمالي بریدونو او توغندیزو بریدونو څخه په امن کې وي.او آن داډې دننه سرکونه یې دچیین په شکل دسمنتي پایو په ایښودلوسره تړلي ول څو دهرډول دښمن دننوتو مخه ونیسي ،هر سرتیری مجبور و،دځان ساتلو لپاره کابو شل کیلو مرمۍ ضد جامې واغوندي او درنده اوسپنیزه خولۍ پر سر کړي ، دغو جامو دکندهار ګرمي دوه برابره کوله.

دکندهار آسمان شین دی وریځ او ووره نه ښکاري،کله چې لمر لویږي،ځي داډې د دیوال شاته.لومړی آسمان ژیړ سي وروسته سور وګرځي او وروسته ژیړ او سره رنګونه خپل ځای تیارې ته پریږدي او هغه وخت دی چې له تیارې او دهوا له سړیدو سره یو یو سرتیری را پیدا کیږي او کله چې ماري دانار تر ونه لاندې ویني شپه په خیر ورته وایي او په بیلابیلو پلمو راځي او له هغې سره خبرې کوي دلته سرتیري دښځې له بوی څخه بې هوښه کیږي ماري دهغوی له کتلو پوهیږي چې په غیږ کې دنیولو تږي یې دي او په دې وچ ډاګ کې دیوې ښځې لیدل او هغې ته کتل د تږي سړي په ستوني کې داوبو دڅاڅکي په معنا دي.له دې خاطره دانار تر ونې لاندې دسرتیرو په ډیریدو سره خپلې کوټې ته ځي او ژر ویده کیږي تر څو سبا ته د سترګو دعملیاتو او معاینې لپاره ډیره خوصله ولري.

ماري په کندهار کې دسترګو دڅو بریالیو عملیاتو له کولو وروسته مشهوره سوه او ناروغان یې ورځ په ورځ زیات سول دماري دناروغانو یوازیني ستونزه ترهغې پورې رسیدل و،دناروغانو په ډیریدو سره کاناډایي سرتیري مجبور سول هغوی دنوملړ له مخې د اډې کلنیک ته راولي.

دورځو نه يوه ورځ ماري له يوې زړه بوږنونکې پيښې سره مخ سوه .دښوونځي دنجونو پر مخونو يې تيزاب پاشلي ول او دهغوی دوه تنه يې چې سترګې يې سختې زيانمنې سوې وې اړې ته راوړې يوه پنځلس کلنه او دابله يې کابو لس کلنه وه.

هغوی پخپلو سترګو او مخ دتيزابو دسوي له امله چيغې وهلې ماري ددوی په ليدو سره هک پک سوه او هغه ډول چې په چټکتيا سره يې کار کاوو تر څو دغو نجونو ته بيړنۍ طبي مرستې ورسوي، له جاويد څخه يې وپوښتل:

- څه فکر کوې ولې يې داسې غير انساني کار کړی دی؟

جاويد وويل:

–دلته ځينې کسان مکتب ته دنجونو له تللو سره مخالف دي.

دا لومړی ځل و،چې ماري اوريدل چې يو شمير کسان نه غواړي نجونې درس ووايي بيا يې په حيراني پوښتنه وکړه:

– ولې؟

جاويد وويل:

- سخته ده وار له واره ددغه ولې ځواب در کړم.

ماري بيا پوښتنه وکړه جاويد ته په کتلو وپوهيده چې دا کيسه اوږده ده.

دلس کلنې نجلۍ سترګې ډيرې زيانمنې سوې وې کله چې ماري دهغې سترګې په دوا مينځلې پام يې سو چې دسترګو جژمې يې يومخ له منځه تللي دي،ماري چې په دې پوهيدلې وه چې دهغې دسترګو بينايي بيرته نه راګرځي ډيره خواشينې وه،هغې له لازمو کارونو وروسته ددواړو سترګې ور وتړلې په داسې حال کې چې دواړو سخت زګيروی کاوو دجاويد په مرسته يې بلې خونې ته يووړلې چې استراحت وکړي.خو چې راوګرځيده طاقت يې ونه سو دانار تر ونه لاندې کيناسته ،ښه ډير يې وژړل.

جاويد له ليرې ماري ته کتل،زړه يې اول پرجنکيانواو وروسته پر ماري چې ډيره مهربانه او زړه سوانده وه سوځيدلی و. ماري چې جاويد په زينو کې وليد اشاره يې ورته وکړه چې ددې خواته راسي.جاويد

سوکه ددې خواته ورغی ،دانار دونې ترځنګ مخامخ ورته ودریده او ماري ته یې کتل: له ځیرې څخه یې غم اوریده سترګې یې اوښلنې او آننګې یې لامده سوي ول.

ماري په نیولي ژغ وویل:

– پوهیږې دلس کلنې نجلۍ سترګې ختمې دي نور لیدلی نه سي،نه به پلار،نه مور،نه ورور او نه خور که یې ولري یو هم نه سي لیدلای ،هغه دتل لپاره ړنده سوه.هیڅ باور مې نه کیږي چې ددې دنیا په یوه ګوټ کې داسې کسان هم پیدا کیږي چې دبې ګناه ماشومانو په مخ تیزاب وشیندي.دغه کار ظلم دی ،داخلک د ډیرو زړونه لري،دغو ماشومانو څه ګناه کړې وه؟

جاوید چوپ و،پوهیده چې اوس دتشریح کولو وخت نه دی،پریږده چې زړه یې سپک سي. ماري هماغسې خبرې کولې:

–که دوی ددغو کوچنیانو له درس سره مخالف دي نو ددې هیواد راتلونکې به څوک جوړوي؟تاسې دخپل راتلونکي لپاره ډاکټر،قاضي،حقوقپوه،ښوونکي او څه او څه ته اړتیا لرئ ،که نه نو دا ډول سخت او له کړاوونو ډک ژوند به ولرئ.

له لږچوپتیا وروسته یې وویل:

– کله چې زه ستاسې له وطنه ولاړه سم، ډیرې ترخې خاطرې به له ځانه سره یوسم،ښایي ډیره ترخه همدغه دښوونځي پر نجونو دتیزابو دپاشلو ترخه خاطره وي.زه به هلته ووایم چې زه دداسې خلکو مرستې ته ورغلې وم چې خپل اولادونه یې ړندول.

جاوید خواشینی سو او د ماري داخبره یې دغشي غوندې پر زړه ولګیده،په نارضایتي یې وویل:

– ماري!ته اشتباه کوې زموږ خلک داسې نه دي،هغوی غواړي افغانستان پرمختګ وکړي.

ماري دجاوید خواشینې ځیرې ته وکتل،جاوید نه ژړل خو زړه یې دردیدلی و او له ځیرې څخه یې غم اوریده. ماري وویل:

– ګوره جاویده که تاسې په یوه خوله دهغو کسانو په وړاندې چې غواړي ستاسې وطن خراب کړي ودریږئ هیڅوک نه سي کولای ستاسې ماشوم ته زیان ورسوي،ستاسې مکتب ړنګ کړي او امنیت مو ګډوډ کړي،له

ځوکلونو جګړو او ورانیو وروسته تاسې ته موقع په لاس درغلې چې خپل وطن آباد کړئ خو اوس زه فکر کوم تاسې دا موقع له لاسه ورکوئ.

ماري له اوږدې چوپتیا وروسته وویل:

- جاویده! پوهیږم چې ته ځوان یې پر ځینو موضوعاتو پوهیدل درته ګران دي،پوهیږې! سره له دې چې وینم ستا غوندې یو تکړه ځوان له ما سره ترجمان دی خوشحاله یم خوله بلې خوا چې وینم جګړې ستا او نورو ځوانانو پر زده کړو بده اغیزه کړې ده ډیره خواشینې کیږم.

ماري داوویل او چوپ سوه،جاوید هغې ته وکتل او داچې نورې یې اوښکې نه تویولې خوشحاله سو.

ماري چې دانار دونې له سیوري څخه تله ویې ویل:

–جاویده وبخښه چې ته مې خواشینی کړې،ځم چې دجان او دیوید یاد مې په زړه را واوریده،ښایي دهغوی برښنالیک راته رسیدلی وي.

ماري ولاړه کمپیوتر یې روښانه کړ او خپل برښنالیکونه یې ولوستل.دیوید،جان،ددې دروغتون همکارانو او آن پیتزا پلورونکي حبیب ورته لیکونه استولي ول.

ماري ددغو لیکونو په رارسیدو خوشحاله سوه او دهغو په لوستلو یې پیل وکړ.جان لیکلي ول چې هرڅه ښه دي او دی په مور پسې ډیر دق سوی دی،ده همدارنګه لیکلي ول چې ډیر ژر به دتورنتو او نیویارک دانتخابي لوبډلو ترمنځ دفوټبال سیالۍ پیل سي چې دهغو دنندارې لپاره یې لادمخه ټکټونه برابر کړي ول،ده له موره مننه کړې وه چې پخپل برښنالیک کې یې دخپل ژباړونکي جاوید په اړه ورته لیکلي ول.او لیکلي یې ول چې دجاوید لپاره یې یو((ام پي فور)) یوه(( ډي وي ډي)) او یوه دفوټبال((سي ډي)) او یوه اندازه خپلې جامې استولې دي چې ممکن تر څو ورځو پورې کندهار ته ورسیږي.

حبیب پیتزا پلورونکي هم لیکلي ول له هغې ورځې چې دا افغانستان ته راغلې ده دیوید او جان څلور پلا دپیتزا خوړلو لپاره ورغلي دي او ددې احوال یې له هغوی اخیستی دی هغه دغه راز ماري ته دبري هیله کړې وه او په پای کې یې لیکلي ول چې له ځان سره دې پام کوي.

ماري ته دحبیب دلیک په لوستلو نابره پیتزا وریاده سوه پام یې سو چې سخته وږې ده، لیکونو ته یې ځواب سبا ته وځنډاوو او د ډوډۍ خوړلو سالون ته ولاړه.

## ۲۰

جاوید چې کلي ته ورسیده هوا تیاره سوې وه .پلاریې،زرمینه،مریم او داوود پر چوتره ناست ول او په منځ کې یې الکین څراغ لګیدلی و،جاوید نږدې ورغی سلام یې واچاوو،ټول دهغه په راتلو خوشحاله سول،پلار یې وویل:

– زویه په دې ورځو کې لږ کلي ته راځې!

– کار زیات دی پلاره.

– له اسماعیل څخه کوم احوال نه لرې؟

– یه پلاره.

– له توریالي څنګه؟

– توریالی خپل کار ته تللی ځو ورځې دمخه مې پر ټیلفون ورسره خبرې وکړې،ویل یې چې په خیر په دې ورځو کې دپنجوایي ـــ کندهار دسړک دجوړولو کار شروع کیږي.

عبدالباري او داوود خوشحاله سول او یوځای یې هغه ډول چې وایي زړه زړه ته لار لري وویل: په خیر دې وي.

داوود وویل:

–هیڅکله مې دا فکر نه کاوو چې یوه ورځ به پوخ سړک ولرو،خو الحمدالله دادی نن پاخه سړکونه زموږ تر ولسوالیو راورسیدل.

جاوید نابېره خبره بدله کړه:

– ابا یوه لایقه ډاکټره مې پیدا کړې ده،غواړي ستا سترګې ووینې.

عبدالباري سوړ اسویلی وایست ویې ویل:

– زویه په دې اخیر عمر کې بینا سترګې څه کوم.

داوود یې په خبره کې ورولویده جاوید ته یې وویل:

– پام کوه بچیه دهغه سترګې عملیات نه کړې،که دهغه سترګې بینا سي ولاکه یې دامسا له لاسه ورځ ولرو،که اوس مې پر ملا وهي هغه وخت به مې پر سر پرې وهي.

جاوید وخندل ویې ویل:

– داوود اکا!چې دپلار سترګې مې جوړې سي،بیا امسا نه ګرځوي.

ټولو وخندل.داوود چې خپلې اشتباه ته پام سو ویې ویل:

– ویریږم هغه وخت به دامسآ پر ځای ټوپک واخلي په ګولۍ به مې وولي.

– بیا ټولو وخندل،جاوید په جدیت سره وویل:

– – پلاره دایوه ډیره ښه خارجۍ ډاکټره ده،یوه میاشت وروسته ځي خپل هیواد ته،دغه چانس له لاسه مه ورکوه،یوه پلا به ولاړ سو چې ودې ګوري.

داوود یې په خبره کې ور ولویده:

– معاینه په کار نه ده مخامخ یې بوزه چې عملیات یې کړي.کلونه دمخه یې موږ ته ویلي ول چې کیدای سي په عملیاتو یې سترګې جوړې سي.

عبدالباري ددې لپاره چې ددوی بحث ختم کړي ویې ویل:

– نه یې عملیات کوم.

ټولو په حیراني وپوښتل:

- ولې؟
- پر تاسې اړه نه لري.

داوود مريمې ته وويل:لورې ورسه چاى راوړه.جاويد ته يې مخ ور واړاوو،ويې ويل:

–جاويده زويه ستا پلار ليونى سوى دى،كارونه جوړ كه،زه هغه په زور ډاكتر ته ورولم.

مريم ولاړه چاى يې راووړ،كله يې چې پيالې مينځلې اوښكې يې روانې وې اود عبدالباري ژغ يې چې پوښتنه يې كوله(( له اسماعيله احوال نه لرې)) په غوږونو كې انګازې كولې.دا له توريالي هم خبره نه وه .توريالى له هغه وروسته چې دواده په شپه يې له مريم څخه داسماعيل پوښتنه كړې وه او هغې يې په ځواب كې ژړلي ول،بام ته ختلى و،ويده سوى و،سهار وختي دكابل دسرک دقرار داد په پلمه تللى و.

دمريمې هغه ورځې وريادې سوې چې اسماعيل به ازاروله ،اسماعيل يوه ورځ دهغې دټيكري پيڅه د ونې په ښاخ پورې تړلې وه كله چې مريم روانه سوې وه ،پرځمكه لويدلې وه او ژړلي يې و.اسماعيل پخپل دغه عمل لومړى خندلي و،خوبيرته ژر پښيمانه سوى و او ويلي يې و((كله چې ژاړې او اوښكې تويوې بد رنګې مالوميږې))داسماعيل ياد يې دپلار له ژغ سره ورک سو: چاوې تيارې دي؟خپلې اوښكې يې پاكې كړې دچاى پتنوس يې دهغوى په منځ كې كيښود.

داوود دمخه سو،په پياله كې يې چاى واچاوو،دجاويد خواته يې كيښوده ويې ويل:

- واخله اكايې جار سي،چاى وڅښه چې ستړى راغلى يې،شاباس چې دپلار په غم كې دې يې،دهغه دستركو غم وخوره چې لږترلږه ماخو ښه ويني.

عبدالباري خپله امسا پورته كړه،خو دا پلا داوود ونه ټنبتيده،ويې ويل:

- عبدالباري سرټمبګي مه كوه كه نه چاى نه څښم او ځم.

عبدالباري چې امسا بيرته را كوزوله ويې ويل:

- عمليات كوم كه يه،پر تاسې اړه نه لري او اوس مې وويل چې نه يې كوم.

داوود وويل:

- انار په پخيدو دي ،كه پيسې نه لرې چې زه يې دركړم.

جاوید په بیړه وویل:

- یه داوود اکا ! پیسې په کار نه دي.

عبدالباري چې ددغه بحث دوام په عذاب کړی و،وویل:

- یوه پلا مې وویل چې عملیات نه کوم ،پریږدئ مې که یه؟

جاوید داوود ته سترګه ووهله او هغه یې پوه کړ چې نور په دې باره کې څه ونه وایي.

## ۲۱

دښوونځي پر نجونو دتيزابو له پاشلو څو ورځې تيرې سوې ماري خپل عادي کارونه بيرته پيل کړل.هغې دورځې يو‐ دوه کاناډايي سرتيري او اته لس ناروغ افغانان معاينه کول او دوه درې دسترګو عمليات يې هم کول.

يوه ورځ نابېره دروغتون ارامي ګډه وډه سوه ،زيات سرتيري هلته راغلل جاويد ته يې وويل چې خپل مخ او سر پټ کړي چې دطالبانو يو قوماندان دسترګو دعملياتو لپاره راوړي.جاويد په بيړه خپل سر او مخ په دسمال وتړل، کله يې چې دا قوماندان وليد ويې پيژاند،هغه دکوز کلي ملا صمد و.

کاناډايي سرتيروصمد په پنجوايي کې له يوه درانه جنګه وروسته نيولی و.دهغه ښۍ سترګه ټپي سوې وه ،دصمد پر توره لونګۍ يې دهغه لاسونه ورتړلي ول،کله چې سرتيرو هغه دعملياتو پر ميز څملاوو دهغه پښې يې هم ور وتړلې يو ساتونکی يې ورسره پريښود او دوی ولاړل.

ماري چې تراوسه پورې کوم لاس او پښې تړلی ناروغ نه و،عمليات کړی په تعجب يې صمد ته کتل،دصمد دمخ له ښۍ خوا وينې بهيدلې وې دهغه غاړه او کالي يې سره کړي ول.صمد دسترګو دزخم له درده زګيروی نه کاوو.

ماري پنبه او الکل راواخیستل ،جاوید ته یې وویل:

- ده ته ووایه چې دزخم مینځل یوڅه سوی لري.

جاوید دماري خبرې ورته وژباړلې،صمد دجاوید دږغ په اوریدو سره وویل:

- ناځوانه خپل ږغ به دې وختي پورته کاوو،ته خو کنداری یې.

جاوید څه ونه ویل،خو ماري وپوښتل چې څه وایي؟

جاوید وویل: هیڅ،تازه یې پام سوی چې دلته یو ترجمان هم سته.

ماري چې پینس او په الکلو لړلې پنبه یې په لاسونو کې ول،پوښتنه وکړه:

- نو زما ځواب یې نه دی راکړی؟

جاوید بیا صمد ته دپانسمان دسوخت وویل.صمد وویل:

- ورته ووایه څوک چې مرمۍ زغملی سي،دزخم پانسمان ورته هیڅ دی.

ماري دصمد ددغې خبرې په اوریدو سره متوجه سوه چې هغه یو عادي سړی نه دی ،هماغسې چې دهغه ټپ یې پاکاوو،ویې پوښتل:

- طالب یې؟

- هو کاناډایان مې هم ډیر وژلي دي.

دماري لاسونه له حرکته ولویدل،تراوسه پورې داسې نه و،پیښ سوي چې دخپلو وطنوالو دقاتل درملنه وکړي، دا ډول ښکاره خبرې یې تراوسه نه وې ،اوریدلې،ځکه یې په خواشینۍ وویل:

- او ته اوس اسیر یې،مورږ هم کولای سو تا ووژنو.

صمد دملنډو په موسکا وویل:

- ځوانه !له دغې ښځې پوښتنه وکړه،چې نو ولې راته ګوري،ولې مې نه وژني؟

جاوید دهغه خبرې وژباړلې،ماري وویل:

- زه یوه ډاکټره یم،انسان نه وژنم.

- عسکرو ته دې ووایه چې دا کار وکړي.

–زه دهغوی په کار،کار نه لرم،اوس یې ته راوړی یې چې تداوي دې کړم،زه هم همدا کار کوم.

صمد دهغې په ځواب کې څه ونه ویل،خو له جاویده یې وپوښتل:

– ځوانه دکندهار دکوم ځای یې؟

جاوید وویل:

– دکندهار دښار.

– نه شرمیږې چې له کافرانو سره کار کوې؟

– که مې دلته کار نه کولای ستا ترجماني به نو چاکوله.

– زما ترجمان مرجمان په کار نه دې،پورته سه خپل کور ته دې ځه.

ماري پوښتنه وکړه:صمد څه وایي؟جاوید وویل:

–هیڅ دلته زما په کار کولو خواشینی دی.

– ورته ووایه چې زخم یې باید عملیات سي،زه دبې هوښي پیچکاري ورته لګوم او بیا یې سترګه او دهغې شاوخواعملیات کوم.

جاوید دماري خبرې وژباړلې،صمد وویل:

– دبې هوښي پیچکاري ته ضرورت نسته،خپل عملیات دې شروع کړه!

ماري په تعجب وویل:

– له بې هوښي پرته ډیر سخت درد لري چې دزغملو نه دی.

صمد وویل:

– په دې پورې اړه نه لري او دبې هوښي پیچکاري ته هم ضرورت نسته.

ماري سرتیري ته مخ ور واړاوو ویې ویل:

– نه سم کولای دبې هوښي له پیچکاري پرته عملیات وکړم،تر اوسه مې داسې عملیات نه دي کړي.

سرتیري په مخابره کې دغه خبر خپل قوماندان ته ورساوو،څو شیبې وروسته احوال راغی چې اختیار دده دی،که یې زغملی سي،فرق نه کوي.

دماري دکاري تجربې په دوران کې داسې پېښه نه وه سوې،چې ناروغ دې له هيڅ ډول بې حسي پرته عمليات کړی وي،هغې په داسې حال کې چې دعملياتو وسايل يې پر ميز سمول،وپوښتل:

– ښه کله چې ستا سترګه ښه سوه،څه کوې؟

–زه يو تکړه نښه ويشتونکی يم داچې په ښی سترګه نښه ولم،غواړم دغه سترګه مې ړنده نه سي.

ماري وخندل:

–فکر کوم چې ستا له نښه ويشتو خلاصه ده.

– ولې؟ړنديږم؟

– يه سترګې دې ډېر زيان نه دی ليدلی،ړوند به نه سې،خو ته اوس بندي يې.

صمد وخندل:

– له اسير کيدو څخه انديښنه نه لرم،ځکه چې انډيوالان به مې ډېر ژر ستاسې څو کسه اسير کړي ،وروسته له هغوی سره بدليږم،که ونه سوو،تښتم.

ماري په تعجب جاويد ته وکتل،بيا يې ساتونکي سرتيري ته وکتل،په اشاره يې وپوښتل چې څه وايي؟

سرتيري وخندل،څه يې ونه ويل،ماري له صمده وپوښتل:

– ښه فرض به کړو چې ته معامله سوې يا وتښتيدې،بيا څه؟بيا جبهې ته ځې؟

– جبهه نه جهاد.ترڅو چې خارجيان دلته وي،زموږ جهاد به روان وي!

ماري له جاويد څخه پوښتنه وکړه:جهاد څه معنا لري؟

جاويد وويل:

–دحق په لاره کې جنګيدل.

ماري ترخه خندا وکړه،ويې ويل:

– دمکتبونو سوځول،دنجونو پر مخ دتيزابو پاشل،دکلنيکونو ويجاړول،دپلونو ورانول هم دحق په لاره کې جهاد دی؟

صمد په غوصه وويل:

– دا کارونه چې ته يې وايې،موږ نه کوو،زموږ کار يوازې دهغوکافرانو وژل دي چې زموږ پر وطن يې تيری کړی،ما ښايي تراوسه ستاسې څلويښت کسه وژلي وي او که کومه ورځ ستاسې له منګولو ازاد سم،باور ولره چې بيا به هم همدا کار کوم.

دماري لاسونه بيا له حرکته ولويدل،له ځانه يې وپوښتل:داڅه حالت دی؟داسې څوک تداوي کوم چې غواړي بيرته جنګ ته ولاړسي او زما وطنوال ووژني،هرڅه يې چې وکړل ويې نه سوای کولای خپل کار ته دوام ورکړي،نابېره يې خپل ماسک او سپينه چپنه وايستل ،پر کوټيند يې وځړول او دعملياتو له خونې ووتله.

ماري په ورو قدمونو دانار ونې ته ورغله او داوښکو په تويولو يې شروع وکړه.څوشيبې وروسته داډې قوماندان راغی په تسلي سره يې ماري ته وويل:

– ماري! دلته جګړه ده ،ته له داسې پيښو سره مخ کيږې چې بايد هغه دجګړې د ډګر ديوه واقعيت په توګه ومنې.پوهيږم چې دداسې چا عمليات کول چې ستا وطنوال وژني سخت دي ،خو ته بايد يوې ډاکټرې په توګه له اسير دښمن سره مرسته وکړې.

ماري دقوماندان خبرې واوريدې خو کار ته راضي نه سوه ،ځمکې ته يې کتل او خپلې اوښکې يې پاکولې .قوماندان چې له هغه ځايه روانيده ماري ته يې وويل:

– تر دې ونې لاندې څو دقيقې پاته سه،چې ستړيا دې ليرې سي،هيله ده له هغه وروسته خپل کار ته دوام ورکړې.

ماري دانار ونې ته وکتل دانار پوستکي سره سوي ول،او دلمر وړانګو يې يوه خوا داغ کړې وه،له غرمې وروسته ګرمي يې حالت خراباوو،نور يې دانار تر ونه لاندې دپاته کيدو حوصله نه وه،زړه نازړه دعملياتو خونې ته ولاړه او کار يې پيل کړ،کله چې عمليات خلاص سول صمد جاويد ته وويل:

– سره له دې چې ستا څيره مې ونه ليده خو که کومه ورځ په لاس راغلې تا هم له کافرانو سره دکومک په تور وژنم.

جاويد دهغه خبرې ته اعتنا ونه کړه،ويې ويل:

– اوس دخپل ځان په فکر کې اوسه چې په قفس کې يې.

## ۲۲

دهغې ورځې په ماښام ماري ديويد ته ليک وليکه او دصمد کيسه يې په تفصيل ورته بيان کړه،په اخير کې يې زياته کړه: هيڅ تصور مې نه کاوو يوه ورځ داسې څوک عمليات کړم چې زما څو وطنوال يې وژلي دي،او دهغه سترګه دبيا ليدو او بيا نښه ويشتو لپاره تداوي کړم،هغې دغه راز ورته وليکل چې ددې دترجمان جاويد پلار هم ړوند دی،خو هغه نه غواړي چې عمليات سي او سترګې يې بيرته بينا سي،په دې مسله کې کوم راز پروت دی. دې هيله وښوده چې دخپلې دندې تر پايه په دې بريالۍ سي چې دجاويد پلار عمليات کړي.

بله ورځ چې جاويد کار ته راغی،ماري ترې پوښتنه وکړه:

– دتداوي په باره کې دې له خپل پلار سره خبرې وکړې؟

جاويد وويل:

–خبرې مې وکړې،ټولې کورنۍ پرې ټینګار وکړ چې ستر ګې عملیات کړي او پاتې عمر له امسا پرته پر لاره ولاړسي.

– څه يې وويل؟

– هیڅ هماغه پخوانی ځواب،پخپل ضد ولاړ دی.

ماري وويل:

– هیله ده یوه ورځ ستا له پلار سره خبرې وکړای سم او هغه دخپلو سترګو تداوي ته راضي کړم.

جاويد پوښتنه وکړه:

– بله هیله هم لرې؟

ماري وويل:

–ستاسې لپاره زما هیلې زیاتې دي،اول غواړم دې هیوادته سوله او امنیت راسي،او بل تاسې ترقي او پرمختګ ته ورسیږئ.

– او نور؟

– او بل غواړم زما دتلو تروختته دکندهار انار پاخه سي،ترڅو ستاسې دغه مشهور انار وخورم.

– ډیر ژر پخیږي،ښايي تر نورو شلو ورځو پورې.

ماري پر جاويد زيرى وکړ چې دهغې زوى جان دده لپاره ځينې وسايل او جامې رااستولې دي او ډير ژر به راورسيږي.

جاويد وپوښتل:

– عجب،ستازوى ما پيژني؟

– هو پيژني دي،ما پخپلو ليکونو کې ستا په اړه ورته ليکلي.

په دې وخت کې ماري له جاويده له انتظاره ليرې پوښتنه وکړه:

–جاويده ته ولې خپله ږيره نه اصلاح کوې؟په کاناډاکې ستا په عمر ځوانان ټول خپلې ږيرې خريي،او ډير ښه ښکاري.

جاويد وخندل ويې ويل:

– پوهیدم چې یوه ورځ به له دا پوښتنه کوې،په اصل کې دا په کندهار کې دطالبانو دبیا پیدا کیدو له وخته دي،هغوی په هغو کلونو کې چې پر افغانستان یې حکومت کاوو،دړیرې خرییل منع کړي و،چا به چې ږیره نه لرله یا به یې په درو واهه یا به یې بندي کاوو،سره له دي چې دا خبره اوس ډیره جدي نه ده او طالبان پخپلو چارو بوخت دي،خو کله دپلار دلیدو لپاره کلي ته ځم داحتیاط لپاره ږیره نه خرییم،او یوه بله موضوع هم وه چې غوښتل مې درته ویې وایم.

ماري په بیړه پوښتنه وکړه:

– ووایه څه خبره ده؟

– پلار مې پر دې خبر نه دی ،چې زه دلته په پوځي اډه کې ترجمان یم،که کومه ورځ له دې خبرې خبر سي،نه پوهیږم څه به وکړي.

ماري په منت وویل:

– تا ښه کار نه دی کړی چې له پلاره دې داخبره پټه کړې ده ،باید له پلاره او موره څه شي پټ نه کړو.

– ته رښتیا وایې، خو دامنیت مسلې او کلي ته دتلو راتلو ضرورت مجبور کړم چې دا خبره آن له پلاره هم پټه کړم.ماري نابېره له جاوید څخه پوښتنه وکړه:

– زه ستاسې کلي ته تللی سم.

جاوید په حیراني ورته وکتل ویې پوښتل:

– دڅه لپاره غواړې زموږ کلي ته ولاړه سې؟

– ستا له پلارسره دخبرو لپاره.

– موږ دواړه به له کلي وشړي.

او هماغسې یې پسې زیاته کړه:

– که مو له وهم نه باسي ،ته چې یوه خارجۍ یې که دې په کلي کې په دې جامو کې ووینې ،یو ساعت وروسته طالبان راځي.

–ښه که دغه اوږده شیان چې ستاسې ښځې یې اغوندي ،واغوندم،بیا څه؟

– څادري؟

– هو څادري.

– ته له څادري سره تلای سې؟

– نه پوهيږم،ولې سخته ده؟

جاويد وخندل:

– والله تر اوسه مې نه ده ازمويلې.

– ته يوه ماته پيدا کړه،غواړم له څادري سره په لاره تلل تمرين کړم،او ترڅنګ يې يوه ديادګار په ډول کاناډا ته راسره يوسم.پوهيږې!آن غواړم له څادري سره عکس واخلم.

جاويد وويل: ښه ده ،له بازاره به يوه څادري درته راونيسم.

بله ورځ جاويد ماري ته څادري راوړه ، ماري هغه واغوستله او يوه څه له هغې سره پر لاره ولاړه او بيا يې په ويره جاويد ته وويل:

– ددغې څادري دېنجرو له شا پر لاره تلل رښتيا چې ډير سخت دي،ويريږم پر ځمکه ونه لويږم او لاس او پښې مې ماتې نه سي.

جاويد په انديښنه وويل:

– پام کوه!په احتياط قدم ږده.

هغه څو ځله کږه وږه سوه خو په پای کې يې خپل تعادل وساته او دباندې ووته،سرتيرې ديوې څادري لرونکې ښځې په ليدو سره هک پک سول،يوه يې غږ وکړ چې ځانمرګی نه وي؟ماري وډاره سوه ژر يې څادري واړوله.سرتيرو دماري په ليدوسره وخندل او چکچکې يې ورته وکړې.

ماري څو ورځې له څادري(برقع)سره پرلاره تلل تمرين کړل کله چې ډاډه سوه له هغې سره بې له دې چې ولويږي پر لاره تلای سي،جاويد ته يې وويل چې دهغه له پلار سره دليدو لپاره پنجوايي ته تللو ته چمتو ده.

## ۲۳

جاوید چې له ماري سره دپنجوایي دموټرو داډې په لوري روان و، په اندیښنه کې و ،هره شیبه یې هغې ته کتل:آیا له ځادري سره پر لاره تلای سي؟آیا داسې حرکت خو نه کوي چې خلګو ته سوال پیدا سي؟ ماري چې دجاوید په څیره کې په تشویش پوهیدلې وه ،په ډاډ او متانت یې قدم ایښوده او هڅه یې کوله چې خبرې ونه کړي.

ماري چې دا یې لومړۍ پلا وه چې دکندهار ښار له ګڼې ګوڼې ډک واټونه یې لیدل زړه یې و، هرځای ودریږي او سیل وکړي،زړه یې غوښتل دهر دکان مخې ته ودریږي او هغوشیانو ته وګوري چې داسې شیان یې هیڅ وخت پخپل هیواد کې نه و،لیدلي.دې له ځادري څخه هغو خلګو ته کتل چې ظاهرآ له جګړو،بمونو او ځانمرګو بریدونو څخه بې له کوم تشویشه پخپلو کارونو بوخت ول،غوښتل یې له هغوی سره خبرې وکړي ،دهغوی دژوند او رسم و رواج په اړه پوښتنې وکړي،خو جاوید په اشاره ورته ویل:

((لازمه نه ده،چټک خپل قدمونه اخله))

هغوی دګنې ګوڼې له څو واټونو تیر سول او دمسګري کوڅې ته ننوتل،له هره دکانه پر سندان دچټکونو دلګیدلو آواز راته،ډنګ وډونګ یې غوږونه آزارول.د دکانونو پر دیوالونو رنګارنګ غلبیلونه،چمچې،او لوی لوی دیګونه چې د ودونو دمجلسونو لپاره جوړ سوي ول،راځړول سوي ول ،چې دلارویانو لارې یې تنګې کړې وې.

ماري دبازار په ننداره کې لاهو وه،چې نابېره یوه تورهلک چې زړې او خیرنې جامې یې اغوستې وې او سوری سوی قوطی یې پر سر ګډاوو او له هغه څخه لوګي پورته کیدل دماري په لاره کې شین سو:

– سپند ،بلا بند،په حق دشاه نقشبند...

ماري وویریده او په چټکۍ سره دجاوید شاته پټه سوه.خو سپیلنی لرونکی هلک پرېښودونکی نه و:

– تروړې خدای دې له بد نظره وساته،راکه دخدای په رضا!

جاوید په بیړه لس افغانۍ ورکړې،سپیلني لرونکي هلک په داسې حال کې چې لس ګون بویاوو،په خوشحالي له هغه ځایه څخه ولاړ.ماري دارامي ساه وایستله ،له جاوید څخه یې پوښتنه وکړه:

– دې ماشوم څه غوښتل؟څه شی یې دودول؟

جاوید لومړی ونه غوښتل دهغې ځواب ورکړي،خو وروسته یې چې ولیدل په دا دومره ډنګ وډونګ او شورماشور کې کولای سي ماري ته لنډه خبره وکړي،ویې ویل:

– سپیلنی یې درته لوګی کړ،چې په نظر نه سې.

– سپیلنی څه شی دی؟

– یو ډول دانه ده، زموږ خلک په دې باور دي چې دسپیلني لوګی کول انسان له بدو سترګو ساتي.

ماري وخندل،ورو یې وویل:

– تر څادري لاندې ما څوک ویني چې نظر مې کړي؟

جاوید ورو وویل:

– دلته خلک ستا دزرکې غوندې تګ ته ګوري،ستا اندام او خرامان خرامان تګ بد نه دي.

ماري وخندل،لومړی ځل و،چې جاوید ټوکې ورسره کولې.

هغوی له ځو کوڅو څخه په تیریدو سره دپنجوایي دموټرو تمځای ته ورسیدل.

سراچه یا غواګۍ موټرونه له دوړو څخه ډک سرک تر څنګ په نوبت دریدلي ول،په لومړي موټرکې دری کسه ناست ول او دریو نورو کسو ته معطل و،ځو حرکت وکړي،ډریور چې دوی ولیدل،ژغ یې پرې وکړ:وخیږئ چې له خیره سره حرکت دی.هغه داوویل دموټر دشا دروازه یې خلاصه کړه ویې ویل:

– زنانه ډالې ته.

.

جاوید ماري ته ویلي و، چې دښه امنیت لپاره ښه ده چې په لیني موټرونو کې ولاړ سي،خو له یاده یې وتلي و،چې هغې ته ووایي داچې ښځې لړ ځي او راځي کیدای سي دا دموټر په شاتنۍ برخه(ډاله) کې کینوي. ماري چې دموټر په  شاتنۍ برخه کې کښیناسته سر یې له چت سره ولګیده،چوکۍ هم نه وه،په غوصه وه او زرګونه پوښتنې یې په ذهن کې وې،خو له ویرې یې شونډې هم نه سوای خوځولی.

دالومړی ځل و، چې ماري دکندهار ښکلی طبعیت او چاپیریال له نږدې څخه لید،دا دباغونو او کښتونو په لیدو سره چې دپنجوایي پر لاره له موټره ښکاریدې په شوق راغلې وه،افسوس یې کاوو چې ولې په دې ښکلي وطن کې ناارامي ده،ګومبزه لرونکي ختین کورونه ماري ته بندیخانې خوندې ښکاریدې،په ذهن کې یې زرګونه پوښتنې وې خو داحتیاط له مخې یې خبرو کولو څخه ډډه کوله او دموټر په هر ټکان سره یې سر له چت سره لګیده او دا لا په غوصه کیده،له ځانه سره یې ویل:ښایي له دې خاطره وي چې ښځې دپنجوایي پر لاره نه معلومیږي.

کابو دماسپښین څلور بجې وې چې هغوی کورته ورسیدل، عبدالباري دتل په څیر په چوتره ناست و او چورت یې واهه.

جاوید سلام ورکړ ویې ویل:

– پلاره ډاکټره مې راوستې ده.

عبدالباري په نارضایتي سره وویل:

– بد دې وکړل.

–پلاره!هغه غواړي له تا سره خبرې وکړي.

– دڅه شي خبرې؟

– ښه اوس راځه چې کورته ولاړ سو،هغه ولاړه ده.

عبدالباري زړه نازړه خپله امسآ راواخیسته او دکور په خوا روان سو،ماري دګلانو دباغچې،دانګړ د منځ او شاوخوا چنارونو ښه ننداره وکړه ،له ځانه سره یې وویل:

– څومره ښکلي!

هغوی کورته ننوتل ماري خپله څادري لیرې کړه او دافغانانو غوندې په توشکه کښیناسته،څوشیبې وروسته مریم او زرمینه هم راغلې او دیوې بهرنۍ ښځې په لیدو سره حیرانې سوې،جاوید ورته وویل:

–ډاکتره ده،راغلې چې له پلار سره مې خبرې وکړي.

کله چې عبدالباري پوه سو دا یوه بهرنۍ ښځه ده،لا په غوصه سو او جاوید ته یې وویل:

– ته بې عقل نه پوهیږې چې حالات ښه نه دي،یوخارجۍ ښځه دې پنجوایي ته راوستې ده.

– پلاره خواشینی کیږه مه،هغه په څادري کې راغلې ده،هیچا دهغې مخ نه دی لیدلی.

دعبدالباري زړه یوڅه ارام سو،مریمې ته یې وویل:

– ورسه دانګړ دروازه کلکه وتړه.

مریم ولاړه،ماري وویل:

– پلارته دې ووایه ،چې سترګې یې یوځل معاینه کړم.

جاوید دماري خبرې وژباړلې،پلاریې وویل:

– که معاینه یې هم کړي،زه عملیات نه کوم.

– دا وروستۍ خبره ده،اول لازمه ده چې دده سترګې له نږدې ووینم.

عبدالباري وویل:

– اوس چې له دومره لیرې ځایه راغلې یې،خیر دی معاینه یې کړه.

ماري له خپل کوچني بکس څخه وسایل راوایستل او دهغه سترګې یې په دقت وکتلې،له څو دقیقو دقت او بیا بیا کتلو وروسته یې وویل:

–جاویده پوهیږې ستا دپلار دسترګوشاوخوا او پرده بیخي جوړه ده،خو دوخت په تیریدو سره غټه پرده پرې راغلې ده،په سلو کې نهه نوي ډاډه یم چې دا پرده یې ایسته سي سترګې یې بیرته بینا کیږي.

جاوید په خوشحالي دماري خبرې وژباړلې،دمریم او زرمینې پر شونډو موسکا خوره سوه،خو عبدالباري هماغسې خواشینی ښکاریده.

ماري جاوید ته وویل:

– او اوس پاته کیږی ستا دپلار پریکړه.که غواړي چې تاسې ووینې له ماسره دې ولاړسي چې سترګې یې عملیات کړم.

جاوید په عذر او زاریو خپل پلار ته وویل:

– پلاره دا یو چانس دی،ماري له یوه لیري وطنه راغلې ده،په افغانستان کې دهغې غوندې لایق ډاکتر نسته،په دې دریو میاشتو کې چې زه هغه پیژنم په لس ګونو کسان یې عملیات کړي دي، هغوی ددغې ډاکترې په جادوګرو لاسونه بیرته بینا سوي دي ،راځه ویې منه.

عبدالباري چوپ و، څه یې نه ویل،ماري جاوید ته وویل:

– له هغه پوښتنه وکړه چې ایا نه غواړي تاسې ووینې ،دا ښکلې باغچه او چنارونه ووینې؟

جاوید دماري دا خبرې خپل پلار ته ترجمه کړې،پلار یې په ځواب کې وویل:

– ولې نه غواړم،خو نه غواړم خپل هیواد اشغال سوی ووینم،دوی زموږ پر هیواد تیری کړی.

ماري ددغو خبرو په اوریدو سره هک پک سوه دا تر اوسه نه پوهیده چې په افغانستان کې ځینې په دې عقیده دي چې هیواد یې اشغال سوی او تیری پرې سوی دی.دا چې له انتظاره لیرې خبرې سره مخامخ سوې وه نه پوهیده د عبدالباري په ځواب کې څه ووایي.

دجاوید ورته پام سو او له ماري یې وپوښتل:

–چای څښې که انګور خورې؟

ماري وویل:

– چای.

مریم او زرمینې ژر پخلنځي ته منډه کړه،چې چای تیار کړي،ماري عبدالباري ته وویل:

– تر کومه ځایه چې خبره یم،البته جاوید راته ویلي،تا دشورویانو په وخت کې جبهه لرله او سترګې دې هغه وخت ړندې سوې دي،کولای سې راته ووایې چې هغه وخت دې ولې جګړه کوله؟

عبدالباري ته تیر وختونه وریاد سول،پښې یې را ټولې کړې ،ویې ویل:

– البته ویلای سم،کله چې شورویانو زموږ پر وطن یرغل وکړ،دجوماتونو په ویجاړولو یې شروع وکړه،خلکو به لمونځ پټ کاوو،هغوی زموږ ځمکې دخپل لاس کښینولي دولت په مرسته وویشلې،هغوی په زرګونه ملایان او مشران یا ووژل یابې بندیان کړل،زموږ دودونو او رواجونو ته یې سپکاوی وکړ،دا حالت موږ ته دمنلو وړ نه و،ځکه مو ملاوې وتړلې ترڅو مو چې هغوی له خپل وطنه ونه شړل ارام نه کښیناستو.

ماري چې دا خبرې واوریدلې یوڅه ارامه سوه،ویې ویل:

– که څه هم زه یوه ډاکتره یم،په پوځي او سیاسي مسلو دومره نه پوهیږم، خو دا دری میاشتې چې په کندهار کې یم ما د نړیوالې ټولنې له خوا داسې عملونه چې ستا په وینا شورویانو به کول نه دي،لیدلي،دلته څلویښت هیوادونه راغلي دي،دبشر تاریخ داسې څه په یاد نه لري چې څلویښتو هیوادونو دې په ګډه یوه هیواد اشغال کړی وي. که یو هیواد وای بیا ستا اندیښنه پر ځای وه، دغه هیوادونه دشوروي برخلاف له تاسې سره مرسته کوي،څو خپل هیواد آباد کړئ،هغوی په دې اتو کلونو کې له تاسې سره دسړکونو،کلنیکونو ،ښوونځیو او کلیو په جوړولو کې مرسته کړې ده او ډیرې پیسې یې ولګولې،تاسې باید له دغو نړیوالو مرستو څخه ښه ګټه واخلئ،کاناډا او دا نور هیوادونه خو به تل دلته نه وي دوی به خپلو هیوادونو ته ولاړسي او تاسې به ښه چانس له لاسه ورکړئ.

ستاسې دغه چانس ستا دسترګو دعملیاتو دغه چانس ته ډیر ورته دی،که زه ولاړم نور نو بله ماري نسته چې پنجوایي ته راسي او ستا دبینا کیدو لپاره درته زاری وکړي،پوهیږې ما پر ځان خطرونه ومنل او تاته راغلم،سره له دې چې ماته اجازه نه وه چې له پوځي آډې راووزم،خو دادی لکه څنګه چې وینې خطر مې ومانه او دې سیمې ته راغلم،چې هره شیبه کیدای سي طالبان مې ونیسي او مړه مې کړي،ته یوازې په سترګو نا بینا نه یې بلکې واقعیتونه هم نه سې لیدلی.

عبدالباري دماري خبرو په قهر کړ،لاسونه یې ولړزیدل نابېره یې په لوړ آواز زرمینې ته ژغ کړ،زرمینه په بیړه راغله او دکوټې په وره کې ودریده:

– ها لالا!

عبدالباري ماري ته وویل:

– ته زما دغې خور ته ښه وګوره.

ماري زرمینې ته وکتل،هغه همداسې پسې زیاته کړه:

–یو کال دمخه زمادې خورکۍ کور،کورنۍ،عزت او ژوند درلود،خو اوس ستاسې له برکته هیڅ هم نه لري،تاسې دشپې په تیاره کې دهغوی پر کور بمونه واچول دهغې ټول کور او هستي مو تباه کړه،آیا دا دمرستې نښه ده؟آیا زما خور او دهغې کورنۍ القاعده یا طالبان ول؟ښه هغې ته وګوره!دا بدمرغه ښځه ستاسې دهمکاریو یوه نښه ده،له تروریزم سره ستاسې دجګړې یوه نښه.

ماري چوپ وه او دهغه په ځواب کې یې څه نه ویل، عبدالباري پوښتنه وکړه:

– وایه!ولې چوپ یې؟دبې ګناه خلکو وژلو ته هم مرسته ویل کیږي؟

ماري شمیرلي وویل:

–وګوره عبدالباري زه ستاسې دخور دکورنۍ په وژلو خواشینې یم،څه چې ته وایې بیخي واقعیت دی،زه هم دیوې ډاکټرې په توګه دملکي کسانو پر مرګ ژوبله او آن په افغانستان کې پر جنګ خواشینې یم،دملکي خلکو مرګ ژوبله نه یوازې په افغانستان کې زموږ دشته والي غیر واقعي څیره ترسیموي،بلکې د دښمن دلیکو دپیاوړتیا سبب هم کیږي،خو ته هم دیوه تجربه کار جنګي سړي په توګه دا مه هیروه ،څوک چې جګړه کوي،ځای یې معلوم نه دی او ستاسې په کلیو او بانډو کې دي.

عبدالباري دماري دخبرو په اوریدو سره ورو وویل:

– ته اوس زموږ میلمنه یې، نه غواړم له تا سره دعوه وکړم.

دماري زړه یوڅه ارام سو،په موسکا یې وویل:

– مننه،څنګه چې تا شروع کړه،وډاره سوم داسې نه سي چې ما دنړیوالې ټولنې پر ځای پخپل کور کې محاکمه کړې.

عبدالباري وخندل:

– اوس زمونږ ميلمنه يې او مونږ افغانان په ميلمه پالنه مشهور يو ،تر څو چې زمونږ په کور يا سيمه کې يې چې زمونږ سر هم ولاړ سي،نه پريږدو چې تاته زيان ورسيږي.

ماري ډاډه سوه او شميرلي يې وويل:

– زه په دا څو مياشتو کې ستاسې له رسم و رواج سره يو څه بلده سوې يم،دجاويد له خاطره مې پنجوايي ته دراتلو خطر ومانه،رښتيا ستاسې بڼونه او فصلونه ډير ښکلي دي او ستاسې ختين کورونه مونږ ته دليدو وړ او په زړه پورې دي.

عبدالباري وويل:

– کاشکې کولای مو سوای تا په سيل او چکر بوزو، پوهيږې مونږ په پنجوايي کې زيات دانګورو باغونه لرو، لرلږ انار هم لرو، زړه مې غواړي تا بوزم او دغه باغونه درښکاره کړم، خو افسوس چې ستاسې خارجيانو او هم دخپلو له لاسه ښه ورځ نه لرو.

–ښه هيله ده يوه ورځ داسې راسي،چې ټول په دې پوه سي چې جګړه له ورانيو او بد مرغيو پرته بل څه نه راوړي او تاسې له وخت څخه دخپل وطن دآبادولو لپاره ښه او ډيره ګټه واخلئ.

عبدالباري نابېره وويل:

– زه نه پوهيدم دا زمونږ جاويد ستاسې په ژبه خبرې کوي.

ماري وخندل ويې ويل:

–ستاسې نوي نسل ډير پرمختګ کړی،خو ته يې ليدی نه سې.

جاويد چې تر اوسه ترجمه کوله،خپل پلار ته وويل:

– ماري ډيره ښه او مهربانه ښځه ده،هغه مه مايوسه کوه!

ماري خپل چای څښلی و،او دکوټې دمنځ غالۍ ته يې کتل،څو شيبې دغالۍ انځورونو ته ځير سوه،وروسته يې له عبدالباري وپوښتل:

–تاسې ډيرې ښکلې غالۍ لرې،په کندهار کې اوبدل سوې؟

عبدالباري وويل:

– يه، په کندهار کې کمې اوبدل کيږي،دغه غالۍ ترکمنۍ دي او له اندخوی څخه راوړل سوې دي.

ماري چې نه پوهيده اندخوی چيرته دی،وېې ويل:

–دغه غالۍ لکه پنجوايي داسې ښکلې ده.

هغې پسې زياته کړه:

– اوس به ولاړ سو په اډه کې به زموږ همکاران په انديښنه کې وي او ته دخپلو سترګو دعملياتو په باره کې ښه فکر وکړه،هيله ده له افغانستانه زما تر تلو دمخه پريکړه وکړې.

عبدالباري له خپلې امساسره پورته سو، ماري هم خپله څادري راواخيسته په خندا يې وويل:

– افسوس ليدلی نه سې ،کاناډايي ميرمن له افغاني څادري سره دليدلو وړده!

ټولو تر دروازې پورې خندل،دخدای پاماني په وخت عبدالباري جاويد ته وويل:

– زويه احتياط کوه ماري روغه رمټه ورسوه.

دسراچه موټرو په ليدو دماري په سر او ملادرد سو،دموټر ټکانونه او خامه سړک يې ورياد سو، غوښتل يې جاويد ته ووايي چې نور نه غواړي دموټر په شاتنۍ برخه کې کيني،خو دلته لکه چې هغو ښځو ته چې له ترانسپورت څخه ګټه اخلي قانون جوړ سوی وي، چلونکي چې هغه وليدله دموټر دشا دروازه يې خلاصه کړه،دايې په ډاله کې کښينوله.

هغوی بې له کومې پيښې اډې ته ورسيدل،دماري څلور ساعته نشتوالي دهغې همکاران انديښمن کړي ول ،هغوی چې ماري وليده،پوښتنه يې وکړه:

– چيرې تللې وې؟

ماري وويل:

– پنجوايي ته.

دهغې همکارانو په يوه اواز چيغې کړې:

–پنجوايي؟

دې وويل:

– هو دجاويد کورته تللې وم او دهغه دپلار احوال مې واخيست.

– رښتیا وایې؟

– هو، په لاره مې دانګورو او انارو دباغونو ننداره هم وکړه.

یوه جراح ډاکټر وویل:

– زه به دې هم درسره بیولی وم.

ماري وویل:

–ښادري واغونده،چې ځو.

ټولو وخندل،خو ماري له ټولو خطرونو سره چې ورسره مخامخ کیدای سوای پنجوایي ته په تلو او دجاوید له پلار سره له خبرو خوشحاله وه،او هغه یې خپله اتلولي بلله.

## ۲۴

داوود په ښار کې مستري کريم ته ورغی،مستري کريم داوود دا ډير وخت نه و،ليدلی،چای او شيريني يې راوړل ويې ويل:

–خدای دې راوله،څنګه دې خواته؟ډير وخت کيږي،چې ښارته نه وې راغلی.

– چې کار مې نه وي ښار ته نه راځم،دښار ګڼه ګوڼه مې نه خوښيږي.

– څه خبرې وې په کلي کې، عبدالباري ورور مې ښه و؟

– هو ښه و،نه پوهيږم خبر يې که يه،په دې ورځو کې جاويد يوه خارجۍ ډاکټره پيدا کړې ده،چې د عبدالباري سترګې عمليات کړي.څو ورځې مخکې دا ښځه کلي ته راغلې وه،دهغه سترګې يې معاينه کړې،وې ويل چې دسترګو دبينايي امکان يې ډير دی.

مستري کريم له چای څخه سور وکړ ويې ويل:

–څومره ښه ،نوولې ورته ګوري عمليات ولې نه کوي؟

–والله څه ووايم،تاته خو دعبدالباري خوی خصلت مالوم دی،چې پر يوه خبره ودريږي تر اخره پرې ولاړ وي.

د مستري کريم دکان له وسايلو او دموټرو له پرزو ډک و،ځيني دغه پرزې يې پر ديوال راځړولې وې،نورې ددکان په څلورو کنجونو کې پرتې وې،د دکان په هره ګوښه کې دموبلايلو او روغنياتو اثار تر سترګو کيدل،او دتيلو بوی راته.ددروازې خواته پر ګاز بخار ديګ ايښيده او دشوربا بوی راته.

مستري کريم وپوښتل:

– نو عمليات نه کوي؟

–ځکه خو زه راغلم،ماويل دجمعې شپې ته،ته هم راسه ،توريالي او جاويد ته به هم احوال وليږم،چې کلي ته راسي ترڅو چې دا ښځه خپل وطن ته ځي،عبدالباري ته قناعت ورکړو چې خپلې سترګې عمليات کړي .تر څو ،څو ورځې چې ژوندی دی سترګې يې خلاصې وي.

مستري کريم دهغه دوروستۍ خبرې په اوريدو وخندل، وېې ويل:

–که هغه دلته وای ستا ددې کنايي په اوريدو سره يې څو امساوې در هی کولې.

داوود وخندل او هغسې چې دچای پياله يې د ډکولو لپاره هغه ته ورکوله،وويل:

–په خدای ددغه زاړه له امسآ څخه ورځ نه لرم،چې خوله خلاصوم،څو امسآ مې وهي،ښه لږترلږه که دغه دامسا لرګی هم دهغه له لاسه ولويږي ،ما غريب ته لوی خدمت دی.

مستري کريم وويل:

–ته هم که دلرګي امسا نه لري،پر ځای يې تيره ژبه لرې.

داوود په اسويلي وويل:

– څه وکړم،زموږ نور څه دي،موږ دواړه يوځای سره زاړه سوو،په ځوانمردۍ او افتخار مو ژوند وکړ،ديوبل په غم او خوشحالي کې شريک و،موږ که له يوبل سره ټوکې ونه کړو ،څه وکړو؟

په دې وخت کې دمستري کريم شاګرد نږدې راغی ،وېې ويل:

– خليفه پيسې راکړه چې ډوډۍ راوړم.

داوود بې له ځنډه وويل:

–د دريو نورو ډوډيو پيسې هم ورکړه،ترڅو چې مې دا ښوروا نه وي خوړلې چيرې نه ځم.

## ۲۵

دجمعې په ماښام د عبدالباري دکور په چوتره کې ریښتنی جشن و. عبدالباري،داوود،مستري کریم،توریالی او جاوید یو ځای ناست ول،خبرې یې کولې او خندل یې.مریم او زرمینه لږ لیرې پر فرش ناست ول او دهغوی مجلس ته یې غوږ نیولی و،هغوی ته سترګې په لار ول،که څه شی په کار وي، چې ژر یې راوړي.

دوړې میاشت وه،دماښام سړه او ښکلې وږمه چلیده،انار د کوچنیانو دخوراک سوي ول او پخیدو ته نږدې ول،په پنجوایي کې دانګورو باغونه لاش سوي او راټول سوي ول،یوه اندازه سیوریو ته دممیز کیدو لپاره ځړول سوي ول.یوه اندازه دکابل او کندهار په بازارونو کې پلورل سوي او ښوال دځپلو باغونو له حاصلاتو څخه خوشحاله ول،سږکال یې ښه ګټه کړې وه،داوود دمیزان میاشتې ته په تمه و،ترڅو یې انار دمیزان اوبه وخوري،خواږه سي او ښه بازار پیدا کړي،ده پریکړه کړې وه چې دانارو له خرڅلاو وروسته یوه اندازه پیسې عبدالباري ته دعملیاتو لپاره ورکړي،داوود له دې خبر نه و،چې پر دغو عملیاتو پیسې نه لګیږي.

د عبدالباري پر چوتره کيسې او بانډار له ټوکو او خندا سره ډېر وخت روان و،نابېره مستري کريم د عبدالباري دسترګو دعملياتو خبره رابرسيره کړه:

– لالا دخپلو سترګو دعملياتو په باره کې دې څه پريکړه وکړه؟

ټولو عبدالباري ته وکتل او هغه ته غوږ سول چې دهغه ځواب واوري.

– زما خبره يوه ده،عمليات نه کوم.

د عبدالباري دغه خواشينونکی ځواب يې وروستی ونه باله،له دې مخې مستري کريم وويل:

–ګوره لالا!دايو ښه چانس دی چې خارجي ډاکټرې درته برابر کړی او جاويد هم هيله لري چې تا دغې ډاکترې ته ورولي او دسترګو تداوي دې وکړي،دايوه موقع ده له لاسه يې مه ورکوه.

عبدالباري له لږ چوپتيا وروسته وويل:

–هرڅوک پخپل کار ښه پوهيږي،زه د ړانده پاته کيدو لپاره ډېر دليلونه لرم.

چا ونه غوښتل دهغه دلايل واوري،هيچا پوښتنه ونه کړه چې ستا دلايل څه دي،له دغې چوپتيا وروسته مستري کريم وويل:

–ګوره لالا!دغې ډاکټرې ځان په خطر کې واچاوو ستا لپاره کلي ته راغله،هغې نه ته پيژندې ،نه ستاله ژونده خبره وه،جاويد هغه پيدا کړه،کلي ته يې راوسته او له کتلو وروسته يې وويل چې ته هسې دا دومره کلونه ړوند وې،اوس چې ډاکتره پخپله راغلې ده،هغې ته نه ويل دهوښيارانو کار نه دی.

مستري کريم دا وويل او دهغه ځواب ته غوږ سو، عبدالباري څه ونه ويل، په دې توګه يې هغوی پوه کړل چې دده يوه خبره ده.

مستري کريم له ښاره پيسته او بادام راوړي ول،مريم هغه په غابونو کې واچوله او دهر يوه مخې ته يې دچای له پيالو سره کيښودې.داوود چې پوه سو عبدالباري عملياتو ته حاضر نه دی، لاس يې اوږد کړ ،اول يې پياله بيا يې دپيستې او بادامو لوښی دهغه له لاسه چپ کړل.

عبدالباري لږ وروسته خپل لاس دچای او مندکو لپاره اوږد کړ،خو هرڅومره يې چې ولټول څه شی يې پيدا نه کړل ،ټولو د عبدالباري لاس ته چې دپيالي او پيشقاب په لټه و،کتل،ورو ورو يې تر شونډو لاندې خندل.

عبدالباري دنورو دخندا په اوريدو سره د داوود په دسيسه پوه سو،لاس يې څنګ ته يوړ چې امسا راواخلي ،خو امسا يې هم داوود تبنتولې وه.

عبدالباري چې وليدل خالي لاس سوی دی ،سوکه يې پر بالښت تکيه وکړه،تر شونډو لاندې يې وويل:

– زه به له تا خاين سره ګورم!

مستري کريم چې تراوسه يې ننداره کوله،په خندا وويل:

– لالا عبدالباري!هه زما بادام او چای وخوره.

–نوش جان، د داوود سزا به وروسته ورکوم.

داوود ليرې تللی و اوپه داسې حال کې چې د داوود چای او بادام يې خوړل، ويې ويل:

– عمليات مه کوه ستا سزا همدا ده،نن شپه مې ستا چای او مندکې وخوړې،بله پلا دې ډوډۍ هم خورم.

عبدالباري سوکه دچوترې له څنګه يوه څپلکه راواخيسته،د داوود خبرو ته يې غوږ نيولی و،کوښښ يې کاوو دهغه ځای ښه ځان ته معلوم کړي،مريم چې دچوترې له هغې خوا پام سو،په بيړه يې پلار ته وويل:

– بابا جانه احتياط کوه! عبدالباري اکا بوټ ور واخيست.

– داوود ژر دمستري کريم شاته پټ سو،مستري کريم د عبدالباري په لاس کې بوټ ته وکتل چې دويشتو په حال کې و:

– لالا مه مه!چې زما په ککرۍ لګيږي.

مستري کريم دا وويل او په يوټوپ سره يې ځان له چوترې لاندې واچاوو،داوود بې پناه پاته سو.

– خايينه ژغ وکړه چيرې يې؟

داوود په دې وخت کې ټوپ کړل او دتوريالي شاته پټ سو،ويې ويل:

– په خدای لس نمبره ده.

د داوود په دې خبره ټولو وخندل، عبدالباري هم وخندل:

– ډارنه چيرې يې؟

– دتوريالي شاته يم كه جرآت لرې وله!

په زړه پورې منظره وه:څپلكه ديوه ړانده له خوا دويشتو په حال كې وه او ټول دهغه له ډاره په تيښته.

– داووده خايينه څه سوې؟كه غيرت لرې ژغ وكړه.

ټولو خندل او داوود په بيړه خپل ځاى بدلاوو، چې نابيره دروازه خلاصه سوه،اسماعيل انګړ ته رانووت.

توريالى لومړى كس و،چې په اسماعيل يې سترګې ولګيدې،هغه په چيغه وويل:اسماعيل!

سترګې دروازې ته ور واوښتې،د عبدالباري لاسونه ولړزيدل،څپلكه يې له لاسه ولويده،داسماعيل څيره بدله سوې وه.اوس يې ګڼه اوږده ږيره لرله،ژيړبخونه لونګۍ يې پر سر او سپين كالي يې اغوستي ول.توريالي او جاويد اسماعيل ته ور منډه كړه،هغه يې په غيږ كې ونيو ترڅو يې چې كولاى سواى ښكل يې كړ،هغه له هغه وروسته دپلار خواته ورغى او دپلار دلاسونو په ښكلولو سره يې وويل:

– پلاره ښه يې؟

عبدالباري ځواب ورنه كړ،اوښكې يې بهيدې،اسماعيل وروسته دخپل تره مستري كريم او داوود خواته ورغى دهغوى لاسونه يې هم مچ كړل او روغبړ يې سره وكړ.زرمينه نږدې راغلې وه او مريم پخپل ځاى ولاړه وه لړزيدله،اسماعيل دخپلې عمه لاسونه هم مچ كړل،زرمينې ورته وويل:ژوندى اوسې بچيه.

هغه دمريم په خوا چې اوس يې دبدن لړزيدا ټولو احساسوله نه ولاړ او آن ورته ويې هم نه كتل،هغه دترور يا عمه دلاسونو له ښكلولو وروسته دپلار ترڅنګ كيناست.مستري كريم پوښتنه وكړه:

– اسماعيله چيرې وې؟يو وار ترى تم سوې؟

اسماعيل شميرلي وويل:

– كاكا جانه د درسونو لپاره تللى وم.

– ددرس لپاره!چيرې؟

– پاكستان ته.

– عجيبه ده،ولې دې چاته ونه ويل؟

اسماعيل خپلو ورونړو ته تر كتلو وروسته وويل:

– ناببره پیښ سول،ومې نه ویلای سول.

–ښه یو خط مط،څه شی خوبه دې را استول.

– کاکا جانه لیرې ځای وم،شمالي وزیرستان ته تللی وم.

–ښه سوو چې راغلې پلار دې ډیر پریشانه و.

چې دماښام اذان وسو،اسماعیل له پلاره مخکې ولاړسو،اودس یې تازه کړ او پر لمانځه ودریده،ټول داسماعیل په چلند کې لوی بدلون ته متوجه سوي ول، مستري کریم اسماعیل ته سرترپایه په دقت وکتل ،له ځانه سره یې وویل:دغه هلک یو بشپړ طالب سوی دی.

مریم پخلنځي ته ولاړه هماغسې چې لړزیدله د دیګ په پخولو یې پیل وکړ،اسماعیل ټول حیران کړي ول،هغه له یوه شوخ او بې پروا هلک څخه پر یوه سخت مذهبي ځوان بدل سوی و.

له څو پوښتنو او ځوابونو وروسته چې ټول ځوابونه یې اسماعیل لنډ او شمیرلي ورکړي ول یو ځل بیا داسماعیل دپلار دسترګو دعملیاتو خبره رابرسیره سوه .مستري کریم اسماعیل ته ټوله کیسه وکړه،اسماعیل هم په دې خبره خوشحاله سو، وې ویل:

– که دخدای رضا وي هر کار کیدونکی دی.

دهغې شپې ((بانډار)) چې داسماعیل په راتلو سره لا تود سوی و،تر نیمې شپې پورې روان و،دخوب په وخت کې داوود خپل کور ته ولاړ. عبدالباري،مستري کریم او جاوید ته یې پر چوتره توشکې هوارې کړې، توریالی او اسماعیل دخوب لپاره بام ته وختل.کله چې هغه دواړه یوازې سول،توریالي اسماعیل ته وویل:

– له دې برخلیکه چې زه او ته پرې اخته یو ډیر ناراحته او خواشینی یم،کله چې ته دواده په ورځ ورک سوې زه په هرڅه پوه سوم،خو نور ناوخته و،او کار له کاره تیر و،پلار مو او داوود ته له مریمې لیرې کړې او زه یې له مژګان څخه.خو باور وکړه تر اوسه مې له مریمې سره لاس هم نه دی لګیدلی او ټول په داسې حال کې چې پر دې خبره پوه دي او ټولو ته دلمر غوندې څرګنده ده خو دویلو جرآت یې نه لري،ځکه چې دلته چاپیریال همداسې دی ،ټول په خپل عزت او ابرو ویریږي،ټول له دې ویریږي چې داسې نه سي چې یوه ورځ بې آبرو توبې سي او نور دوی ته ګوته ونیسي او په سپکه ورته وګوري.

اسماعیل له هغه وروسته چې دتوریالي خبرې واوریدې،په سړه سینه وویل:

– تیر نور تیر دي،له هغې ورځې چې دمریمې نکاه له تاسره وتړل سوه هغه زما خور ده او ما نور ددې په اړه آن یوه شیبه هم فکر نه دی کړی،هغه وخت چې زه پر مریم مین وم، زما دجهالت وخت و،شیطان مې په وجود کې و،خو اوس ما پر شیطان غلبه کړې او ددې فاني دنیا په باره کې فکر نه کوم،خدای دې هغه تاته مبارکه کړي،زه اوس دوطن په فکر کې یم،چې خارجیانو نیولی دی،زما مقصد د دوی وژل دي.

ددغو خبرو په اوریدو سره دتوریالي دمریم خبره هیره سوه،په حیراني یې خپل ورور ته وویل:

– دې پاکستان له تا څه جوړ کړي؟

اسماعیل ځواب ورنه کړ او سترګې یې پټې کړې.

## ۲۶

سهار چې ټول دسهارنۍ لپاره په دسترخوان راټول سول، پام يې سو چې اسماعيل بيا نسته،هغه دسهار له لمانځه وروسته تللی و.

عبدالباري حمام کړی و او پاک کالي يې اغوستي ول،دسهار له چاى وروسته ټول پخپلو کارونو پسې تلل، خو ترهغه دمخه يې غوښتل پوه سي چې په پاى کې د عبدالباري پريکړه څه ده،له دې مخې مستري کريم له عبدالباري وپوښتل:

– لالا موړ هر يو اوس په يوه خوا ځو،خو تر هغه دمخه غواړو پوه سو چې تا څه پريکړه وکړه؟

عبدالباري وويل:

– راځئ په دسترخوان به خبرې سره وکړو.

ټول ددسترخوان شاوخوا کيناستل،زرمينې سهار وختي تنور کړی و،او د تودې ډوډۍ بوی خوت،د دسترخوان په منځ کې يې د((حسيني)) انګورو ډک پتنوس ايښی و،دشنه چاى له پيالو څخه بخار پورته کيده او په هوا کې ګډېده.

سره له دې چې مستري کريم دخپل ورور له څيرې څخه پوهيده چې عملياتو ته حاضر سوی دی،خو دخپلې پيالې له پورته کولو دمخه يې وغوښتل ډاډه سي چې ګومان يې سم دی که يه،ځکه خو يې يوځل بيا وپوښتل:

– لالا ودې نه ويل چې څه پريکړې مو وکړه؟

عبدالباري چې له دسترخوان څخه يې د ډوډۍ ګوله ور اخيسته وويل:

– داسماعيل له راتلو دمخه مې زړه نه و،چې عمليات وکړم،خو اوس عمليات کوم.

ټول خوشحاله سول او داوود هم چې نوی له خپل کوره راغلی وويل:

– دادی اوس سړی سوې.

عبدالباري پخپله امسا پسې وګرځيده خو هغه يې پيدا نه کړه.مستري کريم وويل:

– څه نن يې لياز(لحاظ) وکړه.

عبدالباري له انګړه دوتو په وخت جاويد ته وويل:

– کولی سو مريمه هم راسره بوزو؟

جاويد وويل:

– ولې نه،چې پايواز هم ولړې لاښه ده.

مريم په بيړه جامې بدلې کړې،ټيکری يې پر سر کړ او له هغوی سره روانه سوه.

کله چې دوی آډې ته ورسيدل دسهار اته نيمې بجې وې او دکار وخت و،ماري د عبدالباري او مريم په ليدو سره له خوشحالي چيغه کړه:

– ای زما خدايه!ځوک وينم،باور مې نه کيږي،ځومره ښه، نن څه ښه ورځ ده.

هغې داوويل او وروسته يې له جاويده وپوښتل:

– نو باالاخره ستا پلار عملياتو ته راضي سو!

– هو هغه نن ومنله.

ماري خپل ورځنی پلان په تلوار راواخيست ، ويې کوت بيا يې وويل:

– ښه ده ،نن ستا دپلار دعملياتو لپاره مناسبه ورځ ده.

ماري په کار پيل وکړ څو شيبې وروسته د عبدالباري دسترګو دعملياتولو لپاره هر څه تيار سول.

عبدالباري اندېښمن و،هغه اوس له رڼايي ويريده او له هغه جهانه يې چې کلونه يې نه و،ليدلی ويره لرله.

کله چې دعملياتو پر تخت څملاست له ماري يې پوښتنه وکړه:

– څه فکر کوې زه به بيرته بينا سم؟

ماري چې دعملياتو دتخت څراغونه سمول ،ويې ويل:

– زه ډيره ډاډه يم او فکر کوم دبينايي ډير چانس لرې.

ماري له هغه وپوښتل:

– ښه له عملياتو وروسته به لومړی کس چې غواړې ووينې هغه به څوک وي؟

عبدالباري ژر ځواب ورکړ: مريم.

– ښه نو دا مريم پر تا ډيره ګرانه ده.

– ټول راباندې ګران دي خو مريمه راته يوه جنتي ناوې ده،هغه دټولې دنيا په اندازه راباندې ګرانه ده.

ماري په خندا وويل:

– هغه به نه ووينې.

عبدالباري په حيراني وپوښتل: ولې؟

–ددې لپاره چې اول به ما وينې،ځکه چې له عملياتو وروسته ستاسترګې زه خلاصوم.

د عبدالباري زړه ارام سو په موسکا يې وويل:

– ته هم يوه مهربانه ښځه يې، ستا ليدل هم ماته ارزښت لري،که زما سترګې جوړې سوې زموږ وعده به داوي چې لومړی تا بيا مريم ووينم.

– سمه ده، حتماً.

ماري پوره يو ساعت د عبدالباري په سترګو کار وکړ او په پای کې يې جاويد ته وويل:کار خلاص سو.

جاويد بې له ځنډه وپوښتل:

– خلاص سو،څنګه و،عمليات؟

– ډېر عالي!هغه څه چې ستا دپلار دليدو خنډ و،ايسته سول.

ماري د عبدالباري سترګې وتړلې او ديوې روغتياپالې په مرسته يې هغه بلې خونې ته يووړ چې استراحت وکړي.

عبدالباري چې پر چپرکټ څملاست له ماري يې پوښتنه وکړه:

–څو ورځې وروسته زما سترګې را خلاصوې؟

–اته ورځې وروسته.

ماري داوويل او روغتيا پالې ته يې هدايت ورکړ چې له غرمې څخه تر يوې اوونۍ پورې عبدالباري ته دخوړلو درمل تطبيق کړي.په دهليز کې يې جاويد ته په خوښۍ وويل:

– پرون ستا لپاره د((جان)) سوغات راورسيده،راځه چې ولاړ سو هغه درکړم.

جاويد دسوغات کارتن واخيست او ماري ته يې وويل: له جان څخه مننه!زه هم غواړم هغه ته ښه افغاني سوغات واستوم.

ماري وخندل:

– که مې کولای سوای يوازې مې انار راسره وړل.

## ۲۷

کله چې ماري جاوید ولید،باور یې نه کیده څه چې ویني واقعیت دې وي.جاوید ړیره خریبلې وه،شین کمیس او رنګ بایللی دورځې موډ کوبای پتلون یې اغوستی و،چې ((جان)) ورته را استولی و،دانارو کارتن یې هم په څنګ کې نیولی و،ماري په هغه د((جان)) ګومان وکړ،هغه ته یې سر ترپښو په دقت وکتل،ویې ویل:

- نن بیخې زما دزوی((جان)) غوندې یې.جاوید په خندا وویل:
- ((جان)) او ((جاوید)) یو دي.دجان او جاوید ترمنځ فقط دومره فرق دی چې یو په کاناډا او بل په افغانستان کې زیږیدلی دی.
- ماري په خوښۍ وویل:
- ډیر ژر مې کار ختمیږي او له ((جاوید)) څخه ((جان)) ته ورځم،ښایي نور هیڅ وخت تا ونه وینم،خو ستا خاطره به مې هیڅ هیره نه سي.

جاوید دانارو کارتن دماري د دفتر په کونج کې کیښود،ویې ویل:

– ماري دا هم انار،سره له دې چې ښه خواږه سوي نه دي،خو خوړل کيږي.ماويل ترڅو چې دلته يې هره ورځ انار راوړم تر څو ښه پرې مړه سې.

ماري وويل:

– حتمآ خو هير دې نه سي،زما دتلو په ورځ يو کارتن خوښ کړي انار راوړه.

جاويد وويل : په سترګو!او پسې زياته يې کړه:

ربښتيا نن دکندهار– پنجوايي سرک پرانستل کيږي.

ماري دجاويد خبره پرې کړه:

– ښه نو ته له ځکه داسې لوکس راغلی يې!

جاويد وخندل ويې ويل:

–دغه سرک هغه کمپنۍ جوړوي چې زما ورور پکې کار کوي،له دې خاطره مې ډيره مينه ده چې دپرانستلو په مراسمو کې يې ګډون وکړم،پوهيږې ستاسې دسرتيرو يوه ډله هم ددغه سرک دپرانيستي مراسمو ته ورځي.

– چې داسې ده زه هم له تاسې سره ځم،غواړم ستاسې دپرمختګ شاهده واوسم.

له غرمې مخکې په لسو بجو ماري،جاويد او دکاناډايي سرتيرو يوه ډله دکندهار– پنجوايي سرک دپرانستلو ځای ته ولاړل،هلته لوی جشن جوړ سوی و.

دسرک په منځ کې پتۍ دپرې کولولپاره چمتو سوې وه،دکريړاچولو ماشينونه او بلدوزرونه دکار پيل ته منتظر ول،دښوونځي نجونې او هلکان دګلونو غونچې په لاس دسړک څنګ ته کتار ولاړ ول او دسيمې مشران او دولتي چارواکي ددغه سرک پرانيستو ته خوشحاله دپتۍ پرې کولو ته او دکارپيل ته منتظر ول.

دتوريالي په لاس کې هغه بروشور و چې دسرک په اړه معلومات پکې ول او هغه يې په خلکو ويشه،کله يې چې جاويد وليد يو يې هغه ته ورکړ او دهغه له راتلو يې منته وکړه.

هغه همداسې بروشور ويشه،چې ناڅاپه يې دخلکو په منځ کې اسماعيل وليد،دهغه په ليدو موسکی سو وې ويل:

– اسماعيله ښه راغلې! هه دا يو بروشور ته هم واخله،دسرک په باره کې معلومات پکې دي. اسماعيل دبروشور داخيستلو لپاره لاس اوږد نه کړ،لا څو ګامه شاته ولاړ.

دتوريالي د اسماعيل اندېښمن او ګډوډ حالت ته پام سو دهغه په سترګو کې يې دتشويش نښې نښانې وليدې،بروشورونه يې يوې خواته کېښودل په بېړه يې ځان هغه ته ور ورساوو،له ګرېوانه يې ونيو هماغسې چې دځان په لورې يې راکښاوو،ويې ويل:

– اسماعيله پر تا څه سوي،ولې داسې وارخطا يې؟

اسماعيل په زاريو وويل:

– ژر له دې ځايه ولاړ سه!

– ولې؟

– ددې خبرو وخت نه دی،ژر ځه!

توريالي په يوه لاس اسماعيل ټينګ ونيو،بل لاس يې دهغه دپټو لاندې يووړ،يوه سو چې دهغه په بدن پورې زيات بمونه او چاوديدونکي توکي تړل سوي دي،په ډېره وارخطايي او ويره يې وويل:

–دخدای په لحاظ دا کار مه کوه،پر جاويد سربېره په لسګونو بې ګناه واړه ماشومان او لويان دلته دي.

اسماعيل په پرې کړو کلماتو وويل:

–ريموټ له بل چا سره دی،ژر له دې ځايه ولاړ سه!

خو نور ناوخته سوي ول،درنه چاودنه وسوه،راټول سوي خلک په يوه شېبه کې ګډوډ سول،وينې،اور او خاورې سره ګډسول.تورلوګي هوا ته پورته سول ،موټرونو هارنونه کول،ماري دچاودنې له امله لس متره لېرې غونډۍ ته غورځول سوې وه،خوشبې ګنګسه وه،نه پوهيده چې څه پېښ سوي دي،سوکه يې سر راجګ کړ،غوږونه يې دپ سوي ول او سترګو يې په لومړيو کې څه نه ليدل.

ورو ورو يې سر راجګ کړ،يوې بلې خواته يې وکتل،دريګ دغونډۍ په خوا کې يې خلک وليدل چې په وينو کې يې لاس او پښې وهل.يو شمير بې حرکته پراته ول،ځينې له خپله ځايه پورته کيدل خو بيرته پر ځمکه لويدل.

دګلانو ګيډۍ نورې نه ليدل کيدې او ماشومان يو پربل باندې لويدلي ول،هغې دپرې سويو لاسو نو او پښو او ټيي کسانو په منځ کې جاويد وليد،چې کوښښ يې کاوو له ځايه راپورته سي،خو بيرته به پر ځمکه لويده.په نظر يې ورغلل چې زوی يې((جان)) له شنه کميس او کاوباۍ پتلون سره په وينو کې لمبيږي.

ماري چیغې کړې او څو ځله یې په ټول قوت((جان)) ژغ کړ او وروسته یې دجاوید په خوا منډه کړه،کله یې چې غوښتل هغه له ځمکې راپورته کړي پام یې سو چې دکیڼ لاس ګوتې یې پرې سوې دي او ښی لاس یې څو ځایه سخت ټپي سوی دی،نو ولې یې درد نه درلود؟ماري فکر وکړ چې ډارونکی خوب ویني.

باور یې نه کیده چې ګوتې دې یې پرې سوې وي او درد دې نه کوي،سترګې یې دجاوید خواته واوښتې،وینو دهغه شین کمیس سور کړی و،او دټپي مرغه غوندې رپیده.ماري په زخمي او وینو لړلو لاسونو جاوید په غیږکې واخیست او دموټرو په لوري یې منډه کړه.یوشمیر موټرونه جوړ پاته ول او روغو سرتیروټپیان په موټرونو کې اچول.ماري او جاوید یې هم موټر ته پورته کړل ، موټر په داسې حال کې چې هارنونه یې وهل د آډې په خوا حرکت وکړ.

دموټر په سیټ کې ماري جاوید په غیږکې نیولی و،هغه ته یې ویل:

–((جانه)) پر تا هیڅ نه کیږي،تا ژغورم،تکړه اوسه!

دجاوید له نس او ټټر څخه وینې روانې وې،په داسې حال کې چې سربې دماري پر اوږو ایښی و،ویل یې:

– مورې!نس مې ډیر درد کوي،دوا راکړه،تریاک نه خورم.

جاوید دغه څو خبرې وکړې او سخت ولړزیده،نور یې دساه اچولو ګرمي دماري پر اوږو خوره نه سوه.

دماري په لاسونو درد سو.

## ۲۸

ددې وخت رارسیدلی چې دعبدالباري سترګې خلاصې سي.سهار وختي دوه روغتیا پالې دهغه خونې ته راغلې ویې ویل چې دهغه سترګې خلاصوي،عبدالباري په قهر هغوی له ځانه لیرې کړې ویې ویل چې مریم او ماري نه وي هیڅوک حق نه لري دهغه سترګو ته لاس ور وړي.ترجمان هم یوبل څوک و. عبدالباري له هغه وپوښتل: جاوید چیرې دی؟

هغه وویل:

–جاوید دیوه کار لپاره کابل ته تللی دی.

–مریمه او ماري چیرې دي؟

– هغوی دلته دي،ښایي ژر ستا لیدو ته راسي.

عبدالباري له لږ چوپتیا وروسته له ترجمان څخه وغوښتل چې مریم او ماري ته دهغه پیغام ورسوي:

– ورسه ماري،مریم او جاوید ته ووایه چې تر څو تاسې نه یاست دعمر تر پایه چاته دا اجازه نه ورکوم،چې سترګې مې خلاصې کړي.

هغه ورځ ماري دعبدالباري دسترګو خلاصولو لپاره رانغله او عبدالباري ډیر په اندیښنه کې و.

دبلې ورځې په سهار دخونې دروازه خلاصه سوه او ماري په داسې حال کې چې لاسونه یې پلستر سوي و،راننوته دهغې له شا مریم په داسې حال کې چې زرمینې تر لاس نیولې وه خونې ته راننوته.

ماري دعبدالباري پښو ته کښیناسته،اوښکې یې تویولې،خبرې یې نه سوای کولای. عبدالباري چې اندیښمن سوی و،ږغ یې وکړ:

– څه سوي ،ولې غلې یې؟

ماري په پرې کړو جملو وویل:

–عبدالباري راغلې یو چې ستا سترګې خلاصې کړو.

عبدالباري دماري له دې لنډې جملې څخه درد او مصیبت احساس کړ،په اندیښنه یې وویل:

–پر تا څه سوي دي؟

– څه نسته،فقط پر لاسونو مې ګرم چای چپه سوی،لاسونه مې وسوځیدل.

– څومره بد،حیف چې دا شفا بخښونکي لاسونه سوځیدلي،ډیر خو به نه وي سوځیدلي؟

ماري ته ژړا ورغله،یوه شیبه یې وژړل،په سلګو یې وویل:

– دی نو عبدالباري!دي!

عبدالباري زړه واچاوو او یو نا پیژندل سوي تشویش یې ټول بدن ونیو،په چپرکټ کې لړ راپورته سو:

– هیله کوم ماته ووایاست چې څه سوي دي.

ماري په نیولي غږ وویل:

– بس میز چپه سو او دتاوده چای چاینکې مې لاسونه را وسوځول،ته اندیښنه مه کوه مخامخ درته ناسته یم،روغتیاپالې ستا سترګې خلاصوي،له پخوانۍ ژمنې سره سم به لومړی ما او بیا مریم ووینې.

روغتیاپالو دعبدالباري سترګې خلاصې کړې،له هغه یې وغوښتل چې ورو ورو خپلې سترګې خلاصې کړي،عبدالباري سوکه خپل باڼه له یوبل څخه جلا کړل،رڼا یې سترګو ته ورغله.

هغه له څو دقیقو وروسته یې دماري سوځیدلې څیره چې مخامخ ورته ناسته وه،ولیدله،فکر یې وکړ کیدای سي دده دسترګو عیب وي چې هغه داسې توره او سوځیدلي ویني،نو ویې ویل:

– سترګې مې ویني خو لا پاکې او صافې نه دي،څه ستونزه لري.

– یه عبدالباري!ستا سترګې نور عیب نه لري،سم وینې،زه سوځیدلې یم،دمرستې او همکاري څیره سوځیدلې ده.

هغې خپل پلستر سوي لاسونه پورته کړل ، ویې ویل:

– عبدالباري ته اوس بینا سوی یې،وګوره!ښه وګوره،ستا سترګې اوس لیدای سي. عبدالباري ښه ما ووینه او وګوره چې زه سوځیدلې یم.دیوه لاس ګوتې مې پرې سوې او دابل لاس مې سخت زخمي دی. عبدالباري! ته له دې وروسته دخپل وطن واقعیتونه په خلاصو سترګو لیدای سې،ته نور بینا یې،امسا ته اړتیا نه لرې،ته اوس دځانمرګي،دسرک دغاړې دبم او جهاد فرق سره کولای سې او تاته دلارې او څاه توپیر کول آسانه سوي دي.

ماري له لږ چوپتیا وروسته وویل:

– مورې دیوه سرک دکار دپیل کولو لپاره تللي و،خو پرې یې نه ښودل،نه یې پریښودل چې تاسې دارام ژوند خاوندان سئ،هغوی ټول په خاورو وینو ولړل.

ژړا وخت ور نه کړ،ماري خپل پلستر سوي لاسونه مخ ته ونیول،په ژړا یې پیل وکړ.

دعبدالباري نوې بینا سترګې په ماري کې وې ،باور یې نه کیده،هغه څه چې وینې او اوري رښتیا دې وي،فکر یې وکړه یو وحشتناک خوب ویني،په ځیر یې ماري ته وکتل،نابېره یې چیغه کړه:

– یه ،یه،دروغ دي!هغه څه چې وینم دروغ دي!زما سترګې ماته درواغ وایي،ته جوړه یې!پر تا هیڅ نه دي سوي.

ماري لاسونه له خپل مخ څخه ایسته کړل،اوښکې یې پر سوځیدلو آنګو راماتې وې او شونډې یې لړزیدې:

–عبدالباري!ته حق لرې پر هغه څه چې ویني یې،باور ونه کړې،داشل کاله ته ړوند وې،زه تا درک کولای سم.

عبدالباري لږلږ پخپل بینا کیدو باوري سو،متوجه سو څه چې ویني او اوري رښتیا دي،چیغې یې کړې فریاد یې وکړ او له خدایه یې وغوښتل چې بیرته یې ړوند کړي:

– ماري!زه څه وینم؟څه اورم؟ یه،یه دا رښتیا نه دي،درواغ دي،باور مې نه کیږي،نه سم کولای پر هغه څه چې اورم یې او وینم یې باور وکړم!

ماري خپل ځان هیر کړی و،مخامخ ورته یوځوریدلی او بدمرغه سړی ناست و،چې شل کاله یې ژوند او سوکالي نه وه لیدلې او له بینا کیدو وروسته هم له زړه دردونکي مصیبت سره مخامخ سوی و،زړه یې دهغه په حال وسوځیده،ورو یې تر شونډو لاندې وویل:

– زه باید ولاړه سم،نن زموږ الوتکه پرواز لري،زما دنده ختمه سوه.

عبدالباري دزخمي مار غوندې ولړزیده،وروسته یې په لوړ آواز پوښتنه وکړه:

– مریم چیرې ده؟

مریم دزرمینې له خنګه په داسې آواز چې تا به ویل دپیړیو له هغې خوا اوریدل کیږي،وویل:

– دلته یم عبدالباري کاکا،ستا دتخت ترڅنګ.

عبدالباري هغې ته وکتل،مریم سل کاله زړه سوې وه.